کابل

ادبی، تاریخی او اجتماعی

Aug. - Sep. 61

2 - JUN 22
Copy ____ 1962

۱۳٤۰

پرله پسې ګڼه ۵۰۳

٦

د عبدالغنی خان په قلم .

د زندان نه د باچاخان پیغام

د سهار باده یو ځل تیر شه د تیرا په غرونو
پور ته چه لاړې دسپین غراود پکتیا په غرونو
د باجوړ دغرو په څوکو ښکته پور ته لاړشه
د هندوکش په لوړ وتړ و د بابا په غرونو
د زندانی بوډ اپیغام هریو پښتون ته وایه
د آزادۍ دلیلی حال مدام مجنون ته وایه
په ټول ولس اوسر در وبا ندې گذر وکړه
سر گیر لاړ نشی گوره ښه ورته نظر وکړه
دپوه قاصد غوندې یوښه د خوند سفرو کړه
گوره چالاکه ځه د باد غوندې وزرو کړه
دپښتونخوا ځلمو ته و وایه سلام زما
پس له سلامه ور ته وایه د اپیغام زما
زه په زندان کښې یمه پروت خوآزادی غواړمه
د اسارت ژوند راته عار دی خپلو اکی غواړمه
زه هم انسان یم دنړۍ سره سیالی غواړمه
د دې عالی هدف له پاره ننگیالی غواړمه
دکام پرستو ځلمو ننگ ته انتظاریمه زه
څه باك یې نه شته که بندی یم که په داریمه زه
ما مال اوسر دی وقف کړی دخپل کام دپاره
ترڅو چه پایم کار به کړم ملی قیام دپاره
توره په لاس به ځم میدان ته انتقام د پاره
ځان به قربان کړم دوطن داحترام دپاره
په سپینه زیره به د جیل تورې تیاری ته ځمه
جیل خولا څه کړې چه به دارا وغرغرې ته ځمه
د آزادي په لار چه مړه شوا فتحار به گټو
قیمت دوینو به پرې ورکړو اقتدار به گټو
خزان به اري له وطنه کړو بهار به گټو
مونږ پښتانه یو خپل اصلی ملی شعار به گټو
هلی ر اپورته شی ظالم را به عزت اخلی
هم دپښتو او پښتو نوالی شرافت اخلی
په باجوړ کښې ظالمانو کربلا جوړه کړه
به کونډ ورنډ ویې هرکور کښې واویلا جوړه کړه
دخدای په کور یې د بمونو در زها جوړه کړه
دغازی کوټ په پاك لمنو یې غوغا جوړه کړه
(غنی) راپور ته شه وطن له پاره سرور کړه
دد ښمن توری ته دډال په ځای ټټر ورکړه

کابل

وږی (۱۳٤۰ش) کال د (۱۳۸۱ ق) کال د (۱۹٦۱ ع) کال اگست او ستمبر

ادبي ، تاریخي او اجتماعي

امتیاز	:	د پښتو ټولنې
د پښتو ټولنې مشر	:	گل پاچا الفت
مسئول مدیر	:	محمد حسن کاکړ
د تیلفون لمبر	:	۲۱۲۹۱
پته	:	شېر علی خان واټ نوی ښار ، کابل افغانستان

په دې ګڼه کښې

شمېر	لیک	لیکوال	مخ
۱	پښتونستان...	محمدحسن کاکړ	۱
۲	دپښتونستان مشاعره	دځینومعاصروشاعرانو لهخوا	٦
۳	دخان عبد الغفار خان تقریر	. . .	۲۸
٤	دښاغلی کوثر غوریاخیل تقریر	. .	۳۱
٥	نوې ژبې وهنه او...	حبیب الله تبزي	۳٤
٦	شخصیت	عبد الخالق واسعی	٤۰
۷	دافغانستان دختیځواو..	عزیز کاکړ	٤۱
۸	په شعری نړی کښې ...	سیدال شاه	٥۰
۹	دفلسفی ماهیت	دحفیظ الله امین ترجمه	٥٥

داشتراك بیه

(په افغانی)

په کابل کښې	۴۰
دهېواد په نورو برخو کښې	۴٦
زده کوونکو ته نیمه بیه :	
۱- کابل	۲۰
۲- اطراف	۲۳
دباندې ملکو کښې :	٥ امریکایی ډالره
دیوی کښې بیه :	۴

دشپږو میاشتو اشتراك هم منل کېږي

دپښتو ټولنې دجاری حساب لپاره افغانستان بانك

او اطرافي نمایندګیو کښې یې : ۷۱۸۷

داشتراك بیه په ادارد کښې هم اخېستل کېږي

محمد حسن کاکړ

د پښتونستان دورځې په افتخار

پښتونستان

لنډه پیژندنه او یو څو خبرې

لومړنۍ خبرې

هغه خاوره چه د پښتونستان په نامه یادیږی له ډیره قدیمه ودانه ده. له دې امله یې اوسیدونکی هم د پېړیو پېړیو تاریخ لری. د زمانې په اوښتورا اوښتو سره دغه ولس خپل هویت ښه مشخص کړی، او بیل کرکټرا و جلا شخصیت یې غوره کړی دی. د دغه شخصیت ټول مشخصات د پښتونستان په درنه کلمه کښې نغښتی. او چه کله دغه کلمه ترغوږه شی ګواکې د یوه ولس ټول خویونه او صفات د سړی په زړه شی.

موقعیت او خلق

پښتونستان داسیا په زړه کښې څه قدر لویدیځ او سویل ته متمایل او له شمال نه جنوب ته اوږد غزیدلی دی. پلنوالی یې لږ دی او چه څو مره له قطب نه سویل ته کیږی پلنوالی یې زیاتیږی مګر لوړوالی یې کمیږی تر څو چه له بحیره عرب سره اړخ لګوی. که شمالی څنډی یعنې د چترال غرونه مثلا د (لاسپور) دغره څوکه یې نزدی (۲۱) زره فټه ده سهیلی څنډی یې د ارتفاع له حیثه صفر ته لویږی. همدغه اختلاف دی چه په آب وهوا کښې یې فرق پیدا کوی او په نباتاتو کښې یې تنوع راولی لمرختو ته یې د پاکستان د کشمیر او پنجاب علاقې دی شمالی څوکې ته یې د هندوکش د سلسلې د سرغرونه دی په شمال غرب او غرب کښې په زیاته برخه له افغانستان او یو څه هم له ایران سره لګیږی. جنوب ته یې د عرب بحیره ده. څنګه چه د برتانیې له استعماری دوران نه وروسته دغه هیواد په سیاسی لحاظ د خپل جوړښت په لومړنیو پړاوونو کښې دی له دې امله یې له ګاونډیو هیوادو سره سرحدی کرښې پوره ټاکلی شوی نه دی مګر د تحدید د پاره یې پښتونستانیان شپه او ورځ لګیا دی مبارزې کوی. څنګه چه پښتونستان قدیمی ملک دی سیمی یې هم ښې مشهورې دی لکه «چترال، سوات، مرکزی پښتونستان (د هزاره، مردان، پیښور، دیره اسمعیل خان کوهاټ او بنو په شمول) جنوبي پښتونستان (بلوچستان) تینول، اباسین، باجوړ، د مومندو علاقه، دیر، تیرا، وزیرستان او کورمه» دغه یې ډیرې مشهورې سیمې دی چه هره یوه یې بیا ځانله وړې برخې لری. په دغو سیمو کښې «اپریدی، سالارزی، ماموند، غلځی، او تمانخیل، دوړ، مسعود وزیر، مومند، خټک، یوسف زی (تر هر قومه زیات) بټنی بلوڅ، بروهی - ترکاڼی - کاکړ - ترین - شنواری - ساپی بنګښ، توری - اڅکزی، او رمړ او داسې نور مهم قامونه اباد دی. هر قوم ځانله پرګنې او خیلونه لری (۱) د پښتونستان خلق تر اوسه سرشماری شوی نه دی مګر داته ملیونو په شاوخوا کښې اټکل کیږی. داسې چه دغه هیواد په لوړه او ژوره او آب وهوا کښې سره توپیر لری دوګړو کثافت یې هم ډیر متفاوت دی مثلا د پیښور په ښار او د شاوخوا نزدی سیمو کښې د نفوسو کثافت په هر مربع کیلو متر کښې له ۷۰۰ - نه تر ۲۰۰۰ پورې دی. په شب قدر (د پیښور شمال ته) له ۲۰۲ - نه تر ۷۰۰ پورې او په دیر او باجوړ او چمن کښې له ۵۱ - نه تر (۲۰۰) پورې او په بنو کښې له ۱۱ - نه تر ۵۰ پورې دی (۲)

د دغه هیواد وګړی له نوی فیصده زیات په پښتو ګړیږی تر پښتو وروسته بلوڅی ژبه ډیره ویله کیږی او په بلوچستان کښې رواج لری. ځینو لویو ښارو لکه پیښاور

(۱) د پښتونستان له کتاب نه د ښاغلی بینوا تالیف، د چاپ کال ۱۳۳۰

(۲) - د اتنوګرافی نقشه، تالیف د اتحاد شوروی د علومو د اکاډمی د اتنوګرافی انسټټوټ، مسکو کال ۱۹۵۶

مردان اوهمداراز دهزارې په ضلع کښې دا نکو ژبه هم شته. اورمړی په کاڼي ګرام کښې داورمړو دطایفی ژبه ده. چترارى ژبه په چترال کښې دهغې سیمی له نورو محلی لهجو (نرستی، کلاشی، دیلی، لټکوی، یرسکی- یاشګلی ګجری) سره متداوله ده. داسې هم تینولی ژبه په تینول کښې له پښتو سره خوا په خوا ژوند کوی.

دپښتونستان په هوارو او منځنیو برخو کښې ټول وګړی مسلمانان او اهل سنت دی. یوازی په (کورمه) کښې (توری) پراته دی. دوی په مذهب شیعه دی او پښتو ګړیږی. په چترال کښې اهل سنت او جماعت شته. کلشی مذهبی خلق هم په کښې میندل کیږی چه دچترال زاړه خلق پرې عقیده لری. مولا یې مذهب داغاخان پیروان دی او اسماعیلیه او باطنیه یې هم بولی. داسې هم یو بل مذهب دبا شکلی په نامه شته چه دنورستان یو زوړ مذهب دی (۳) په پښتونستان کښې دین دعقیدې شکل لری او پښتانه دخپل ژوند ټولې چارې دپښتنولی په اساس فیصله کوی. پښتنولی دد وی هغه لرغونی رسم دی چه ددغه ساهوولس دا خلاقو حقوقو، ذهنیت اودقومونو او افرادو دذات البینی مناسباتو منعکس کوونکی دی.

په قانونی او حقوقی لحاظ دپښتنولی مهم عناصر دادی، جرګه -مرکه- توره- ناموس- تیږه- ګوند- بدل- چیغه برمته- بدرګه- یرغمل- پور- ننواتې- پلو- روغه- سورلاسی او ادسې نوړ چه هر یو یې ځانله تشریحات غواړی او ددې وړې لیکنې کار نه دی.

دډیورنډ کرښه

انګلیسانو لومړی پښتونستان له خپل ابایی او اصلی هیواد (افغانستان) نه په زور بیل کړ او په یوه خارجی هیواد یعنې هندپورې یې تړلی وښود. افغانستان له هغه ابتدا نه دخپل تمامیت دپاره کوښښو نه وکړل او ددغه منظور دپاره یې دانګلیس له قهار دولت سره له جګړو او جنګونه هم لاس وانه خیست. دانګلیسانو دوه مسلح تجاوزونه په (۱۸٤۸) او (۱۸۷۸) کښې ددغه حقیقت شاهدی ورکوی. دانګلیسانو له دوهم تجاوزنه ړ و مبی افغانستان خپل متصرفات بایلول او دوجود ډیرې برخې یې (دپښتونستان په شمول) له لاسه ورکړې. دانګریزانو په دوهم تجاوز سره یې خپله واکمنی هم نیمګړې شوه خارجی واکمنی ترې انګلیسانو وشوکوله او یو ازې داخلی اختیار ورته پاتې شو. مګر په (۱۸۹۳) کښې انګلیسانو دخپل مقصد دپاره له نیم مستقل افغانستان نه دمستقل افغانستان په حیث کار واخیست او دډیورنډ کرښه یې داوسنی افغانستان په شرقی سرحد اتو کښې دپښتنو په قومو کښې ایستلی وشمیر له داسی چه مثلاً دیوه قام نیمایی برخه افغانستان ته پاتې شوه او بله برخه یې په برتانوی هندپورې تړلې وښوده شوه. تړون په کابل کښې دډیورنډ او امیر عبدالرحمن خان ترمینځ وشو مګر دهغو سیمو خلق له تړون نه بیخی خبر نه و و. تر اوسه هم هم ځایی خلق یې حتی نوم نه پیژنی. هغه وخت چه په ۱۹۱۸ کښې دامیر امان الله خان په وخت کښی افغانستان بیخی ازادشو دغه تړون خپل حقوقی ماهیت (که یی لاره) بالکل بایلود - او بیا څه وخت چه انګریزان له هندنه په وتلو مجبور شول د ډیورند معاهده هم قانوناً ورسره لاړه. څنګه چه دامعاهده لااول دکاغذ په مخ منحصره وه او س نو بیخی دارشیف په دوسیو کښی په خپله دتاریخ جزء شوه.

دافغانستان شورا وروسته بیادغه کاغذی معاهده رسماً کلوله کړه او په کاغذ دانی کښې یې واچوله.

دپښتونستان دجوړیدو په هڅه:

پښتونستان - بیشکه چه یو ولس دی. په دغه ولس کښی دملیت ټول عناصر غونډدی، دغه حقیقت موافق او مخالف او دوست ود ښمن او حتی پاکستان هم منی او منکر یې نه شته. یوازی هغه څه چه له دغه ولس نه دولت ساز کړی. واکمنی (ساورنټی SOVEREIGNTY) ده- چه له بده مرغه دا تلسمی پیړی-

(۳) دبورته مطالیو زیاته برخه د ښاغلی بینوا دپښتونستان نومی تالیف له بیلو بیلو پاڼو نه ټول شوی دی.

په ابتدا اود نولسمې پیړۍ په دوران کښې انګلیسانو له هغوی نه سلب کړی اودغه ولس یې تری محروم کړی و. مګر پښتانه دخپلې دغې واکمنۍ دا ستر داد دیا ره همیش له انګریزانو سره په جګړه وو - له چترال نه واخله ان دبلوچستان پوری په ټول ازاد سرحد کښې شامدام دپښتنو او انګریزانو جګړې او نښتې پیښې شوې دی.

«دچترال - جندول - اوباجوړ په علاقو انګریزانو سره دغازی عمراخان جنګونه اود(لکرو) لوی جنګ چه هدی صاحب له خوا شوی و، دډیورنډ دکرښې په خلاف دپښتنو لومړنی اعلان جنګ و - دغه شان په ۱۸۹۸ ع کښې دډیرې - شبقدر غزاچه په ټولو سرحد ونو کښې یې لمن اوزده شوی وه - اوپه ۱۹۱٤ کښې د اکرب د اګې غزا - په ۱۹۳۰ کښې دکړپو اولیکندی غزا په ۳۳ - ۱۹۳۵ کښې دګنداواو نهاکی غزاګانې دټولې دډیورنډ دلین په خلاف ددغه فرضی لین نه هغه خواشوی دی(٤)».

دپښتونستان هغه سیمې چه په انګریزی هند کښې محکومې وی هم تل دازادۍ له شورزوږ نه ډکې وی. دخدایی خدمتګارو ډلې چه مشر یې خان عبدالغفار خان ودکانګرس ډلې او نورو جمعیتونو په ملګر تیادانګریزانو د و تلو دپاره په سختو مبارزو اخته ووخو له دوهم جهانی جنګ نه وروسته یې انګریزان له لوی هند نه وایستل. اوچه څه وخت دبرتانوی هند دویش وخت راغی پښتانه په کلکه ودریدل اودازاداوسیدلو اعلان یې وکړ، مګر دمسلم لیګ اود کانګرس حزبونو اودانګریزانو فیصله داوه چه پښتانه دې باهند غوره کړی اویادې نوې جوړیدونکی پاکستان ومنی. خدایی خدمتګارواو په هغوی کښې خان غفارخان دافیصله نه منله. دوی د پښتنو د پاره د سلف ډیترمنیشن په اساس خپل ملک غوښته اوپه دې ټینګ وو چه له پښتنو نه دې داسې پوښتنه وشی چه هغوی پاکستان غواړی که هنداو که ځانله جلاملک. اوچه ددوی دغه مطالبه ونه منل شوه پښتنو په ریفرندم کښې برخه وا نه خیسته اوپه سلوکښې له پنځوسو نه زیاتو وګړو له ریفرندم سره مقاطعه وکړه. دهند په مقابل کښې نوی پاکستان جوړ شو مګر پښتانه او بلوچ په خپل هوډ ولاړ وو اودځانله پښتونستان په جوړ ولو کښې سره په ټینګه ودریدل. نوی پاکستان ددوی دحقه مطالبې په مقابل کښې لامنطق و. ځکه یې ځو اب په استد لال ورنکړای شو. له زور او قوت نه یې کارواخیست اوپښتانه او بلوچ مبارزین یې په جبلو نو کښې وغورځول آن تردې چه دبندیانو شمیر یې دولس زرو تنو ته ورسوه. سره ددی هم پښتونستانیان په خپلې مطالبې ټینګ و. دهند دویش په وخت کښې افغانستان نوی تاسیس شوی پاکستان ته دپښتنو دسر نوشت په باره کښې ددوی دحقوقو غوښتنه وکړه. نورځونه شول خو دومره وعده ورکړې شوه چه دازادسرحد دپښتنو ازادۍ به خوندې وی.

تازه پیښې او نوې مرحله

دپښتونستان خلقود ۱۹٤۷ نه تردې د مه پورې دپښتونستان دتشکیل دپاره دپاکستان په مقابل کښې منظمې اودرنې مبارزې په مخ بیولې اوهیڅ وخت هم کرار اوغلی ناست نه دی. په دې لاره کښې یې ډیر تاوانونه وګالل اوډیر شاه زلمیان اوازادیخواهان یې په قربانی ورکړل. دچارسدې قتل عام یې یو ښکاره مثال و. خودومره وه چه دخدایی خدمتګارو ډله په عدم تشدد ټینګه وه اوپه دې فکروه چه ګواکې دپاکستان حکومت به له واقع بینی نه کارواخلی اوپوه ورځ به دپښتنو او بلوچ خو سلف ډیترمنیشن ته غاړه کښیږدی. دخدایې خدمتګارو ددلې لویانو به خپل ولس ته همداویلې، خو څوارلس کاله تیرشول اوپاکستان لاهماغې دزور سیاست په مخ بیوه. اخرولس په تنګ شو اوپه خپلو مشرانو یې زوروا چوه چه دیوه واضح حق دتحقق دپاره نورې لارې چارې هم شته. په دې ډول له یوې خوا په محکوم پښتونستان کښې مبارزې شدت ومو نداوله بلې خوا په ازادپښتونستان کښې فعالیت زیات شو. مګر

(٤) نوی ژوند دښاغلی رښتین تألیف مخ (۷۳)

دپاکستان حکومت پهمحکوم پښتونستان کښې په بندلاس پورې کړاوپه آزاد پښتونستان کښې یې پهدیر اوباجوړ ورودانګل. توپونه اوماشین ګڼ یې پرې وچلول اودامریکې دجټ پهطیاروسره یې درانه بمونه پرې وغورځول. ډیرواړه زاړه اوځوانان یې ووژل. پهسوونه کورونه اوزیات شمیر کلي یې ونړول. سره ددې هم مبارزه جاری ده. په ازاد پښتونستان کښې دپاکستان دحکومت پهمقابل یرغلونه او حملې دی او په محکوم پښتونستان کښې د عدم اطاعت تحریك پهشدت روان دی چهدپاچاخان له بندنه وروسته تراوسه قریب شل زره عالم بندیان شول. مجلې او ورځپاڼې یې بندی شوې، جایدادونه اوشته یې ضبط شول داټول بس ددې دپاره چهدپاکستان حکومت د پښتونستان خلك وبیروی اودسلف ډیترمنیشن له حق نه یې محروم کړی. مګر داخام فکر دی. دپښتونستان ولس اوس له مبارزو سره اموخت نیولی. دوی پهمبارزو کښې پاخه شوی او پهمبارزو کښې را هسك شوی دي. همدغه سبب دی چهتش لاسی مګر پهازادی مین پښتونستانیان جیلونه او زندانونه خوښوی، لهمال اوشتو نه تیریږی. سرونه قربانوی مګر له ازادی نه نه تیریږی، دامبارزې به ترهغو کوی څو دازادی ناوی خپله کړی او تلې واکمنی بیر ته دځان کړی.

افغانستان او پښتونستان:

دافغانستان اوپښتونستان خلق پهخپلو کښې سره نه شلیدونکي علایق لری، پهقومیت کښې، پهژبه کښې، پهدین او پهمذهب کښې، پهرسم اورواج کښې، پهکولتور اوتاریخ کښې، دژوندپهچارچلند کښې، اوپهپای کښې پهرڅه کښې، سره یوعالم اشتراکات لری. دوی اوس سرهدیر نزدی دی، یغوالاددوی دغه نزدیکت پهصفر کښې و یعنی دوی اصلا یووواو بیلتون یې سره نه درلود خو یوازې انګلیسان ووچه پهوروستیو دوو پیړیو کښې یې پهدوی کښې دویی راوسته، جعلی اومصنوعی کرښه یې ددوی ترمینځ ایستلې وښوده او دوی یې سره جلا کړل - په دی ډول انګریز انو یو غیر طبیعی کار ته ملاوتړله.

افغانستان د اول سرنه د امیر دوست محمدخان نه تر اوسه دافغانستان د سالمیت او د پښتونستانیو ورونو د حقوقو د خوندی کولودپاره چه څه کوښښونه ونه کړل او څومره تاوانونه او کړاوونه یې ونه کالل. خصوصاً د هندله ویش نهوروسته په دې څوکلو نوکښې یې د هغوی کلك ملاتړوکړ او لالګیادی کوی یې. دافغانستان اینده په پښتونستان تړلې او د پښتونستان تمامیت د افغانستان تمامیت دی - افغانستان به افغانستان نهشی ترڅو پښتونستان - پښتونستان شوی نه وی - له پښتونستانیو سره د افغانستان د خلکو مرسته - یو ازی اخلاقی مرسته او دزړه سوی له امله نهده بلکه دا یو ضرورت دی - او دا داسې یو ضرورت دی چه زمونږ ژوند او موجودیت یې وایی او پرې حکم کوی.

د افغانستان دخلقو له خوا د پښتونستان له خلقو سره مرسته نه کول او یا د پښتونستان له مسئلې نه ډډه کول - داسې وبوله چه ګواکی موږ اساساً له خپل سالمیت او موجودیت نه بی پروایو او دځان په فکر نهیو. دغه وجه ده چه زموږ حکومت د پښتونستان کشالې ته په خورا اهمیت ګوری او د پښتونستان د خلقو په سلف ډیترمنیشن په ټینګه ولاړ دی او په دې عقیده دی چه تر څو دغه کشاله په خپله د پښتونستان د خلقو په خوښه او رایه هوار نه شی - په بل راز کیدای نه شی.

پاکستان دحکومت خطرناك روش

څنګه چه دد یورند کرښه مصنوعی ده - داسې هم پاکستان غیر طبیعی او د مصلحت او سیاست روز مخلوق دی. پاکستان تراوسه سیاسی ثبات او استحکام نه لری - او تل په کښې ناارامی اوشخړې روانې وی، سیاسی ګډوډی او د یوې دلی غورځیدل او د بلې هسکیدل په کښې په کثرت وی.

څوارلس کاله یې د عمروشول - خو تر او سه لا د اساسی قانون څښتن شوی نه دی. داټول دهغو اضدادو منطقی نتیجه ده کو م چه د دغه ملك بنیاد پرې ایښوول شوی دی. او که داسې نه وای باید پاکستان له هندوستان سره اوږه په اوږه روان وای. مګر موږ پوهیږو چه په دغود ووغبر کونو هیوادو کښې اجتماعی نظامونه او سیاسی استحکام سره توپیرلري. او سنی عسکری حکومت د دغه کش و ګیر په لړ کښې اوچت شوی، او لویه تکیه یې په زور او په وسله ده که نن له هغه نه زور او قوت سلب شی - سباته به دغې اوسنی پاکستان نه وی، له دې امله ده چه له یوې خوایې عسکری حکومت دایمی کړی او له بلې خوایې ځان په دوو نظامی اتحاد یو (سیاټو او سنټو) کښې نښلولی دی ، او په محکوم پښتونستان کښې یې هم نورو هیوادو ته د نظامی اډو اجا زه ورکړې او په دې ډول یې پښتونستان او خپل هیواد دشرق اوغرب په سره جکړه کښې رسماً داخل کړی دی . د همدغو اتحاد یو په ډاډ هم د ننه په پاکستان او پښتونستان کښې سیاسی ډلې ډنګو ی -- او مخالفان بند یانوی. اوهم له افغا نستان سره چه د د پښتونستان د خلقو دسلف ډیټر منیشن قوي حامی اود پاکستان دحکومت په اصطلاح ددوی همسایه دی مناسبات قطع کوی. داټول ددې دپاره چه د ولس ذهنیت خارج ته متوجه کړی -- او په دې پلمه چه افغانستان په پښتونستان کښې مداخله کوي - په باجوړ او بر باندی لښکر ی و ر خیژوي او په محکوم پښتونستان کښې په زرو آزا د یخوا هان بند یانو ی او شته او ما لونه یې ترې اخلی . له بلی خوا څنګه چه دپاکستان دحکومت زیاتره اوسنی واکمن یادمارشل لا دحکومت طراحان اصلاً نظامی او عسکری کسان دی او د هیواد په چارو او اداره - څنګه چه دعصر تقا ضاده نه پوهیږی زیار با سی چه نظامی صحنې جوړی کړی ترڅو عسکری ماجرا جویی په کښې وکړی - او خپل نظامی لیاقت په کښې ښکاره کړی. دوی په همدې لړ کښې له افغانستان سره داسې چلند را اخیستی چه که دافغانستان حکومت دهغه په مقا بل کښې لمسوونکی کارونه وکړی - او دوې په د ې ډول افغانستا ن د پاکستان ولس ته متجاوز معرفی کړ ی. په حقیقت کښې دپاکستان دحکومت واکمن له مجاورو هیوا د و او په تیره بیا افغانستان سره قصداً دا سې وضع را اخیستی. داددې دپاره چه د هغوی فشار خپل حکومت ته متوجه کړ ی - او په د ې ډول د خپل هیواد خلق ډیرو درنو کاروته ور کش کړی او داسی حال جوړ کړی چه له ولس نه عسکری او نظامی زور وره قربانی پرې وغواړي. لنډه داچه کش وګیرا وما جرا جویی کول - اوملی او بین المللی مسایلو کښې دزور او قوت استعما اول اوبالخاصه له افغانستان او پښتونستان سره دښمنی چلول - دپاکستان دموجوده نظامی حکومت دداخلی او خارجی سیاست غټ غټ عنوا نونه دی . ډیره مو ده په کار د ه چه د پاکستان د حکو مت واکمن د هیواد چا رې او ادا ره څنګه چه ښا یې هغسی زده کړی - او بین ا لمللی او په هغو کښې له افغانستان سره ذات البینی مسایل د حقوقی موازینو او د عصر د منطق په اسا س حل کړ ی - خوتر هغو به ددوی دزور او ماجرا جویی سیا ست له ډیرو خطرونه ډك وی - چه هغه به په خپله دپاکستان ولس - دپښتونستان خلقو ا و افغانستان ته زیانونه اړوی اوپه دی ډول به ددوي دغه روش په دغه سیمه کښې دنا کراری - سبب کیږی او جها نی امن به په خطر کښې اچوی ،

قیام الدین «خادم»
دپښتو ټولنې له خوا

بسم الله الرحمن الرحیم

دپښتونستان مشاعره

نن دپښتونستان دیاد ګېرنې کالنۍ ورځ تېره شوه . وړمه ورځ دافغانستان داستقلال داسترداد دجشن وروستنۍ ورځ وه. دادواړه تقریبونه ځکه خوا په خوا او یوځای منل کېږي - چه افغانستان اوپښتونستان، دیو ډرام دوه صحنې ، دیو تاریخ دوه بابه دیو پلار دزامنو دوه کوره ، دیو بدن دوه لاسه- اوپه آخره کښې دیوې معنی دوه تعبیرونه دی. -- دا دواړه یود بل تکمیلو ونکی او پوره کوونکی دی . هماغسی چه پامیر اوهندو کش یوه لړۍ جوړه کړې ،او هماغسی چه کابل اوا باسیندیوه مجراغوره کړی ، -- او هماغسی چه زمونږ د هیواد بلبلې او توتکی اوړی دلته اوژمی هلته تېر وی -- او هماغسی چه دا ولسونه د زرګونو کالو تاریخ ، ژبې موسیقی ،ګډوروایاتو اوشریك ثقافت په یوه کلکه رسۍ او عروة الوثقی تړلی دی، نواوس به یې کوم طاقت کوم قوت،اوکوم قسم استعماروشوکوی اوبېل به یې کړي ؟-؛ سږ کال د پښتونستان په تاریخ کښې ځانته شان او جدا حیثیت لری .- په سږ کال کښې د پاکستان دحکومت پټه شبیه اوتاوه کړی مشاده ، پوره ښکاره شوه .هغه پردې او هغه داو ټونه چه د پاکستان حکومت په خپل مخ په یوه رنګ او بل رنګ اچولی وو ، هغه ورنه پښتونستانو مجاهدینو لرې کړه -- او څرګنده شوه چه په دی ډولی کښې مهیب دیوناست و چه دښاپېریو کالی یې اغوستی وو هر کله چه نور ټول طلسمو نه مات شول ، نو دغه دیو خپله منحوسه کریهه اوډاروونکې څېره ښکاره کړه .-- نوپه سپین میدان ددیوانو او ښاپېرو ، دحق اود باطل ، داستعمار اوآزادۍ مجادله شروع شوه. -- په دې ډیر خوشحاله یو چه څوارلس کاله پس - له ډیرو خواریونه وروسته ، یو حقیقت په ډاګ شو .---- او په دې ډیر خواشینې یو چه زمونږ په پښتونستانو ورونو د ظلم او استبداد هغه ناتارونه او چپې راغلې ، چه داستعمار تاریخ یې لږ مثالونه ښودلی شی .--- که په دې ډیر خوابدې یو چه د پښتونستان په سپیڅلی سیمه دوهلو ټکولو ، بې آبی او سپکاوی ،قتل اوغارت،سختو بندونو او جایدادونو ضبطولو ، دټوپکو او ماشیندارو ، توپونو او طیارو او ټولو ثقیلو اوناریه و سلو سخت او تباه کوونکی امتحان راغی ؛ -- خوپه دې ډیر افتخار کوو چه پښتنی ننګ او غیرت، پښتو اومیړانه هم دغرونو په شان مقاومت کوی .-- او سر به ټیټ نکړی چه څو دکبر کاسه نسکوره ، اوحق حقدار ته ونه سپارل شی ؛ پښتانه او بلوڅ چه ښځی دې کـه نر ، واړه دی که زاړه ، مامورین دی او که عسا کر- په غره دې او که په سمه - یوخوله، یولاس اویو سوك ګرځېدلی دی . - موږ پوهېږو او یقین لرو چه دا سوك به اوس دپاکستان کبزه خوله سمه کړی که خدای کول - !!!

په دغسی حالاتو - او دخپګان اوخوشحالی په دغسی وخت کښی - دخوف اورجا په دغسی طوفان اود قهر اومینی په دغسی جریان کښی پښتو ټولنه اوکابل رادیو دپښتونستان مشاعره خپرول غواړی . - دا، نور هېڅ نه دی ، خودشعر اوشاعرۍ ، دادب اوقلم ،ضمیر او احساساتو یوه برخه ده - چه په دې لوی ملی اوتاریخی جهاد کښی دپښتونستان دستر اوغیور ملت پښتو اوپښتونولی ته دقلم دخاوند انوله خوا اهدا کېږی . -

غلام جیلانی جلالی

د پښتونستان د ملی ورځې د تلین په ویاړ

ژمی تیریږی بیاهیواد ته نو بهار راځی
ښکلی ګلشن ته بیا بلبل چو ڼی هزار راځی

نجونې هوس کا په اوربل ایږدی د ګلو ګیډی
ځلمی اتڼ ته پسرلی شو وار په وار راځی

په سیل روانې خیبری ملالې نجونې وینم
زا ڼی که پیغلی راو تلیدی قطار راځی

د باجوړو پیغلو پر مخ رنګین خالونه ګورم
په خیال د سرو وینو خالونه لاله زار راځی

دالکه حوری د جنت چه مستانه راد رومی
د سلامی لاس په اوربل مخ په مزار راځی

خال یې له وینو د شهید پاس په تندی ځلیږی
په سترګو هسکه لکه سترګه د سهار راځی

ځوانان ټولیږی هوسیږی بوړی توری په لاس
وا یی راځی په وطن جنګ دی استعمار راځی

✲ ✲ ✲

ای د انصاف نړۍ خبره شه نور توان نه لری
پښتون حلال شو په کودی کښی خو تاوان نلری

تیږی بر بنډ بیرغولاندی خپلی وینی زبیښی
دازادی په خیال که مړشی نور ارمان نلری

دا ظلم وزور دی نن پر هغوا کسیر لیوروان
مړی کفن ژوندی یی زوړ خت پخپل ځان نلری

ملالی نجونی په شپوور ځو جواری نه مو می
سمسوری پیغلی ایبلی پښی کمیس ګریوان نلری

د استعمار په جیلخانو کښی قیدیان نه ځائیږی
زلمی سپین ږیری د خپل ملك حق د پرسان نلری

څوك په میدان و مړل ځوانان څوك جیلخانو کښی ناروغ
مال یې د بل کور یې لیلام اختیار د ځان نلری

ای د بشر په حق خوږ منوای د عدل نړۍ
له ځان خبر کړی د پښتون په حال څه زیان نلری

مځکې د نورو هستی لوټ سوی میری د پښتون
له بی کسی نه یووړی باد خاوری ایری د پښتون

پښتنو پام کړی عزیزانو فرصت ګران راغی
په پښتو نخوا باندی نن پارد امتحان راغی

پریږدی جرګې او مرکې راغونډشی ملاوتړی
له هر یخواد ښمن په ګران پښتونستان راغی

نن باجوړ صبا تیرا، کرمه، مهمند رانیسی
بیا به نو ګوری پروزیرو - پر د امان راغی

وا به وری بله ورځ یرغل دی پر بلو څو باندی
توره معایرده نن د مرګ او ژوند بحران راغی

په سترګو وینی چه مردك پر باجوړ اوریږی
پر وطن جنګ دی پښتنو وخت د میدان راغی

غلیم اړم دی په وچ زور ازاد پښتون ماتوی
د هر پښتون په کورد سرو وینو باران راغی

ژبه کلتور او ازادی د کام خطر کښی وینم
نن چه ډګر د استعمار ته پاکستان راغی

ځکه انګریز د پښتنو د اقتدار و د ښمن
نن پاکستان د قومیت او افتخار دی د ښمن

پښتو پال

سربازی

سر و رکول دخپل و لس دسرداری دپاره د استبداد او استعمار د بربادی دپاره
د حق گټلو او د خپلې آزادی د پاره دننگ ناموس شان وشوکت لپسمانداری دپاره
هغه گران کار دی چه بناغلی ننگیالی یې کوی
د باجوړ ښه ښه ځوان او تور یالی یې کوی

په ځان وژلو کښې ژوند ون دنام وننگ وینمه لوی افتخار دآزادی د پاره جنگ وینمه
ډېر ه شانداره کار نامه په هغه درنگ وینمه چه د مظلوم لاس دظالم په وینو رنگ وینمه
هلته چه ظلم تجاوز فرعونیت وی ولاړ
په مقابل کښې یې همت ننگ وغیرت وی ولاړ

مرګ عالمونه ډېره مړینه افتخار نه دی دهر چا مرگ دشجاعت اوعشق یادگار نه دی
دپتنگ مرگ دمچ مېږی مرگ غوندې خوار نه دی په هیڅ مذهب کښې برابر حلال مردار نه دی
د منصور مرگ به ستایل کیږی په دنیا کښې مدام
په هر نظر کښې به حقیر وی مرگ او ژوند د غلام

په باجوړ باندې راغلې څه بلا وینمه له باجوړ نه جوړه شوې کربلا وینمه
ـه پاک نامه ډېره ناپاکه ناروا وینمه د بل په زور مسته مغروره مار شالا وینمه
د باجوړ په کلی کورکه نن بمونه اوری
د باجوړ یو په مړانه زحمتونه اوری

زمانه زدی په هغه سردا فتخارتاجونه چه یې په سروی رسولی ډېر مشکل کارونه
په ډېرې لویې قربانی کښې پټ دی لوی حقونه خوشې په خوشې هیڅوک نه گټی درانه نومونه
د باجوړ پښتونه! ستانښگ و غیرت ته سلام
تا په ځای کړی نام و ننگ دی دولس او دقام

سلیمان لایق

د آزادۍ وږمه

شپه د خپلواکۍ وه په چمن کښې نڅیدمه زه
مست لکه میخوار وهرې خواته ړنګیدمه زه
لاس مې لګولی و د ستور و په زرۍ تار و
ورو ور و د سپوږمۍ پلواسمان ته ورختمه زه
غلی مې نظر د درد یدلی پښتون لور ته ته
پټ د زړه د ننه کله کله ځوریدمه زه

زړه ته مې په غلاغلا یو غمجن شانی آواز راته
جوش دخوشالۍ کښې مې غوږو ته نوی ساز راته
شپې سره سړی وږمې راوړې بوی د وینوو
ښایی با جوړ څخه خبر دتاخت وتاز راته
ستوری ځلیدل اوشپه روانه وه په ښار باندې
ما ته دا جمل له زړه نه هسې یو آواز راته

اې د آرزوګانو امید و نو او اسرور به
وسپڼه او وسپڼه زما درد و نه وسپڼه
اور مې که لمبه مې که ایره مې که لوګی مې که
وسومه او وسومه زما اور و نه وسپڼه
لیک بندی وینا بندي لیدل او اوریدل بندی
لاس دآزادۍ نه دا چار میخ بند و نه وسپڼه

ځوان یم هو سیبزم ددې لارې قربانی مې که
اور را باندې بل که خومشعل دآزادۍ مې که
شورر اکه وفا و فاراکه مستی راکه ګرمی راکه
سیل دحریت مې که ، قوی او طوفانی مې که
باد مې که بربښنامې که څپه می که دریاب مې که
فخر دجهاد را که ژوندی جاودانی مې که

بې له آزادۍ نه دا ژوندون څه دی جهان څه دی
بیه دتهذیب او د شرف او دوجدان څه دی
توره تر ږمۍ د اسارت چه غوړیدلی وی
هلته فرق د خره او دغوایی او د انسان څه دی
بل که یا څراغ دآزادۍ چه شریف ژوند وکړو
وسوځه یا ما زما د ژوند دغه سامان څه دی

هیلوسر اخیستی زه یې مخ ته دریدې نشم
وینې مې خو ځیبزې په رګو کښې ستنیدی نشم
مټې مې پړ سیبزی د کړیو ما تول غواړي
نو رپه دې ننګینه اسارت کښې اوسیدی نشم
مات که ځنځیر و نه کنه ګډ به محشرونه کړم
بوی د آزادۍ را باندی لګی تمیدی نشم

محمدشاه ارشاد

پښتونستانی ځوانانو ته

اې د تو دې و ینې ځوانانو واورې لږ د ځوانۍ غیرت را و ښو روی
وینې رګو کښې په غور ز نګ راولی جذبه د زړه همت را و ښو روی
پردی کارغان له خپل چمن وشړی
استعماریان له خپل وطن و شړی

☆ ☆ ☆

سبا چه بې کفنه مړه پراته یاست ښه چه کفن په سر میدان ته ور شئی
چه مو په پت قومیت لو بې کیږی ښه چه په پت کښې ګورستان ته لاړ شئی
همت دلا رې کړی رهبر ځوانانو
بیا سره یوشی لراو بر ځوانانو

☆ ☆ ☆

خپل لرغونی صولت را وپا روی یو وار ې بیا تر ملا کړی خپلې تورې
د پیررو ښان شیرشاه دوران ژوندی کړی کړی په دښمنو باندې میندې بورې
بایلو دی پت په بیر ته بیاوګټی
له خپلی خاورې هغه اوداور ټی

☆ ☆ ☆

اې د خو شال اود ایمل ټبره! ستا سی له تیرو داستا نو نه جا رشم
اې د ښا ما ر په شا ن کو ز خیبره ستاله خو ز وتر خو قصو نه جا رشم
ستا هر یو کا ڼی د غیرت نښه ده
ستا د نیکو د شها مت نښه ده

☆ ☆ ☆

په لرو بر پښتو نستان دا باسین ترغاړو د غه ټا ټو بی د پښتو ن بچی دې
دلته د یوې مو ر او لا د ه او سبزې له وزوره ورور بیل کړې بل پردې دې
راځی راځی دا طلسمو نه مات کړو
دا د پر دیو دیو ا لو نه مات کړ و

☆ ☆ ☆

د بل طبیب په تمه مه ا و سیږ ې ځا ن ته ا فسون د مسیحا پیدا کړې
په خپل افسون علاج دځان و کوې خپله د خپل مر ض د وا پیدا کړې
که دې ځان وپیژ اند جهان دستادې
حکم د ځمکې د اسمان دستا د ې

میاعمرری

دا قیامت به وی تر څو

دپښتون، دپلار په خاوره دا قیامت به وی تر څو؟
دپرد وپه لاس جوړ شوی، حکومت به وی تر څو؟

زه به ژاړم دی به ګر ځی په ټټر زما دورو ڼو
په تیر شوو څوارلس کالو کښې تیرې راته چړې شوې
په جهان باندې رڼا شوه خو پښتون باندې لاشپه ده
دکاغذ په کښتی سپوردی اباسیند باندې تیریږی
اې ار نګه ابا سینده اې بولانه! ای سواته !
ای دلوړو غرو دیوانوا ې پیر یا نو ښا پیریانو !
چه په تخت دسلیمان اوس بې نګینه څوك لیده شی
دا کرم د استعمار و نا روا چه یې رواکړ
په ځنځیر دطلسماتو کښی بدری شوه در نه ګیره
را بیا ګله د اغیار و په لاسو بې پته کیږی!
شاهدی لم چه دا خاوره مې دپلا راو دنیکه ده
په مهلت اوفرصتو نو خطرات یو په سل کیږی !
که هر څوك په ژوند کښی خوښ وي خو پښتون باندی قیامت دی
دپښتون په نوم شر میږم چه شکوه او شکایت کړم
دپښتو ژ به ابا کړی قلم نه کاږي نور تور ی
ګوندي بل میړه څوك نشته- په مهمندو اپریدو کښې
سورساعت په پښتون جوړدی - له تیری د پاکستانه
با داری به د بل چا وی مرییتوب به د پښتون وی
دا جهان دورا نید ودی چه پښتو ن پکښې غلام وي

داصحنه داسینما او دا حالت به وی تر څو؟
قصا بی مې شی دوروڼو دا ذلت به وی تر څو؟
د ا تیر ی، او دغه ظلم او خیانت به وی تر څو؟
د طو فا ن په دې موجو نو سیاحت به وی تر څو؟
چه تري تاولکه ښامار شی، داقوت به وی تر څو؟
داهجوم ستاسو په کوردي داجرئت به وي تر څو؟
د غه غلا -دغه داړه اودا سرقت به وی تر څو؟
داکرم- دا استدراج او کرامت به وی تر څو؟
ای ملوکه زرشه پاڅه ندامت به وی تر څو؟
فتح خانه مړ نیه- دا غفلت به وی تر څو ؟
چه شهید ور باندی نشم شهادت به وی تر څو؟
دااسري دافرصتو نه او مهلت به وی تر څو؟
دا کړاو، مصیبتو نه اوز حمت به وی تر څو؟
بی عمله بې اقدامه شکایت به وی تر څو؟
دغه شرم- د غه عیب او خجالت به وی تر څو
چه د کبر جام چپه کا دا نخوت به وی تر څو؟
ای دلوړو غروز مریانو دا ساعت به وی تر څو؟
فیصله په کښې په کارده دا قسمت به وی تر څو؟
دا چپه نظام چپه کړه- کسالت به وی تر څو ؟

دجهان ټولو وګړوته په ډاګ مودا اعلان دی
پاکستان به چرې نشی داهیواد پښتونستان دی

عبدالله بختانی

د آزادی مبارزه

په هو ډ ولاړدی ننګیالی پښتونستان جوړوی- پښتونستان
د ننګ ډګر کښې خپلې ځمکې نه اسمان جوړوی- پښتونستان

ډېر ځنګدن اوډېر مرګونه لوویږونه تېرشول ددوی په سرپه ژوندانه کښې قیامتونه تېرشول
که مظلومان به په تودوشګوژوندی ښخېدل د استعمار تېکه داران به په همدې خو ښېدل
قصه خوانی اوچارسده کښې کربلاجوړه شوه د غریبانو په کورو کښې واوېلا جوړه شوه
اوس پاڅېدلی دغه وران وېجاړ جهان جوړوی - پښتونستان
توره پلاس کښې ننګیالی پښتونستان جوړوی- پښتونستان

که بېرحمی داستعمار په انتها کښې وینو دازادی مبارزه خوا کښې وینو
ډېر قربان شوی داولس دآزادی دپاره ډېر به قربان شی د وطن د خپلوا کی دپاره
قوم پرستان له افتخار سره جېلونو ته ځی دعزت لارې ګڼی ځکه سرو اورونو ته ځی
په خپل همت دخپل وطن سازوسامان جوړوی - پښتونستان
د ننګ ډګر کښې خپلې ځمکې نه اسمان جوړوی- پښتونستان

چه غاړې خلاصې کړې نوغاړو کښې ځنځیر هم منی زجر او سزا ته هرکلی وایی تحقیرهم زغمی
ځی جېلخانو ته ازادی غواړی دقام دپاره ظلمونه گالی دمظلوم اولس ارام د پاره
سرځا روی مال ځاروی ایسا رېدلی نه شی خو استعمار نورپه وطن باندې منلی نه شی
دگران وطن دازادی نام ونشان جوړوی - پښتونستان
اعلان یې کړی ننګیالی پښتونستان جوړوی- پښتونستان

که دظالم له بمبار یونه اورونه بل شی که کلی کور دې مظلوما نو ته اجل اجل شی
داسرې لمبې دظالمانو به مخو نه کړی تور داور لمبه به شی هغه چه وروی د لته اور
دشهیدانو له سرو وینونه گلان به شنه شی د ازادی خوږه وږمه به یې خوره وره شی
چه مجاهد قهرمانان رنګین داستان جوړوی- پښتونستان
د ننګ ډګر کښې خپلې ځمکې نه اسمان جوړوی- پښتونستان

کله چه جوړ پښتونستان شی دپښتون دپاره پښتون فرصت ومومی ښه هوساژوندون دپاره
د شهیدانو وارثان چه انتقام واخلی پخپل اختیار کښې ټول اختیار دملک اوقام واخلی
چه استعمار او ظلم و شړی عزت راولی پښتونستان ته حریت او عدالت راولی
بختانی هلته دې تاریخ ته ښه عنوان جوړوی - پښتونستان
کفن په تخرګ کښې ننګیالی پښتونستان جوړوی - پښتونستان

سید محمد طاهر بینا

د پښتونستان معضله

یو عجیبه کیفیت دی مناسب داوریدلو — د شریف پښتون د نسل د ذلت او غورزولو
دا په څه اوپه کوم جرم پرې منی دنه منلو — چاد څه غرض د پاره د څه ګټې د ګټلو
داڅه وشواوڅه کیږی چه وړنه دی دکولو — قلم اوراخلی ګوګړشی ګوتې سوزی په لیکلو
په ډاګ ووایه چه څه دي حقیقت له ګوته نیسه
چه معنی وي پکښی هغه عبارت له ګوته نیسه

✲ ✲ ✲

دیا رلس څوارلس کاله و شوه چه د ظلم اوربلیږی — د پښتون په کورنی کښی د وحشت وضعه چلیږی
څوک بندیان شوڅوک په دار شوڅوک اوس وینو کښی تپیږی — څوک وسیږي په غارو کښی چه په کوریې اوروریږی
توپ اوټانک او طیاری دی کور اوکلی دی نړیږی — داور سرو بلو لمبو کښې د نینو غوندی تړ کیږی
باجوړ په وینو سوردی پورته شوې اوازې دی
په ژړاورته افق دی سره زخمونه جنازې دی

✲ ✲ ✲

څوک په دار څوک په سولی شوڅوک د جیل تورو تمبو کښې — د ژوند شپې ورځی تیریږی په بی رحمو عذابو کښې
پاکستان ورته ویلی د هر سوال په جوابو کښی — یازموږه غلامان شیء او یاسوزی په لمبو کښی
غواړی داچه تل پراته وی د ذلت په خرابو کښې — خپلواکی غواړی حقدار دی په تماموحسابو کښی
په پښتون اوپه بلوڅو جوړ طوفان د تشدد دی
قتل عام جوړ ه غوغاده یو پریشانه تردد دی

✲ ✲ ✲

که شاعردی که ادیب دی که امی دی که ملادی — سور کفن په سر تړلی لوی امید یی د بقادی
شل ینځلس زره خلک یې نیولی لا لګیا دی — یو خونی خنجر پلاس کښی چه نیولی مار شل لادی
عدالت ګوته په خوله دی انصاف پاتې وار خطادی — حق په سرو سترګو ژړیږی دار وا که ناروا دی
دا پښتون دی په ایشیا کښی دا عمل د پاکستان دی
دا یې کار دی دا بشر دی دا اسلام او دا انسان دی

✲ ✲ ✲

دنیاو الوتا سوراشیء سر ښکاره کړی جیلخانو ته — د ازاد ژوندون دپاره رضا کارو پښتنو ته
غراب و وینی دغاړو لاس وپښو کښی زولنو ته — مال او ملک یې ضبط اولوټ شوغورو کړیء جرمانو ته
د فریب او ظلم دام ته د وحشت جوړو دانو ته — زور او اوریی لګولی د غریبو خیلخانو ته
نه خبرو ته حاضر دی نه درایی اخستو ته
نه د ټول بشر قانون ته نه جرګی د پښتنو ته

✲ ✲ ✲

یو ټو ټه د تکبرده یو مطلق انا نیت دی حق په توپ او ګولوولی جوړ د ښمن د عدالت دی
لنډه داده داسی وایم چه بد خواه د حریت دی لوی خطررا پیدا شوی پښتنو ته اسا رت دی
دجهان په دغه سیمه کښی مسئول دا منیت دی چه دښمن دخپلواکی دی ټول جهان ته ملامت دی
دامتل دی چه د کبر کنډول ډک شی چپه کیږی
دمیږې کمی چه راشی دطیران وزریې کیږی

❋ ❋ ❋

نور بې ساه پوزی ته راغله پښتنو توری بمبل کړې په قومی عزم قتلیږی عقیدې ځان سره مل کړې
اکبری شبغون روان دی میرویس ګوتې په برغل کړې جرګې جوړې په ولس کښې دشیرشاه خوشال ایمل کړې
یا ککری د ظالمو یایی خپلی یکښی دل کړې قربانی ورکوی وینی یی دننګ ناموس بدل کښې
نن دهغه قام اختر دی چه په سروو ینو کښی رغړی
دخپلواکه ژوند په جرم خپلو خاورو باندی مړی

❋ ❋ ❋

خبر دارشه ای د ښمنه چه میدان نشې ګټلې دا خیبر دی چه فرنګ یې په مرغانو دی خوړلی
په ارمان ددغې خاورې خوله په خاورو ډکه تللې نن هماغه شان په یو غبز اتیا لکه کو رو کلی
هر یو سور کفن په سر دی تیغ پلاس کښې راوتلی ابا سین ورنه جوړ شوی په کاله دی ورغلی
بیناداهغه اقدام دی چه ناموس پرې ساتل کیږی
جوړ به خپل پښتونستان کړی استعمار به ناکامیږی

❋ ❋ ❋

محمد عالم اتمان

دوطن د روږ

ابادروږ کړم - ادې نذر دوطن ا یښی یم زامنو وروڼو په رضا دلوی څښتن ایښی یم
کلی کور واړوزه خیرات ددې میهن ایښی یم کام کبیل هم زه صدقه ددې چمن ایښې یم
پښتنی مورزه لویولم - قرباتی دپاره
دازاد ژوند اودوطن دودانی دپاره

✲ ✲ ✲

ځان جارول ترخپل وطن دالویه لارده زموږ د سربښندل پخپل وطن لیله(۱) د پلارده زموږ
په هوډولاړ پخپل هیواد نیکنی چارده زموږ دخپل وطن ترمخ مدا م قرباتی کارده زموږ
دقربانی وینی وطن ته لوی سمو ن راولی
لزادی پټ شریف عزت نوې ژوندون راولی

✲ ✲ ✲

سرمې قربان شه دوطن دپاسبانی په لار کښې مال مې خیرات شه دوطن دودانی په لار کښې
ژوندمې هم جارشه ددې لویې نګرانی په لار کښې هستی مې نیست شه دپښتو دمهمانی په لار کښې
سترګې می ووزه چه په دې لار کښې به ځان سپموم
لیمومی غوڅ شه چه مال شته ځنی یوان سپمو م

✲ ✲ ✲

له هر څه تیریم د پښتو پښتنو لی په ټکی خاص دخپل کام کبیل وطن وطنولی په ټکی
د هر پښتون دورورولی عزیز و لی په ټکی د بلو څا نود وروری او خپلولی په ټکی
دادرواغ نه ده رښتیاوایم دایمان له مخې
دخپل غیرت پښتنولی اودوجدان له مخې

✲ ✲ ✲

ځم ملاتړم اوروانیږم دخپل ورور ننګی ته چه محکومان کړمه ازاداو کلی کور ننګی ته
دوروستوورا ندوسپکو سپورو تورو پور ننګې ته د کو نډورنډ ودژړا اوشرو شور ننګی ته
ځم نه دریږم غچ کسات له غلیمانو ا خلم
خپل توروپورد استعمار له غلا مانو ا خلم

✲ ✲ ✲

پر یږ د م یې نه چه تشه توره نکړ م یایې د سر توره کونډی دلی نسکوره نکړم
دامارشل لا اونارواترې هیره نوره نکړم هم بی کښی دتور خاورو څرمن توره نکړم
پریږدم یې نه چه وروسته وړاندې پی پوره نکړمه
د پښتنو حق ازادی یې یك سره نکړ مه

✲ ✲ ✲

ما پمتیلی ځم نفر ی د ا ستعمارړ نګو م نمت می کړی دی کمپونه د ځونکارړ نګوم
د استعمار لوړه ما نی بالاحصار ړ نګوم پخپله لته زه ځا لی دفر یب کار ړ نګوم
دازادی اعلان مې کړی دی قیام دادی
داستعمار دخاتمی دپاره ګام دادی

(۱) لیله ـ مسلك ـ رویه

قتیل خوږیانی

خدایه!

د ازاد جهان خاوندہ ! دا جهان را پوري اوردی
له خپل کوره خبر نه یم چه دا کوردی او که کوردی؟
د ظالم له لاسه مرمه په بمومي خراب کوردی
ټول جهان کښې قرار ی ده خو زما سیمه کښې شوردی
نادودی را سره کیږی له ژوندونه مې زړه توردی
چه له حق ځنې منکردی دباطلو طرفداردی
داهماغه استعماردی دا هماغه استعماردي

نه می ظلم کړی ربه ! نه می کار کړی خطا دی
زه خپل حق غواړم جهان کښې خو دی وایی نا روادی
په بمو نو وژل کیږی که می زوی که مې بابا دی
نور دې او سې زه دی نه یم دا په کوم قانون روادی
پخپل حق باندې وژل شم دا قانون ربه د چا دی
حقیقت سره د ښمن دی دباطلو سره یاردي
دا هماغه استعماردی دا هماغه استعمار دي

چه د حق اواز کړم پورته زولنې راته شرنګیږی
د خونکار له ډیره ظلمه زمونږ سرې وینی څڅیږی
د ژوند حق لرم انسان یم د بابا ژوند مې یادیږی
هر طرفته په جهان کښې ټول قومونه ازادیږی
خوچه زه داغږ اوچت کړم ظالمان راوپړسیږی
ځینې جیل لره روان کړی اوپه ځینویې بمباردی
دا هماغه استعماری دا هماغه استعماردی

پیدا کړی دې پښتون یم زه ژوندون د پښتون غواړم
غلامی د پښتون مرګ دی ازادی کښې ژوندون غواړم
دا جابر انسان مجبور کړم عدالت او سمون غواړم
جوړ چه خپل پښتونستان کړو قضاوت او قانون غواړم
دا زمونږ مطالبه ده زه هماغه مضمون غواړم
دې زور ګیرته خپل زورښیه زیات ستم کوی خونکاردی
دا هماغه استعماردی دا هماغه استعماردی

با جوړ په وینو سور شو د سالار د فرزندانو
د ملتان جیلونه ډک شوه د خټکو له بچیانو
سر او مال واړه تباه شو د ښاغلو شاه ځلمیانو
بیدله مې ربه واخله په خونکار او ظالمانو
نورمې خلاص کړه لویه خدایه ! له پنجو د خونکارانو
د قتیل لویه څښتنه په پښتون وطن انګار دی
دا هماغه استعماردی دا هماغه استعماردی

سالار زی

وطن ځانګو ډیری په غیبز کښی زنګولی یمه
څوچه ژوندی یم دوطن مینه به هیره نکړم

وطن ځانګو په زنګو لو کښې للوویښن کړم دمور دغیبزې په شان لو بې په کښې کړیدی ما
غبزدوطن او هنګا مو د قا فلو ویښ کړم دننګ غیرت جذبې دځان سره راو ړ یدی ما
دقام ولی مینې په مستوا سو یلو و یښ کړم ځکه په مینه دوطن وینې و ر کړ یدی ما
دغلیم مخ ته پښتون و الی ود ر و لی یمه
وطن ځانګو ډیری په غیبز کښی زنګو لی یمه
هیڅ دوطن د دښمنا نو ځنې و یر ه نکړ م
څه چه ژوندی یم دو طن مینه به هیر ه نکړ م

ویره می نشی په وطن د سرو ما له تیر یم په کلك ایمان کوم جګړې د غلیما نو سر ه
ماته زر بفت خپله خامتادبل د شا له تیر یم غیرت پښتومې جنګوی له د ښمنا نو سره
دبل دکور د عار ضی ښکلا جما له تیر یم سمو ن می نه راځی د قام دبد خواها نو سره
زارد پښتو شم پښتنی مو ر - زنګو لی یمه
وطن ځانګو ډیریې په غیبز کښې زنګولی یمه
ترخه خبره به یو ه د هیچا تیره نکړ م
څوچه ژوندی یم دوطن مینه به هیره نکړ م

ترخه خبر ه د هیچا نه تیر و مه په ځان پښتنی غزم کلك ا یما ن ملی غر و ر لر مه
دخپل واکی او حریت نه به ځان کړمه قربا ن دې کښې ژوندون دغزت پروت دغه منظور لر مه
دازادی دناوې مخ مې دی لید لی رو ښا ن ملی مقا مې پیژ ند لی د ه شعو ر لر مه
صف وقطار کښې د سیالا نو و د ر و لی یمه
وطن ځانګو ډیریې په غیبز کښې زنګولی یمه
دا بې پتی ده چه غلیم تیر د شمشیره نکړم
څوچه ژو ند ی یم دوطن مینه به هیره نکړم

څوك چه په زړه کښې په رښتیا دوطن مینه لری دوینورنګ یې دلیلا د جبین خال ښکاری
چه په رګو کښې پښتنه د غیرت و ینه لـر ی دهرڅه لوړ ورته دقام جاه و جلا ل ښکا ری
چه په دښمن پسې وښکلی توره سپینـه لـر ی ددغې تورې په بریښنا کښې استقلال ښکاری
دغه احساس په هر لنګر و رخیژولـی یـمه
وطن ځانګو ډیریې په غیبز کښې زنګولی یمه
زه سا لار زی به دغه جال چاته برسیره نکړم
څو چه ژوندی یم دوطن مینه به هیره نکړ م

خلیل زی کو نړی

څوك یم؟

دخیبر دسر ځلمی یم د غیرت مجسمه یم زه پښتون زوی د پښتون یم په همت کښې نمونه یم
کام پرست یم بل څه نه یم ددې شمعی پروا نه یم که می سردی که می مال دی ددې خاوری نذرانه یم
زه به سرو مال فدا کړم دوطن په ننګ و نام کښې
دغه حس د قومیت به راژوندي کړمه په کام کښې

✲ ✲ ✲

دغیرت درسونه ماته پښتنی ابی را کړي په خاړ پو څو کښې یې داسې راته هر کله ویلی
زه دې موریم پښتنه یم تازما شو دې خوړلی که دې کام ته خدمت و کړماشو دې دی د ربښلی
که بې ننګ نه شوی بچیه په ریښتنی زوی د پلار شوې
خپلې پی مې د ربڅښلی که په کام باندی نثار شوې

✲ ✲ ✲

دغه یوغ د اسارت به داوږو ځنې ګذار کړم پاجوړ دی که خیبر دی لر او بر به یې ګلزار کړم
پښتانه به پرې اوسیږی ترینه لری به اغیار کړم داحقوق دخپلې مور به کړم په ځای ځان به نثار کړم
پښتنی پیغلی به کیږدی زما په سرو وینو خالونه
ترقیامته خو به نه وی داغمونه کړاوونه

✲ ✲ ✲

زه مجنون دخپلی خاوري دغه خاوره می لیلی ده چه دې زه یمه روزلی هغه ته یې ګران هیواده
آن دسیند ترسیمې پو ری لوټه ګټه دې زماده ته زمونږه یې هیواده ته زمونږه یې هیواده
حوصلې دی تګې شوی ځلمی نور کله صبر یږی
یا به ژوند دازادی کړی یا به خاورې ایری کیږی

✲ ✲ ✲

تا به خلاص کړم له اغزو نه ستاډاګونه به چمن کړم سپیره کاڼی به دې خدایګو ټول لعلونه دیمن کړم
بلبلان به در پکښې وی در نه ورك به زاغ زغن کړم چه جهان در ته حیران شی تا به هغسې وطن کړم
ای جنت صفت وطنه ته زمونږ دژوند بقایې
دبدن مثال زمونږ دی ته زمونږ دپاره سایې

✲ ✲ ✲

ستادا خړی خړی ګټی په سرو دچاور نه کړم ستادا توري کیږدی هم به په قصرو د چاور نه کړم
یو قدم خاوره به هم ستا په دښتو دچاور نه کړم یوه خراړه به دی خدایګو په پجود چاور نه کړم
خلیل زیه داوینا ده په ما ول او په فصا کښې
یا په ژوند دازادی کړو یا به نه یو په دنیا کښې

عبدالمنان دردمند

د پښتنوالی اراده سمه ده

ستا په غور زنګ مې ابا سینده قسم
چه ولولې دی د خیبر ګرمې
مستې چپی د ناګمان او باړی
پښتنې وینی د ځګر ګرمې
په اباز و کښې غزونی تاوده
سینې دی بیا دا شنغر ګرمې
چړاوا ټک ته اشارې کوی دا
چه ارادې شوې د لښکر ګرمې
زیږه ولاړه تاتره ده په ګواښ
اوس روایا تو ته نظر نوی دی
په کجوری کښې تور بیښو نه دی ځوان
خاپښ کې بیاد جګ سنګر نوی دی

✲ ✲ ✲

د چار سدې قتلو نه هیر نه دی
سوربان لا اوس هم دی مورچل د پښتو
په عقرب ډاګ کښې د سرو وینو په یاد
کړ پی کښې بیا وینم منزل د پښتو
په لکنډی او صاحب ګل څلی کښې
غازیانو بیا کړی نکل د پښتو
ګنداو خبر مومند خانې ته ورکړ
پښتونستان غواړي عمل د پښتو
کیمور با ټوار ته تسلی ورکوی
مقاومت دلوې انجام نښه ده
سکندرو به شی زندی د دښمن
چه پنجکوړی یې د پیغام نښه ده

✲ ✲ ✲

با د سمور کښې ګونګوسی د پښتو
دزړه ارمان او ولولې نوی دی
کوټ نارنجی او داګرې په مقام
د جګ اعلان او غلبلې نوی دی
زغ د پامیر بلوچستان تخنوی
په استعمار باندې حملې نوی دی
قصه خوانه بیا پخسیدلی ښکاری
ټکر لړ زیږی زلزلې نوی دی
چه اسویلو کړی اعلان د قیام
په چکدره باندې غازیان ورځی
د بالا کوټ نه تر ګومله پورې
اوس په کمپور رضاکاران ورځی

✲ ✲ ✲

کاټ کلی و نیو ملکنډ ته سنګر
ګرویک تیرا کښې عقیده سمه ده
د سرخاوې او امبیلې سندری
د پښتنی ژوندون وعده سمه ده
درخانی وا بی آدم خانه پاڅه
د پښتنوالی اراده سمه ده
د زولنو شرنګ ته ولاړ دی ځلمی
د انقلاب چیغه توده سمه ده
دمرګ اوجیل نه بی پروادی ځکه
پښتونستان یې د بقا نښه ده
پیغلو ځلمو داسی عزمونه کړی
وطنه ستا د اعتلاء نښه ده

ن ـ حافظ

دخپلواکۍ ناوی

د خپلو اکۍ ناوی بې ننګه خپلو لی نه شی
پې ښکلی مخ ته بې غیرته هسك کتلی نه شی

چه خودسرو ینې پلاس کښې ورته نه کړی پیشکش
تر هغه دا ګلا بی شو ندی ښکلو لی نه شی

چه په دې ورانوشارو پښې پسې تنا کې نه کړی
مجنون د دې لیلا محمل ته رسید ای نه شی

چه نمرودی دماغ خراب نه کړی دماشی په زور
د ابراهیم غوندی له سره اوره و تلی نه شی

شیر ینه خپله کړه فرهاد د کوهکنی په ثبوت
چه څوك یې اوس نوم بې کوهکنه اخیستلی نه شی

په ورین تندی چه دا غزومنت ونه منی څوك
غو ټی د دې ښایسته ګلا نو بو یولی نه شی

رسی و دارته چه د زړه په مینه و نه دانګی
د چاد تو ر و زلفو و ل پلاس نیو لی نه شی

دچاتیری ته چه دزور په خوله ځواب ونه وایی
هغه په هیڅ وخت دخپل حق دعوه کولی نه شی

دپښتنی ابی په غیږ کښی چه لوی شوی نه وی
د تیری توری سر ته لاس و ر ا چولی نه شی

چه کوریې وران مال یې تالا نه شی دمینې په لار
هغه د خپل ملت تعمیر ا با د و لی نه شی

د زمانی په جام یې تل چه ترخه نه وی څکلی
د ژ و ندانه په خو ږ لنیو پو هید لی نه شی

چه د جیلو نو زولنې په پښو و نه شر نګو ی
د ازادۍ په با غ ا و بڼ قد م و هلی نه شی

د سپینو تورو د بر یښنا سره چه نه و ی بلد
د ننګ غیر ت مقا بلې ته درید لی نه شی

چه په مزار د شهید ا نو یې و نه ر پیږ ی
داستقلا ل بیرغ هیڅوك پو رته کو لی نه شی

هو چاچه دغه ټول قبول کړل د هیوا د دپاره
نو بیا په زور ترپنه پرد ی و طن نیو لی نه شی

نن د دې ټو لو مر حلونه پښتا نه تیر شو ل
چه استعما ررو ته له بد ې خو ا کتلی نه شی

د سمندر غوتد ی که لوبی کړم دا وره سره
د ازادۍ جذبه ا حسا س مې سوز ولی نه شی

زه ددې لوړواوخپلواکو غرو پښتون بچی یم
د خپوا کۍ فکر مې هیڅوك را تړ لی نه شی

دا ستعما ر فر عونه پام د ا با سین له څپو
بی پښتنې موسی نه بل څوك تیر ید لی نه شی

که سل کرت ددغه ملك په ګټو شخوند و وهی
دازهر مو ر ې په بد ه ګیډه هضمولی نه شی

دې د پیړ یو ا و عمرونو په ا ز ا د ه سیمه
د پښتون ز و ی د بل بادار ا مر منلی نه شی

هغه ایثار او قربانۍ چه د ې ملت کړې ده
تار یخ شاهد دی ا ستعمار یې پټو لی نه شی

تازه تراوسه دی زموږ په حق توی شوی وینې
دکانی کرښه ده وختونه یې و رانولی نه شی

ماهر قوت د زمانی لر ه شکست و ر کړ ی
خو فولادی عزم زما څوك ما تو لی نه شی

د یرمې ژ ړ لی د ی د خپلو یتیما نو سره
وروسته له دې مې زما نه نور ژ ړولی نه شی

پښتون خپلواکه وخپلواکدی او خپلواکه به وی
د ا ستعمار ناولی جغ په اوږ و وړلی نه شی

دخپلواکۍ ناري په هرلور دد نیا دی پورته
د غلامۍ په ژوند کښې شپې څوك تیرولی نه شی

نسیمه وړه زما له خو اسلام د جیل خونې ته
قید ی ته وایه چه پښتو ن تا هیرو لی نه شی

ستا دزنځیر کړی کړی باندی سو ګندی زما
چه خپل وطن رانه غلیم زیاتی خوړلی نه شی

پا تې په ۲۱ مخ کښې

محمد سید عیسی خیل مومند

د شمالی پښتو نستان

دا ننګ د پښتنوالی دی

حق د آزادۍ د پښتنو خوړلی نشی څوک
مینه د وطن زموږ د زړو ویستلی نشی څوک

مونږ ه لو بېدلی یو د توري او چړو سره
دا ده اراده زموږ د ځوانو او زړو سره

پاکې مقدسې عقیدې، او پوخ ایمان لرو
موږ وطن دوستۍ ورورولی عهد وپیمان لرو

سور بیرغ زمونږ ه د پښتو او آزادۍ نښه
دا دی د پښتون او د بلوڅ د آبادۍ نښه

زغ د انقلاب او هلې ګولې پاریدلی یو
تښته استعماره یو شبخون یو وریدلی یو

جوړ چه کړو آزاد پښتونستان دا اراده زموږ
خپله عقیده چه عملی کړو دا وعده زموږ

مستې جذبې د قربانۍ مو خو ځیدلې دی
ګرمې ولولې او آرزوګانې لړزیدلې دی

مرګ او که زندان وی موږ منلی شو ګیرونه دی
موږ د استعمار جنګ ته نیولی سنګرونه دی

دا زموږ قسم دی او د اننګ د پښتنوالی دی
دا پښتنی ځمکه د اقیام مو دیو والی دی

د ۲۰ مخ پاتی

شی د خیبر له هرې تړې نه د ننګ زغونه
وایی زما په لمن لوی غلام کیدلی نه شی

د تا ترې او د بولان زلمی ویستلې تورې
په ننګ ولاړ دی د چا ظلم قبلولی نه شی

د خپلواکۍ د مینې وینې یې په جوش راغلی
دا ګرمې وینې بې له فتحې سړیدلی نه شی

پښتون بلوچ یوه وروری ده یوه وینه اری
دغه څپانده سیند په ډانګ څوک وچولی نه شی

نن د محکوم پښتونستان بچی بچی پوه دی
د خپلواکۍ د ګټې کار کښې غولیدلی نه شی

د دغې سیمې نر او ښځې قربانۍ د پاره
دی را وتلی هیڅ قوت یې ګرځولی نه شی

د غلام ژوندنه ورته مرګ د خپلواکۍ ښه دی
دغه بې بیانې د پنجاب وینځې کیدلی نه شی

دوی چه څه غواړی خپل وطن ته ازادی غواړی
پښتانه خپل پښتونستان ته خپلواکۍ غواړی

فضل واحد صاحبزاده
الکی چارمنګ باجوړ

پښتنوا له

پښتنو پاڅی ، ځان په قربان کړی ، په خپلې ناوې ځان شهیدان کړی ،
د حسن ږغ یې زیات ترهلا له په انتظار ده ستا پښتنوا له
په ټال کښې زانګی که وی فکرونه چغې وهی که وی ویرونه
په دې سودا کښې چه ځم به چاله په انتظار ده ستا پښتنوا له
د آزادی آزادی شور دی د عاشقانو په جوړ انګور دی
ځان په ستی که تیر شه د ماله په انتظار ده ستا پښتنوا له
د باجوړ په شنکو غرونو څڅیږی وینې له پرهارونو
خدای به یې خلاص که د دې جنجاله په انتظار ده ستا پښتنوا له
پښتنو وکړې ، ټول اتحاد وخت د همت دی ځان کړی ، آزاد
ډیره به ښه شی د اماوتاله په انتظار ده ستا پښتنوا له
صاحبزاده کار و بار پریږده ځان په قربان که خپل سر په کښیږده

تیر شه په تیر شه د سرو ماله
په انتظار ده ستا پښتنوا له

ړنګ خوګیانی

یوه چیغه

ګرت د کوڅیومو ټی موټی له منګل نه وځی
د پښتنو پیغلو ګولی دی له ګوګل نه وځی

کوچنی حلال ځلمیان بمبار دله استعماره ځینې
ګور ی ء رودونه دسرو وینوله برجل نه وځی

دپښتنو بچی تړکیږ ی لکه بټ کښې نیسنې
هسې نینی چه تصو ر یې له ا ټکل نه و ځی

په بوډ ا ګانو ډك جیلونه سر په سرلیده شی
په بمبار دیو دحق خیا ل له تخیل نه و ځی

دحق مر ی بانـد ې پنجې دظا لم ښخې شولې
ځکه چه سر نوی تنه له د ر یـدل نـه وځی

خپله خوخیرخوګنا هګاری مال اوملك ځکه شو
که و ده وکړی پهلوان زوی له اتل نه وځی

مبا رکی درکړم که ستا سو بې وسی وژاړم
که د بې با که استعمار دا بې باکی وژاړم

✲ ✲ ✲

پښتانه پت غواړی لت پت که په سرووینو کښې وی
بې پته ژوندنه خوښه وی که په سرسپینو کښې وی

دادآزاد هیوادبچی آزاد ژوندون خو ښه و ی
دغلامی فکر کو پړ یو د مرئیو-نو کښی وی

نن د بلو څو پښتنو د ا یر غلو نـه ښیی
آزاد آزاد ده آزادی که په سرونو کښې وی

هریو شیر شاه اود ریا خان اوایمل خان لیده شی
اد دنرګس دبوټی خوی او بوی ګلونو کښې وی

هریو موسی دې د دې د هر فرعو نیانو سره
پښتنه و ینه چه دکوم چا په رګونو کښی وی

د پښتنې تورې بر یښناله هرې خو ا لیده شی
څه به طاقت نوردساحر په منترونو کښی وی

مبارکی درکړم که ستا سو بې لاسی وژاړم
که دبې باکه استعمار دابې باکی وژاړم

✲ ✲ ✲

مبا ر زه د ا ستعما د و ر کید و نښه د ه
په پښتنی ننګ د پښتون د او ړ ید ونښه د ه

کله کیدای شی چه موورورو ژنی ارام به اوسو
نن بیا ز مو ږ د ا متحا ن او عقید و نښه ده

د هر پښتو ن غم د بلوڅ او د پښتون غم دی
بیا د و حد ت په یوه لاس د غونډ یدو نښه ده

حق تل غالب دی په هرزور مغلو بیدلی نشی
په پښتنی همت د حق د ا خستو نښه د ه

دا ارادې او عقید ې پښتو نستا ن جوړوی
غیرت غیرت د ی ا ز ا د ی مو د پښتو نښه ده

که خدای کول نواوس به خپل قومی نښان جوړوو
تاریخ شاهد دی سور بیر غ مود نیکو نښه ده

ازادی غواړو بل مرام او بل هد ف نشته دی
ړ نګه از اده ژوند د پت او پت ساتو نښه ده

مبارکی درکړم که ستا-و بې وسی وژاړم
که دبې باکه استعمار دابې باکی و ژاړم

✲ ✲ ✲

محمد هاشم زمان

دامو اعلان دی دملی عهد و پیمان په نامه

ای دپښتون او د بلوڅ پښتونستان وطنه
مونږ ستا په مینه رضاکار یو هر زمان وطنه
ستا هره تړه دپیش قوزو تور بیښونه کوی
ای دګړ نګ او دناوو نو جوړ ودان وطنه
ستا دپامیر څوکې دی بام دازادۍ دعزت
سرمود وکړی یو په تاباندې قربان وطنه
تاریخ شاهد دی حقیقت څوك بدلولی نشی
دالوي قیام دي تا به جوړ کړو په ښه شان وطنه
داستعمار مقابلې ته پارید لی یو مونږ
لکه بریښنا په لوړو څوکو قهر یدلی یو مونږ
مشروعه حق د عدالت او حریت غواړو
ملی یو والی خپل مرکز او خپل حکومت غواړو
د ازادۍ سره بیر غونه اشارې کوي دا
داز ا د ی ناوې د وینو په قیمت غواړو
داعقیدی او ارادې نو ی تعمیر جوړوی
ازادژوندون ملی تشکیل او قومیت غواړو
داستعمار زندۍ چه ماتې کړو عز مونه دادی
دقام بقا مقدسات او خپل عظمت غواړو
رضاکاران یود ازاد پښتونسان په نامه
دامو اعلان دی دملی عهدو پیمان په نامه

عبدالرحیم «ننګیالی» د کندهار
دا حمدشاه بابا دواټ نه

د پښتو نستانی ږغ

ټولو دنیاوالو ته څرګنده دی نسب زما — زوی د پښتانه یم پښتنو اله ده مشرب زما
ولې تجاهل کړې ښه پوهیږی په مطلب زما — لیک دغه نکته ده پرلومړی درس د مکتب زما
شو د ژوند کتات کښې دغه توری منتخب زما
ژوند د غلامی نه قبلوی دین ومذهب زما

✲ ✲ ✲

اې چه د بشر دامن وصلحې ضمانت کوی — اې چه د مشروع حق حصول معاونت کوی
ای چه حق پسنده ځان ګڼی او عدالت کوی — اې چه د تیری او تجاوز څخه نفرت کوی
وګوری د جیټ په طیارو غوښې ټوټې زموږ
ووینی داورانې خرابې سوې کوټې زموږ

✲ ✲ ✲

داچه موږ راته مړی په بټو بیابانو کښې دی — داچه ملک موضبط پښې په ځنځیر او زلونو کښې دی
داچه مشران زموږ قیدیان په جیلخانو کښې دی — داچه ادیبان موبنده خوله په زندانو کښې دی
دغه تظلم په شلم قرن کښې روا بولی ؟
یا که موږ له نسله د بشر ځنې جدا بولی ؟

✲ ✲ ✲

ډیر پخپلو وینو باندې لژنده ځو انان شوله — ډیرې میندې بورې او بې پلاره ماشومان شوله
ډیرې خویندې ژاړی د دوی خپل ورونه ارمان شوله — ډیر بې سرپناه دی چه د دوی کورونه وران شوله
زموږ د دو مره وینو تویولو نتیجه نشته
یا که ستاسی زړو کښې ترحم او عاطفه نشته ؟

✲ ✲ ✲

داسې استبداد وتشدد کله زغملای شو — نه موحوصله را پاته شوې نه کتلای شو
نه ترحمایت لاندې د بل ژوندون منلای شو — موږ خپل سرنوشت ځانته پخپله ښه ټاکلای شو
پریږدی موږ خپل سرته سیل د باز او د باښی وکړی
خدای د پاره یو ځلی د تورو تماشې وکړی

✲ ✲ ✲

پاک ندی ناپاکه یې په پوښ کښې د اسلام وینو — نور موغولوی نشی په لاس کښې ستاسې دام وینو
د له سفاکی په باجوړ کښې قتل عام وینو — څه وکوقانون دیونو ډیر په احترام وینو
موږ یې په بادارلا ځان دوخته پیژندلی دی
موږ د «مکاټن» او د «برنس» نس ورڅیرلی دی

✲ ✲ ✲

دوی په تجاوزمو موروثی مینه خون ریزه شوه دوی په بمباریومو هډونه ریز مریزه شوه
نوره مود صبر کاسه ډکه ولب ریزه شوه زیات کتلای نشوموقع تیره له پرهیزه شوه
تنگه شوه بلکه ترحده زیاته حوصله زموږ
اوس فقط دتوری په خوله کیږي فیصله زموږ

✲ ✲ ✲

دلته پښتنودپلارنیکه نا موس سا تلی دی دلته سکندر دفتو حاتو مخ نیولی دی
دلته دمغولو شهنشاه دوی ځغلولی دی دلته دفرنگ پهلوانا نو سر بایللی دی
دادزمرو کورچه لټوی سربه یې پری کی
بیا به په غضب منگولې دوی په وینوسرې کی

✲ ✲ ✲

نه یې بنگلی نه یې عشرت نه یې شراب غواړو نه دسرټوپی (۱) نه کراچی نه یې پنجاب غواړو
خپل حقه حقوق او آزادی په سم حساب غواړو گورو موږ وتاسو ته اوسپین صفا ځواب غواړو
ډیره نزدې شویده موقع د امتحان زموږ
ښه ده چه معلوم شي نراوښځه پر میدان زموږ

✲ ✲ ✲

موږ دخوشحال خان دننگه ډکه شراره لرو جورد گرگین ته میرویسی غوندې چاره لرو
دورددوران «درردرران» (۲) اونغاره لرو عزم او ثبات د «نادرشاه» ټوله ښکاره لرو
نه ټیټوی «فخرافغان» (۳) چاته په زورسره
لوی کمکی موکړی ډیرې لوبې د سره اورسره

✲ ✲ ✲

زه په استنا داوعنعنا تونو میالی یمه پښت ترپښت شجاع ود لاوره تور یالی یمه
تل پرغلیمانو زه پر خپل حق بریالی یمه ننگ ته دخپل قام ولاړ په نره ننگیالی یمه
ماوهرې پیښې ته ټټر خپل هدف کړی دی
زه پښتونستان غواړمه سرمې وقف کړی دی

✲ ✲ ✲

گران پښتونستانه ستاپه سرباندې قسم کوم عهد په خیبر او ستاپه سره ښکلی پر چم کوم
اوړه دتیراد غروپه څوکودم په دم کوم دا هوډه دکونډ و یتیما نو په ما تم کوم
ستاپر یوه انچ مځکه به سرو مال نظری کمه
ته بله ډیوه زه دی پټن ځان به واری کمه

✲ ✲ ✲

یابه د نړۍ له مخه ورك او محو کیږ مه یابه خپل مرام اوآرزوته و ررسیږ مه
زما ښکلی هیوا ده زه په تا ډیر هوسیږ مه دا زما وعده ده چه تر تابه قربا نیږ مه
هوازه «ننگیالی» لدې پښتوڅه اوښتای نشم
دغه مې ایمان دی له ایمانه تیر یدای نشم

(۱)- مراد له هغې خولی دي چه ښاغلې کنیډی دامریکا جمهوررئیس ومارشال ایوب ته وربخښلې ده .
(۲)- داعلیحضرت احمد شاه بابا مخصوص لقب دی اوهم ددوردوران سره تجنیس شوه .
(۳)- د خان عبدالغفار خان لقب دی .

مجاور احمد «زیار»

د قلم جهاد

سیزمه غلیم په‌خاموشۍ کښې دا و ر غر یمه
اور بلیږی زړه کښې مې‌یوه ټو ټه شر ر یمه
سترګې دا حساس لرم خاوندد لو ی نظر یـمه
زه‌دزمانې دا نقلا ب همیش ر هبر یمـه

زه‌محکوم شاعریم پاریدلې و سو سې لر م
درومم اباسین په‌شان هدف ته تلو سې لر م

قام لره اعلان دی دغه د ود د او سیلو ز ما
شرنګ دزولنومې‌د ی جر س د قا فلو زما
غبزد بیدارۍ دی شور و زو ږ د غلبلو ز ما
ساچلیږی مړوکښې‌په و یښو و لو لو ز ما

څاڅکی دقلم مې‌طوفانونه خو ځو ی گو ره
تند ر دی قیامت‌دی جهانونه خوځوی، گو ره

اورکښې دظلمونوکه سوز یږ مه و یلیږ مه
غم‌دخپلې خاورې دی ایری‌که خاورې کیږ مه
تل‌به یم له‌قام ره په ځا ن نه ز هیر یـږ مه
ژوندمې دې شریك ورسره مرم که‌پاتې کیږ مه

زه که‌ورنه بیل شمه‌خوروح می بیلیدای نه‌شی
تن ځنې دروح اود روح تن‌نه‌رغیدای نه شی

ور که عقیده به هم‌په‌زړو کښې دپښتون نه شی
تخم دنفاق به په‌دې خاوره کښی زرغون‌نه شی
بیرته به‌په شاباندی کاروان‌دنهضت‌ـتون نه‌شی
یخه به‌جذبه د خپلو اکی ملی تړ و ن نه شی

سرې ډولی دهیلوار مانو په مخکښې بیا یمه
تل‌زه‌ورکولارو هو سو نو ته لا ر بنا یمه

دلته ټکیدلې‌دغیرت و ینه رګو نو کښې
د لتـه تخنیدلې ارمانونه ګو ګلو نو کښې
اوس دی‌تودې شوې ارادې په‌سړو زړو نوکښې
پا تې به نورنه‌شی پښتانه په زنځیرو نوکښې

ژر به داکړی داسارت له‌پښو نه‌ماتې کړ ی
نوربه‌دا وطن غلیمه! ستاله مرګه پاتې کړی

څومې‌دغه قوم له‌درانه‌خوبه بید ا ر نه کړ م
څوچه په‌قبرو کښې پښتنې ار واح قرارنه‌کـړم
څوچه غلیمان دخپلې سیمې تارپه تار نه کړم
څوچه نوم نښان له مینځه ورك‌داستعمارنه کړم

زه‌به یم جهاد به‌وی په تو ره د قلم ز ما
جوړ به‌ګړم ازادپښتونستان دادی قسم ز ما

دخان عبدالغفار خان تقریر

داتقریر باچاخان د سبز کال د حمل په اتلسمه د پښتونستان د بنو په جوهات کښې دجمعې د لمانځه نه پس دزرگونو کسانو په ټولنه کښې ورکړی چه له هغه دوه ورځې وروسته دپاکستان د حکومت له خوا گرفتار شو او تر اوه بندی دی .

زما وروڼو ! نن چه زه ستاسو علاقې ته راغلی یم، نو دې دپاره چه زه تاسو سره دخپل قام ولی ورورولی او خپل ولی خبره وکړم، دا ځکه چه تاسو مې قام یاست . وروڼه مې یاست او دیو بابا اولاد یو- زموږ وینه شریکه ده او ستاسو په درد زه او زما په درد تاسو خوږ یږی. زما وروڼو مانن تاسو له درسول کریم یو څو خبرې راوړی دی زموږ رسول کریم نه تپوس وشو چه مسلمان څوک دی؟ نو رسول کریم په جواب کښې وویل چه، مسلمان هغه دی چه د چا دلاسه بل مسلمان ورورته ضرر ونه رسی.

دا دهغه چا خبره ده چه موږ یې په دین یو- نو وروڼو راځی، چه موږ پخپل گریوان کښې سر کښته کړو او وگورو چه موږ دخپل پیغمبر په قول عمل لرو که نه؟؟ نن تاسو پخپله پرې فکر وکړی، چه زموږ نو ورورونه زموږ دلاسه په اور کښې نه دی ولاړ؟ او موږ دپیسې لس لس قتلونه او مرگونه نه کوو؟ دا خبرې رسول کریم موږ ته کړی دی او موږ دهغه په امت کښې یو وروڼو !

که موږ درسول کریم په دې حدیث او وینا عمل کړی وی نو نن به موږ سروهلی بروهلی پولیسو- وکیلانو او افسرانو پسې نه گرځیدو او زموږ ښکلی ژوند او گذران به وه. زه تاسو نه تپوس کوم چه که موږ پرې عمل نه دی کړی نو تاوان دچا وشو؟؟ ما خود رسول کریم یوه خبره کړې ده بله دا چه رسول کریم ویلی دی چه که زما امت ته دهر څه نه زیات دولت او دنیا خوښه شوه نو دهغه دین او دنیا دواړه به خراب شی .

راځی، چه وگورو نن زموږ دا حال دی چه موږ ته چا دوه پیسې وښودلې نو وریسې موږ دخپل قام حق او مذهب هر څه ددې دوه پیسو د پاره په سبند کښې لاهو کوو دا نن چه موږ تباه یو دا ځکه چه موږ دپیسې غرض اخیستی یوه زموږ رسول (ص) وبلی دی، چه غوټ نیم ایمان دوطن او دقام مینه ده. او دې خوا زموږ دا حال دی چه پخپلو کښې دتربگنی، دښمنی او پرې جنبې په وجه مو هر څه هیر کړی دی او دخپل وطن نه هم خبر نه یو.

تاسو ماته ښودلی شی، چه ستاسو کوم ملک دی او په دنیا کښې چیرته ملک لری، که نه؟؟ او که لری، یې نو څه نوم یې دی ؟؟

دا خبرې کومې چه ما تاسو ته وکړې زموږ رسول کریم موږ ته کړې دی . عمل پرې نورو خلکو وکړ نن تاسو دیورپ خلکو ته وگوری- چه هغوی په دې خبرو عمل وکړ په هغوی کښې ورورولی، مینه، محبت او خپلولی او دیو بل په درد درد یدل او دخپل قام سره زښت ډیر اخلاص موجود دی نن تاسو دیورپ خلکو ته دیو کس په مخکښې د دولت کوټې خوډکې کړی ولې هغوی به خپل قام په پیسه نه خرڅوی اسلام دعمل نوم دی موږ خو د اسلام نه اودس- روژی او تسبیح اړوولو او دعاگانو ته ورسیدلو که اسلام د عمل نوم نه وی نو زموږ رسول کریم پخپل عمر کښې څومره تکلیفونه او دیو قسم درې کاله قید نه تیرولو که د تسبیو او درودونو خبرې وی نو دهغوی لمونځ او دعا نه د چا دعا او چته کیدی شوه؟؟ دا دهغوی غاښونه مبارک چه شهیدان شوی وو، نو حلوا یې خوړله څه؟ لنډه دا چه دیورپ خلکو درسول کریم دعمل ژوند اختیار کړ- دهغوی په ملک چه څه آفت راشی نو سړی خو یې پریږده ښځې یې هم ملاتړی همدغه وجه ده چه خدای هغوی ته دومره غیرت ورکړی دی چه دهغوی یو معمولی سړی هم که دلته راشی

دپښتونستان دآزادۍ دمبارزوسپین زیری اومشرپاچاخان

نوستاسو غټ نه غټ اولوی نه لوي سړی هم دهغه سره تش په لاس ورکولو خوشحالیږی او فخر کوی دا ځکه چه په هغوی کښې قامولی اوورور ولی ده هغوی خپل ملك سره مینه لری او موږ دپیسی په فکر کښې ورپسی لګیا یو چه هرڅه موهیر کړی دی دقامولی موداحال دی په هر وخت دخپل تربور دپټې نیولو کوښښ کوو که زموږ یوورور څه جوړ کړی نو په ځای ددې چه موږ دهغه په شا نی څه جوړ کړو هغه جوړهم ورپسې ورانوو خدای موږ ته دجنت په شان ملك راکړی دی او په دې کښې څومره خزانې پټې دی هغه دهیچا په برخه کښې نه دی. تاسو یوې بجلی ته خو وګوری او په سوات کښې خوجواهرات او هیرې هم ختلی دی خولیو نو پښتنو دانن چه تاسو خواریږی نو ځکه چه دملك په ځای مو پیسه خوښه ده که ستاسو ملك خوښ وی اودا ملك چه ددولتو نو نه ډك دی دې سره مومینه لر لی نودانن به تاسو ولی سروهلی بروهلی ګرځیدی اودا جنت نشان ملك چه واك اختیاریې دبل دی ولی؟؟ دا ځکه چه تاسو پخپلو کښې ظالمان یاست ورور ورور نی پخپلو کښې بې اتفاقه یاست.

دا ملك چه خدای تاسو ته در کړی دی او ستاسو نه دی ځکه چه پیسه مو خوښه ده او ملك مو خوښ نه دی او دې ته فکر نه کوی چه ستاسو ملك نه بلو ته فایده رسی. ولی تاسو وزی تبزی بربنډ نهار نهور ګرځی او دا نه کوی چه خپل ملك آباد کړی چه ملك آباد شو تاسو به آباد شی ستاسو بچی به آباد شی او دین او دنیا به مو بنا یسته شی ولی تاسو چه تباه یې نو دخپلې بې اتفاقی او ظلم دوجهی نه یه قرآن کښې راغلی دی چه خدای قامو نه په کفر او په شرك نه دی تباه کړی که داسی وی نو نن به امریکه یورپ او روس د ټولو نه مخکښې تباه شوی وو خو موږ ګورو چه هغوی خو په اسمانو نو کښې ګرزی خدای خو هغه قام تباه کوی چه ظالم شی او پخپلو کښې بې اتفاق شی او ناشکره وی په تاسو خدای فضل کړی و چه د پیر نګی غوندې جابر اولـوی حکومت له غلامی نه یی خلاص کړی وی، په هغوور ځو کښې چه به موږ ګرځید و نو دا زموږ مشرانو په دماغ کښې هم نه راتلل چه پیرنګی به ددی ملك نه ووځی. لویو لویو خانانو، صاحبانو، اومسیا صاحبانو به ویل چه دوی لیونی دی. غر، سره ډغره وهی، او چاغر هم په ډغرود ځایه خوځولی دی؟؟ پیرنګی ددی ملك نه تلی شی. پیر نګی چه ځی نو هاله چه په دې ملك کښې پنځه پاو ه سکه په مځکه پریږدی. ولی تاسو و کتل چه موږ تا سو پسې ګرځیدو او لږ غوندی تاسو ملا وتړله او پرې جنبې مو پرې نبودې نو هغه پیرنګی چه دچا په حکومت کښې لمر نه ډوبید و ستاسو دا تفاق په مخکښې ټینګ نه شو او په ډیره لږه موده کښې موږ خدای د دنیاد لوی حکومت د غلامی نه خلاص کړو خو په ځای ددې چه موږ د خدای شکر کړې وای او پیرنګی چه ویل راځی پښتنو خپل ملك واخلی موږ په ناشکری ګوتې پور ې کړې. تاسو یادې کړی، هغه ورځی په دی ملك کښې یوغوبل وفسادو او خلکو به ویل اسلام دی او پاکستان دی او کومو خلکو چه دا ملك تاسو له ګټلی وقیدو نه یی تیر کړی وو بچی یی قربان کړی وو ګولی یی خوړلی وی او کور ونه یی تالا شوی وو په هغوی ز غ شو وچه هندوان دې او مسلمانان، څوك وو؟ مسلمانان هغه وچه د پلا ر او نیکه نه تالی څټ دانګر یزا نو وو او نوکران یی و و او هغوی تاسو او ستاسو ملك او ستا سو اسلام اوقام په انګریزانو خرڅ کړی و دا دیره لویه ناشکری وه خدای وویل ځی ورك شی تاسو کښې ددی ملك د چلولو اهلیت نشته انګریزان دتلو په وخت کښې موږ پښتنو ته په غصه وو دا ځکه چه په هندوستان کښې لس کروړه مسلمانان وو، خو په دوی کښې نه پنجابی، نه بنګالی او نه سندی دانګریزانو په مخالفت کښې ملاوتړله خو پښتون وچه من حیث القوم کښې د انګریزی حکومت د ختمولو دپاره کوښښ وکړ انګریز په غصه وه، نوده په زړه کښې وویل چه وار وکړی، پښتنو زه به په تاسو داسې چل وکړم چه ټول عمر ژاړی او خپل بچو ته یې ددې

ملك واك اختيار پريښوده. په هغو ورځو کښې موږ ډير څه ويل او موږ ويل چه ګورئ د اخلك دانګريزانو بچې دی خو بس په موږ فتوی وی اود هندو غيږو اوستاسو هم دويرې نه څه کش ونګړ او نتيجه څه شوه؟ داتاسو ته معلومه ده. زه خو وايم د استاسو پښتنو د بزدلۍ او بې علمۍ وجه وه چه خدای هم درنه نارضا شو او ستاسو د جنت په شان د ملك واك اختيار يې بل چاته په حواله کړ.

وروڼو! ويره د خدای نه په کارده چه کوم سړی د خدای نه ويريږی د هغه په زړه د بل چا ويره نشی ننوتی. دا زه ستاسو ورور يم. زما په زړه د خدای ويره ده او زه د هيچانه نه ويريږم او د چا په زړه کښې چه د خدای ويره نه وی هغه د يو سپاهی نه هم ويريږی.

دا ځکه موږ ظالمان شوې يو. په يوټې خبره خپل ورور وژنو او نه د قيد نه ويريږو نه د پاسی نه او نه عمری بند نه. ولی کوم وخت چه د قام او ملك سوال راشی نو د يو سپاهې نه هم ويريږو.

همدا وجه ده چه موږ نن ذليل او خوار يو. خدای داسې ظالمان نه خوښوي. تاسو سره بې اتفاقه او يو د بل دښمنان يئی نو خدای دا د ستاسو ملك واك اختيار خو د ستاسو نه اخيستی دی د دې جنت په شان ښکلې ملك نه مو هم شړی.

او تاسو به درپه در سروهلې بروهلی ګرځی تاسو ته هميشه ماخبرې کړی دی او هغه خبرې څو کاله پس ټيك ختلی دی، نو تاسو هاله منلی دي. او اوس هم زه تاسو ته وايم چه سم شی. دا پرې، جنبې، تربګنی دښمنی او لکه د سپود خپلو وروڼو چيچل پريږدی، که سم نه شوې، او زما دا خبری چه د وخت تيريد و نه پس يې منئی اوس يې ومنئی، د ملك خيال وکړی، پخپلو کښې يو شی ګڼی تباه کيږی! او خدای داسې نافرمان قام د دنيا دمخ نه ورکوی. تاسو به هم ورك شی او نه به مودا ملك وې او نه داد پيسو لالچ او نه به تاسو ياست.

وروڼو! تاسو نه چه ما سره څوك ميلا ويږی نو ماته داوايی چه باچاخانه خدای دې پخپل مقصد کښې کامياب کړه. زه د تاسو نه تپوس کوم چه زما څه مقصد دی؟ او داهم درته وايم چه قامونه او ملکونه په يو کس نه شی آباديدی. د خدای پيغمبران هم ځان له نه دی کامياب شوی.

ترڅو چه هغوی سره نورو ملګرو ملانه ده تړلی زه خو ستاسو په شان يم ستاسو يو ورور عزيز يم او داهم يادلری چه دا ملك يو ازې زمانه دی. ما خو تراخره پورې خدای سره وعده کړيده چه ددې خپل قام او وطن خدمت به کوم او دعا کوم چه خدای دی مادا ستاسو د خدمت په سلسله کښې شهيد کړې ولی زه تاسو نه تپوس کوم چه دا ملك ستاسو نه دی؟؟

يا خدمت دی يې بل څوك کوی، او تاسو به تيارې ته ناست ياست؟ زه ستاسو کاميابی او ترقی غواړم. تاسو ما سره ملاوتړی، او ددې خپل قام حالت بدل کړی، او ملك اباد کړی. لکه تاسو چه خبر ياست چه پيغمبران هم ځان له نه دی کامياب شوی نو زه به څه يم د قامونو ابادۍ او ترقۍ په يو کس نه شی کيدی دا کار خو د قام په قربانۍ کيږی.

زما دا پيغام وچه تاسو ته مې رسول، غوښتل او ددې دپاره راغلی وم، په آخره کښې دعا کوم چه:

يا خدايه! زموږ د پښتنو د زړو ونه بغض، حسد، کينه، دښمنۍ او تربګنۍ لرې کړې او ته توفيق راکړې چه د خپل قام، ملك او وطن خدمت وکړو.

خدايه! د پښتنو دښمنان برباد کړې او موږ ته توفيق ر کړې چه د خپل دوست او دښمن ترمنځه فرق وکړو. آمين

دښاغلی کوثر غور یاخیل تقریر

داپریل په ۱۹ د حمل په ۳۰ نېټه دباچاخان دګرفتاری نه وروسته ښاغلی حسین بخش «کوثر» دخدائی خدمتګار وفعال غړی اومشهور لیکوال مجسټریټ ته ولاړ او ځان یې ګرفتاری ته پیش کړ ولی مجسټریټ دپیش کیدو نه دوه منټه مخکښې عدالت پریښود هغه په میدان کښې یوه جلسه شروع کړه او تقریر یې وکړ، دادسول نافرمانی ابتداوه او له هغه وروسته په سوونو پښتنو دې کار ته ملاوتړله او پاکستان هغوی ټول ګرفتار کړل.

وروڼو! تاسو که پښتانه یاست، نو ددې نه به خبر یاست چه زما اوستاسو په شریکه مشر فخر افغان لوی پښتون ښاغلی باچاخان دې حکومت ګرفتار کړی او په حیدرآباد جیل کښې یې بندی کړیدی. وروڼو دا ځکه چه زموږ په دې قام کښې بدنظمې، بې اتفاقی، سره دښمنی- پرې جنبی- تربګنی او تر بور ولی سره سره قتلونه- مرګونه او لنډه دا چه دهر قسم دتباهی کارونه دومره زیات شویدی چه لوی پښتون او زموږ دا تیاو کالو بوډا مشر په قام کښې دا بدنظمی برداشتنه کړی شوه او هغه ددې خبری پرواهم نه ساتله چه حکومت په هغه د دورې یا د تقریر کولو پابندی لګولی ده او دا یې هم محسوس نکړه چه په وطن دمارشل لا له نفاذ شویدی او تاسو پسې لکه دلیونی کلی په کلی چم په چم او ګاونډ په ګاونډ وګرځیده، او تاسو یې پو هولی چه دا خراب کارونه او بې اتفاقی په موجوده وخت کښې پریږدی خیر دامر معروف په سلسله کښې دهغوی دوره لا مکمله شوی هم نه ده چه دې حکومت هغوی ګرفتار کړ، او تاسو دخدمت موقع یې ورته ورنکړه زه هم چونکه دباچاخان یو سپاهی او خدایی خدمتګار وم نو زه مجسټریټ ته لاړم او ورته ومی ویل چه که دقام په خدمت او امر معروف په جرم کښې پاچاخان تاسو نیولی دی نو زه هم هغه نظریه او خیالات لرم او همدغه کار به کوم کوم چه پاچاخان کولو که ګرفتاری وی نو ګرفتار مې کړی، فوځی عدالت ته ورننوتو نه دوه دقیقی مخکښې مجسټریټ ولاړ پټ شو نو وروڼو اوس زه ستاسو دخدمت دپاره به لکه پاچاخان کوڅه په کوڅه ګرزم او دباچاخان هغه پیغام به تاسو ته رسوم په کوم پیغام چه هغوی نیول شویدی.

هغه پیغام دادی «ګوری پښتنو! په تاسو کښې دادومره بې اتفاقی، پری، جنبې او دښمنی پیدا شویدی او دا تاسو دتباهی طرف ته بیایی که تاسو دغه عادتونه پری نږدی، نو تباه به یاست او ستاسو نوم اخیستونکی به هم په دنیا کښې پاتی نشی تاسو په ۱۹۳۰ کال کښې د لږ ساعت دپاره په خپلو کښې دا پرې جنبې او دښمنی پرې ایښی وی نو هغه انګریز چه په حکومت کښې یې امر نه ډوبیده ستاسو په مخکښې سلامی شولو ملک یې تاسو ته پرې ښود. ولی دا اختیاراتو دمنتقل کیدو په وخت چه تاسو بیا پخپلو کښې ونښتی نو خدای د تاسو نه ناراضی شو او دګټلی ملک واک اختیار یې درنه واخیست او بل چاته یې حواله کړ پاچاخان فرمایلی دی چه اوس هم وخت دی او به دورخ نه نه دی تېرې که تاسو د ۱۹۳۰ کال په شان یو شوی، نو آباد به یاست او دا ملک چه دجنت په شان دی ستاسو به شی او که پخپلو کښې ورورولی او اتفاق مو پیدا نکړو مبی نو خدای دملک واک اختیار د تاسو نه اخیستی دی اوس ددې ملک نه به مو هم وشړی او تاسو لکه دپناه ګزینو سروهلی بروهلی د دنیا په مخ به ګرزی، او د پښتو، قام نوم اخیستونکی به هم په دنیا کښې پاته نشی او دپناه ګزینانو په شان به ستاسو ژوند شی او که متحد شی او یو موټی شوی نو انګریز ستاسو مقابله ونکړی شوه نو نور به څوک وی چه تاسو ته به ټینګ شی.

میر اکبر

د پښتونستان دورځې په افتخار

د پښتونستان ملی نهضت د جهانی ملی تحریکاتو یوه برخه ده

په جهان کښې د استعماری امپریالیزم په تشکل ورسره د ملی خپلواکی نهضتونو هم وده وکړه او د دوی ترمنځ تضاد پیدا او پسې شدید شو. دغه تضاد د دې باعث شو چه د دوی ترمنځ مجادله شروع شی. مبارزې په بیلو بیلو محیطونو کښې په جلا جلا وختو کښې شروع شوې په ځینو ځایو کښې د ملی خپلواکی په ګټې پای ته ورسیدلی او په ځینو ځایو کښې نژدې ده چه پای ته ورسیږی امریکا ترټولو لومړی هیواد وچه د برطانیې له استعمار څخه یې د یو ملی انقلاب په مرسته ځان خلاص کړو روسته د لاتینی امریکې هیوادو یوه بل پسې له اروپایی استعمارګرو څخه ځانونه آزاد کړل د امریکی نامتو سیاست پوه چستر بولز پخوا له دې چه په حکومت کښې مهم عهده ولری د امریکی حکومت یې دوخت د واقعیاتو پیروی ته په دې الفاظو ملتفت کړ: «زموږ د زمانې د یرمهم حقیقت دادی چه هغه انقلاب چه زموږ تاریخ یې مینځ ته راوستلی دی تر اوسه پورې ژوندی دی او بیا په آسیا ـ افریقا ـ منځنی ختیځ او لاتین امریکی کښې په خوځیدو راغلی دی... هر شی چه په مخه ورشی له ځان سره یې وړی هر هغه څوک چه وغواړی د دغه انقلاب په جریان اغیزه ولري باید د انقلاب په ژبه خبرې وکړي» موږ د بناغلی چستر بولز له پورتنیو الفاظو سره بشپړه موافقه لرو نن آسیا ـ افریقا ـ لاتینی امریکا او منځنی ختیځ له یوې انقلابی مرحلې نه تیریږی هر کال په افریقا ـ آسیا ـ منځنی ختیځ او لاتینی امریکی کښې هیوادونه د امپریالزم له تسلط څخه خلاصیږی د عثمانیانو ستره امپراطوری ټوټې شوه او په ځای یې خپلواک هیوادونه منځ ته راغلل د انګلستان هغه پراخه اولویه امپراطوری چه لمر به په باندې نه پریوت ترزیاتې اندازې تجزیه شوی او نوره هم د تجزیه کیدو په حال کښې ده، د فرانسې امپراطوری د ژوندروستی سلګی وهی د بلژیک ـ هالینډ او پرتګال امپراطوری ـ د اسې مرحلې ته رسیدلی دی چه په اصطلاح د ګور په غاړه ولاړ دی چه د یر زر به یې جنازې بارشی.

که د انګلستان ورځ په ورځ زیاتیدونکی اقتصادی بحرانونه، د فرانسې سیاسی او اقتصادی مزمن بحرانونه، د بلژیک د تیرکال د څلو پښتو شپو پرله پسې اعتصابونه او مظاهرې په نظر کښې ونیولی شی د حقیقت په ښه شان څرګندیږی چه استعمار او امپریالیزم د ارتجاع، استثمار، استبداد او د ټولو بد بختیو د روستی پناګاه او د روستی مرحله ده څرنګه چه تاریخ په ارتقایی دول سیر کوی نو د احتمی خبره ده چه دغه مرحله تیریدونکې ده او د ملی خپلواکی نهضتونه به ارومرو بریالی شی.

د پاکستان په مقابل کښې د پښتنو مبارزه د هغې عمومی مبارزې د وام دی چه په ټول هند کښې د انګریز د استعمار په مقابل کښې روانه وه او هم د پښتنو د آزادی خواهی مبارزه د هغې جهانی مبارزې یوه برخه ده چه په جهانی پیمانې د استعمار له منځه وړلو د پاره شروع شوی ده پاکستانی استعمار چه په حقیقت کښې د انګریز د استعمار د وام دی پاکستان د خپلې بقا او د پښتنو د ملی خپلواکی د نهضت په مقابل کښې د ټینګار په غرض ځان په هغو نظامی تړونونو پورې تړلی دی چه بین المللی امپریالستانو په ټوله نړۍ ـ کښې د ملی خپلواکی د نهضتونو د شنډولو او مترقی جنبشونو له منځه وړلو د پاره منځ ته راوړل شوی دی. نن که په پښتنو باندې د سنټو په پکت پورې مربوطې د سلی استعمالیزی یا په الجزایر او انګولا باندې ناټو الوتکی ـ بمونه ـ توپك او ماشیندار چلیږی یا په مصر باندې مثلث یرغل کیږی د ګواټیمالا



په آزادۍ اوتامولی مین
میر مهدی شاه «مهدی»



دآزادۍ دمبارزې زحمت کش
اوزندانی اجمل خټک

دپاچاخان یوکلک سپاهی
حسین بخش «کوثر» غوریاخیل

او کیوبا په ضد مسلح تیری کیږي د ا ټول په دې حقیقت پوری مربوط دی چه امپریالیزم بین المللی شکل غوره کړی دی. دیوامپریالستی هیواد اعمال که په پښتونستان کښې وی اوکه په الجزایر یا انګولا یا بیزرتا کښې وي له هغې عمومی یالیسی څخه نشات کوی چه امپریالستان یې په جهانی پیمانې تعقیبوی امپریالستان چه په خپلو سترګو دامپریالزم د ژوند وروستی سلګی وینی په دې هڅه کښې دی چه د تاریخ دسیرمخه ونیسی . ددې کارد سرته رسولو دپاره یې په لمبنو داسی عجولانه اقداماتو لاس پوری کړی دی چه نژدې ده نړی دیوه ذروی جنګ په لمبو کښې تباه کړی استعمارچیان هڅه کوی چه د نظامی متجاوزو پکټونو ګډ وبازارونو اونورو دلو ټپلوله لاری دامپریالستی نظام دزوال مخه ونیسی اودمحکومو ایشایی او افریقایی هیوادو دایندې استثماردپاره زمینه لار خلاصه کړی مګر تاریخ په دوی باندی رحم نه کوی . که له یوی خوا امپریالستان دخپلې بقادپاره په عجولانه اقداماتو بوخت دی له بلې خوا داستعمار ضد قوتونه ورځ په ورځ پیاوړې کیږی. استعماردنړی په هره سیمه کښې په سیاسی اقتصادی اوعلمی لحاظ پرله پسې ماتې کوی. دقواوموازنه دمترقی اوملی تحریک په خوا وار په وار درنیږی. پاکستان غواړی چه په پښتنو آزادې خواهانو باندی هغه ناکامې تجربې پیانوی کړی چه د نړی زړو استعمارچیانو یې په کولو سره هیڅ ګټه ونکړه .

پاکستان غواړی چه دتشدد اوتعذیب له لاری دیوتاریخی مترقی نهضت مخه ونیسی - پاکستان غواړی چه دپښتنو دملی نهضت حقیقت د منفی تبلیغاتو پرده کښې پټ کاندی پاکستان دپښتونستان دادعا په مقابل کښې په هند باندی دانګلستان امپرا طورې دوراثت دعوی کوی اوهغو منسوخو ترو نونو باندې استناد کوی چه پرته له استعماری حقوقو نورهیڅ ډول حقوقی ماهیت نلري او پرته له استعماری عقل اومنطق نه په بل هیڅ عقل اومنطق برابر نه دی . هغه ترون چه داستعمار دعظمت اوجبروت تراغیزې لاندی په یو محکوم ولس باندی تحمیل شوی دی - هغه ترون چه دلاس لیک کیدو په وخت کښې یی هیڅ ډول بشری حقوقی او اخلاقی ملحوظات په نظر کښې نه وی نیول شوی هغه ترونونه چه دجابر -اومجبور - حاکم اومحکوم ظالم اومظلوم ترمنځ دیواته ملیونی ملت دمقدراتو په هکله لاس لیک کیږی اوهغه له خپل مرکزیت او اصل څخه بیلوی اودیوی استعماری فرضی کړښی په واسطه یی په بل هیوادپوری تړی- هغه ترون چه په یوه ملت باندې دژوند انه لاری وتړی اوهغه په وچی پورې محصور کړی، هغه ترون نه دانسانی عدالت په نژداونه دلرو اوبرو پښتنو به نز دکوم حقوقی ارزښت لری پښتنو عملاً ددغه شان ترونوله منلو څخه انکار کړی او په هند باندی دانګریزی استعمارله ختمیدو نه پخوا او وروسته ترهغه ددغو ترونوداثراتوله مینځه وړلود پاره یې په کلک عزم اوټینګې ارادې دمبارزې ملا تړلې ده . پښتانه په خپلې دغې ملی مبارزی کښې یوازی نه دی دنړی دټولومترقی اوازادی غوښتونکو همدردی له دوی سره ده - دتاریخ سیردنړی جریانات دپښتنو ازادی غوښتونکو په ګټه دی ټن دنړی دټولوازا دی غوښتونکوسوله غوښتونکو اومترقی عناصرتر منځ همدردی تاون اونژدې والی ترهر وخت زیات دې اوهغه ورځ لری نه ده چه په ټوله نړی کښې امپریالیزم دیوی بدې تاریخی مرحلې په حیث په انقلابی ډول دزوال په لاره دتباهی کندې ته ولویږی اودتل دپاره دفن شی.

حبیب الله تبزی

نوې ژب پوهنه

او زړې خبرې

کوم مسائل او سوالونه چه ماددې لړ مقالو په لومړۍ برخه کښې د مقدمې په توګه د کابل مجلې په (۵۰۱) ګڼه کښې د څېړلو د پاره رامنځ ته کړې وو د هغو له جملې څخه مې تر هر څه دمخه د لیك او ژبې د ارتباط مسأله د خپل توان په اندازه وڅېړله او دا مې په ډېر وضاحت سره څرګنده کړه چه «فونیم» او «ګرافیم» یا په ساده عبارت «غږ» او «توري» او «لیك» او «ژبه» یو له بله رټ سره بیل دی. داسې چه یو یې له اره «غږ» دی په «غوږ» او «غږیز جهاز» پورې اړه لری او بل یې رسم دی او په «ګوتو» او «سترګو» پورې اړه لری.

دا چه دغه مساءله مې څله تر هر څه دمخه په ډېر تفصیل سره وڅېړله؟ سبب یې دمخه هم ویل شوې و او هغه دا چه د ژبې د مطالعې په برخه کښې زموږ ډېر زیات اشتباهات له همدې ځایه سرچینه اخلی. ځکه هغه څوك چه دلته د ژبې د څېړنې سره سروکار لری هغوی ـ ترما پورې ـ اکثره «ژبه» او «لیك» سره ګډوی او د څېړنې او بحث په وخت کښې له سړی څخه لارور کوی. مثلاً ډېر ځله ما غوښتی دی چه په ځینو محالسو کښې له ملګرو سره پر ژبه او لهجو وږ غیږم مګر دوی خبرې سمدلاسه «لیك» او «املا» ته ورکش کړی او هوضوع یې دا سې سره ګډه کړې ده چه نور یې د سپینو لو توان نه له دوی سره پاته شوی دی او نه له ما ره. دغه ډول کله چه مې غوښتی دی چه پر «املا» ور سره وږ غیږم هلته یې بیا خبرې «لهجوی» بحث ته ورکش کړی او د «املاء» په برخه کښې بی داسې «دلائل» رامنځ ته کړې دی چه یو یې هم کوم «املایی» دلیل او یا حکم نه شی کیدا ی. اما د دې دپاره چه خبره ښه واضح شی دا دی دلته همدا د «املاء» په تیره بیا هغې «املاء» مساءله چه په پښتو کښې معموله ده او یوه له هغو مسائلو څخه ده چه ماد دې لړ مقالو په سر کښې د څېړنې د پاره رامنځ ته کړې وه په تفصیل سره څېړم او ګوښښ کوم څو په دې خبره پوره رڼا واچوم چه ایا هغه خبرې چه تر اوسه پورې موږ د «املاء» په نامه پرې ږغید لی پوهغه رښتیا هم املا یی بحث دې او نوې ژب پوهنه یې د یوه املایی بحث په حیث منی او که یه دا هم نوې ژب پوهنه د هغو زړو خبرو څخه ګڼی چه باید سپینې شی. اما څرنګه چه زما خبرې اکثر په مثالونو شروع کیږی دا دی د لته هم خپلې خبرې په داسې مثالونو شروع کوم چه زما ددې لړ لیکنو ډېر لوی عامل هم په دا اوس وخت کښې همدا خبره و ه.

پدې وروستیو وختو کښې یعنی د ګندهار د مجلې د «۱۱» ګڼې د خپریدو د مهال نه را پدې خوا په نوموړې مجله کښې د «پښتو املاء» په نامه یو لړ بحثونه را روان وو او په دې بحثونو کښې څو څو ځله «د پښتو ټولنې د فیصلو» یا دونه مم په داسې یوه لهجه شوې وه چه ګوندې دغه فیصلې څه زړې او که څنګه غوندې دی او له سره غور غواړی.

مثلا د وموړې مجلې په (۱۴) ګڼه کښې «د پښتو ټولنې د تصویبونو» تر یوه کوچنی عنوان لاندی داسې لیکل شوی و:

«پښتو ټولنه چه د پښتو اکیډمی حیثیت لری او د علمي محافلو په نظر کښې یې احترام محقق دی د پښتو د رسم الخط په باره کښې یې له پخوا څخه

دقدر وړ تصویبونه کړی دی چه لیکوالو دهغو رعایت پخپله اندازه ساتلی دی. خو څرنګه چه وویل شو دا تصویبونه او قرار دادونه صرف د رسم الخط د توحید په باره کښې دی او جنبه یې هم توصیوی ده. څه خاصې حکم نامې نه دي چه د صحت او خطا معیار وګرځیدی شی. یوله هغو تصویباتو څخه د ـ سو ـ او ـ شو ـ په باب کښې دی چه ـ شو ـ ته یې ترجیح ورګړی دی.»

یا دا چه دهمدې مجلې په (۱۳) ګڼه کښې د دغو «فیصلو» په برخه کښې لیکل شوی دی: «که پر سړه سینه پر داسې فیصلو غور وسی چه هغه... ډیرې پخوا شوی دی نوارومرو تغییر غواړی. ځکه د بیخی څو کلو نو دمخه پښتو لیکنې که اوس را واخستل شی نوله ورایه څخه زیاتی ادبی سهوې پکښې لیدل کیږی او په هم دغه دلیل نو دهغه پخوانی وخت بی دلیله مطلقی فیصله چه د پښتو ادب د محدود و معلوماتو په دائره کښې صادرې شوی دی اوس دهغه چا په نزد اعتبار نه سی پیدا کولای چه هغه د پښتو په ادب کښې د مترقی او انکشافی فکر تښتن وی» (۱) وروسته تر دې دغه دواړه ښاغلی لیکوالان په دې غږ بدلې دی چه «کښې» مرجع شکل دی او که «کې» دا چه «شو» مرجع شکل دی او که «سو» او بیا دا چه «واحمد ته» مرجع شکل دی او که «احمد ته»

البته په دی کښې هیڅ شك نشته چه په دې برخه کسې د ښاغلیو لیکوالانو غوښتنه په عمومی صورت سره ډیره پرځای ده او حتی زه دا هم ویلای شم چه د دوی خبرې نسبت وهغه چا ته چه یې لومړی پر ښاغلی نومیالی انتقاد کړی دی په نسبتی ډول سره د پورته اشکالو په برخه کښې منطقې هم دی. اما کومه خبره چه زه یې دلته د پښتو ټولنې د یوه غړی په حیث باید په مفصل ډول سره وڅیړم هغه داده چه ایا د پورته اشکالو په برخه کښې د دوی دغه بحث او د پښتو ټولنی «فیصلی» رښتیا هم «املایی» خوالری او که یه؟ ایا دا اعتراض ـ چه د پښتو ټولنی فیصلی پخوانی او څه زړې غوندی ګڼل شوی ا وویل شوی دی چه دا نوی غور او بدلون غواړی ـ د نوې ژب پوهنی دا ساساتو سره برابر دی او که یه؟ ځکه کله که د پښتو ټولنې په دغو «زړو فیصلو» څه «نوی» او حتی المقدور کره بحث خپله د پښتو ټولنې له خوا مخ ته راشی ګومان کوم چه دا به ډیره ښه وی. مګر څرنګه چه د پورته خبرو په دا دوهمه برخه یعنی دې باندی زغیدل چه ایا د پښتو ټولنی داسې فیصلې چه «شو» تر «سو» او «کښې» تر «کې» مرجع دی؛ رښتیا هم غور او بدلون غواړی او که یه؟ ځانته جلا غیر املایې بحث دی او زه به د خپلی وسې او د نوې ژب پوهنې دا ساساتو سره سم په کومه بله ګڼه کښې مفصل پرې وغږیږم نوله دې امله دلته نور له دغه بحث څخه تیریږم او یوازې دومره کوښښ کوم چه په صراحت سره یې له املایې بحث څخه جلا کړم. ځکه دلته زه ډیر زیات زور لومړی د «املایی» بحث د ساحی په ټاکلو او بیا دهغه په پوره څیړلو باندی اچوم په همدې اساس دادی بیا خبره د کدها رد مجلې د مثالونو څخه شروع کوم او ګام پر ګام وړاندی ځم:

په دی برخه کښې لومړی خبره داده چه د نومړی مجلې په «۱۱» ګڼه کښې پر پورته شکلو نو ـ چه د همدې مجلې په کومه پخوانی ګڼه کښې د «سو کې ـ واحمد ته» په بڼه راغلی دی. د املایی او حتی ادبی نیمګړتیا یا غلطې په نامه انتقاد کیږی او د مجلې په (۱۳) ګڼه کښې د دغه انتقاد په ځواب کښې داسې لیکل کیږی:

«ما په یوه مجله کښې یوه لیکنه وویله چه دهغی انتقادې برخه زما د پښتو د ملاه په باب کې کښل سوی وه ـ په دې سبب چه دهغې لیکلی انتقاداتو ادبی دلائل

(۱) دا چه دلته د «کښې» او «کې» یا «سو» او «شو» یا «واحمدته» او «احمدته» د ترجیع ورکولو مسأله ادب ته ورکش شوی دا بیا یوه بله «عنعنوی» سهوه ده چه تر اوسه لاموږ نه یو تری خلاص او زه به په کومه بله ګڼه کې هر ومرو پرې وغږیږم.

نه در لوده او بل داچه زه د خپلی املاء یو وفاداره پالونکی یم او د ثبوب دپاره یې هم کافی د لائل راسره دی نو محکه محواب یې کاږه ...)

اوس کله که موږ پورته لیکنو ته محیر شو نو وروسته د لږ څه غور څخه په زغرد سره داویلاي شو چه نه پورتنی خبری « املایی» غلطی کیدی شی او نه په « املایی » بحث کښی راتلی شی . اما څرنګه چه په دی برخه کښې ګډودی لږ څه زیاته او ډیره پخوانی ده نو له دی املا یوازی یو ساده حکم کافی نه دی ؛ بلکه ګومان کوم چه لږ څه زیاتی او مفصلی خبرې غواړی. محکه څرنګه چه دمخه هم ګو ته ورته و نیول شوه دپورته ذکر شوو اشکالو په برخه کښې بحثونه او فیصلی یوازی په دی مجلو او یا نورو متفرقو خپرونو کښی «املایی» او «ادبی» نه دي ګڼل شوی. بلکه دپښتو ټولنی په « فیصلو » کښی هم د غه بحث دا ملا یا د رسم الخط دوحدت او یا حتی کله کله هم په محینو کتابونو کښی د «ادبی ضرورت » په نامه راغلی دي. له همدی امله ګومې لومړ نی خبری چه د دغه ډول بحثونو او یا د «فیصلو» په شاوخوا کښې شوي او یا په محینو کتابونو مجلو او یا رسالو کښی د همدې « فیصلو » د مقد مو په توګه لیکل شوي دي. په همغو کښی هم دا موضوع په عام ډول سره درسم الخط او یا املا موضوع ګڼل شوې او کله کله بیاحتی ادب ته هم ورکش شوې ده . مثلا کومه مقدمه چه دکابل مجلی د (۳۷) کال په (۱۲) ګڼه کښی دپښتو ټولنی پر « فیصلو » لیکل شوې او روسته بیاد پښتو ټولنی له فیصلو سره په یو ه کوچنی رسا له کښی چه د « لیک دود » په نا مه خپره شوې هم راغلی ده داسی لیکل شو ی دي ؛

((.....په دی ورځو کی دلرې او بری پښتو نخوا لیکوال پخپلو کښې سره کښېنا ستل ترټولو د مخه دوی لیک دود ته توجه وکړه نو محکه یې د تیرو غونډ ولمنه یسی اوز ده کړه چه ترلو سه دلیک دود - دمعیاری کولو په باب دافغانستان او پښتونستان لیکوالو ترمنځ په کابل او پیښور کښی شوی دي دلته هم ددې غونډولوې مطلب داشو چه د پښتو لیک د و د معیا رې کړ ی اوداسی فیصلی یدې باب کښې و کړی چه پښتانه - یې په ټولی پښتو نخوا کښې عملی کړې او له دې ورسته پښتو داملاله مخې بو واحد شکل غوره کړی او دا نیمګړې خوایې هم پوره شې اود یو ې علمی ژ بی خصو صیت یکښې له درایه ناري ووهی . په دې ډول زیاتر ه هغه کلمې او لفظونه چه د لیکلو په لغاط د لرې او برې پښتو نخوا لیکوالو ترمنځ یکښې اختلاف و ، پرله پسی غونډ وته وړاندې شول . په نتیجه کښی له ښه مرغه ټولو کلمو باندې اتفاق نظر راغی او غوره شکلونه یی تصویب شو ل...»

یاداچه یو بل محای یوه کتاب کښې په هغې تبصره کښې چه دهمدې « فیصلو » په شاوخوا کښې «دپښتو ټولنې فیصلی » ترعنوان لاندې لیکل شوې ده اوزه یې دلته د کتا ب عین عبا را ت را نقلول مناسب نه ګڼم - دافیصلې درسم الخط فیصلې ګڼل شوې اوویل - وې دې چه دغه فیصلې درسم الخط دوحدت او ادبی ضرورت په اساس صادرې شوې دي .

دهمدې ګډودې په نتیجه کښې ده چه دلیکوالو ترمنځه دژبی - ادب اوداملا بحث سره ګډول شوی او یوه ته بل ویل نژدې یوه عنعنوې اشتباه ګرځیدلې اوزه یې ګرمه یوازې په هغو لیکوالونه اچوم چه دکند هاریه مجله کښې یې لهجوې بحث املایی یا ادبی بللی دی . بلکه کوښښ کوم چه خبره له اره راوسپړم او دا اشتباه ترممکنه حده پورې له منځه لرې کړم. یعنی داخر ګنده کړم چه « معیاری املاء » او معیاري ژبه رټ سره بیل

دی او «اوملایی» بحث او «لهجوی» بحث کاملا سره جلا(۱) اما ترکوم ځایه پورې چه ماته څرګنده ده ددې اشتباه دارې کولو یاداچه د «املایی» بحث دساحی دټاکلو اوله «ژبنی» بحث څخه یی دجلاکولو د پاره په هسې یوازې تعریف یادې چه «املا» په لغت کښې څه ته وایی. او یا داچه «په ادبی اصطلاح؟» کښې څه ته ویل کیږی خبرې هسې چه ښایی نه سپینیږی. بلکه باید مسأله په مثالونو سره اوچته مسجمه او په واضح ډول سره څرګنده شی.

دادی زه هم دهمدې فکر په اساس دهغو «فیصلو» څخه چه پښتو ټولنې داملا اورسم الخط په نامه صادرې کړی او ځینې یې ماهم امضا کړی دی. ځینی مثالونه رااخلم اودلته یې څیړم. مګر د مخه ددې مثالونو دذکر اوڅیړلو څخه باید داخبره یاده شی چه په دې فیصلو کښې واقعا ځینی «املایی» او یاداسې فیصلې هم شته چه داملا په بحث پورې اړه لری لکه دا چه: «چلوونکی-ښوونکی اوښوونځی باید ولیکونه لیکونکی چلونکی - ښونکی اوښونځی- یادا چه - زه - ته- ده ده-زړه -باید ولیکونه زه-ته-ده-زړه-یاداچه د مفرد غایب دپاره باید یو-و- ولیکل شی. یادا چه -کوڼ - باید ولیکل شی نه-کونړ یاداچه-یو-اینده-باید ولیکل شی نه-یو-ائنده(۲) یاداچه مجهوله ې-دمعروفی-ی -په ځای باید استعمال نه شی.» اما پرته له دې پورته فیصلو او یا کومې بلې څخه، چه ښایی زماله نظره لویدلی وی، نورې واړه «فیصلې» او حکمونه د «لهجې» او ژبی په برخه کښې دی نه داملا یارسم الخط. مثلا دپښتو ټولنې په دغو فیصلو کښې یوه خبره داده چه دژوند- جوند- زوند په ګړنیو شکلونو کښې د «ژوند» شکل مرجع ګڼل شوی او حکم شوی دی چه لیکوال یې همدا شکل باید استعمال کړی نه هانور. اما کله که سړی لږ څه غوروکړی نو بیا ډیر ژردې خبرې ته ورسیږی چه دا حکم داسې حکم دی لکه سړی چه د «ډوډی» او «ټیکلی» او «مړی» له دروبیلو بیلو ګړنیو شکلونو څخه یو شکل غوره وبولی. ځکه چه د «ژوند-جوند- زوند» په مثال کښې هم همداشان له دروبیلو بیلو لهجو څخه یوه غوره ګڼل شوې ده. یا په بل عبارت دیوه واحد معنوی شکل له دروبیلو بیلو لفظی شکلونو څخه یو لفظی شکل مرجع ګڼل شوی دی. یا په ډیره ساده ژبه د یوې «کلمې» له درې ډوله تلفظ څخه چه په درو لهجو کښې ویل کیږی یو ډول او دیوې لهجی تلفظ تر نورو څخه غوره شوی دی. نه داچه دې د یوی کلمی له څو ډوله لیکل شوو بڼو څخه یوه بڼه غوره ګڼل شوی وی. لکه داچه سړی ووایی چه د «زه» او «زه» تر منځه چه دعین کلمې درسم دوه بڼې دی-د «زه» بڼه تر «زهٔ» څخه ښه اوغوره ده.

دادی ددې دپاره چه خبره تر دې څخه هم ښه روښانه شی یو بل مجسم مثال دلته رااخلم اوهغه داچه کله که موږ دیوه واحد اوعین شخص دعسکو نو او یاد رسمونو په بیلو بیلو بڼو غږیږو او داوایو چه داعکس یارسم ترهابل څخه ښه یا بد یا څنګه او څنګه دی. نو دلته مو خبرې ښکاره په عکس یارسم باندې دی نه په شخص. مثلا کله که موږ وایو چه د «لیلی» عکس باید تور-ځلاند یا رنګه واخستل شی یاداچه داعکس یارسم یې ترهابل څخه ښه او غوره دی یاداچه داعکس یې ښه نه دی راغلی او لیلی دا سې پکښې ښکاری لکه پلانی یاداچه په دې عکس کی «لیلی» هیڅ

(۱) البته دا بیاهم ددې معنانه لرې چه ګوندی په نوې ژب پوهنه کښې څوک پر «املا» یا «لیک» یا «ادب» نه غږیږې بلکه مطلب دادې چه هلته هم لیک او املا په ځانته ډول سره څیړل کیږې نه داچه دې دومره سره ګډ شی چه په پای کښې یوه ته بل وویل شی او یاداچه دې دلهجې په نامه په املا وغږیږې او داملا په نامه په ژبه، لهجه یا ادب. ددې خبرې د اثبات دپاره وګوری ددې مقالو مأخذ.

(۲)-له دې مثال څخه څرګندیږی چه پښتو ټولنی یخپلو فیصلو کښې ځینی پاړسو املایی فیصلی هم داخلې کړې دی.

پیژندل کیږی نه . واقعا چه دا خبرې او څیړنې د عکس یا رسم په شا وخوا کښې دی. او بحث یې هم په رسامۍ او یا عکاسۍ پورې اړه لری. ځکه چه شخص عین شخص دی او عکسونه یا رسمونه بیلې بیلې بڼې لری او له دې بیلو بڼو څخه موږ یوه یا بله تر نورو څخه غوره بولو. اما کله که څوك وایی چه زما تر «شهلا او رعنا» څخه «لیلی» ښه ایسی یا دا چه زما په کوټه کښې د «شهلا او رعنا» عکسونه و نه ځړول شی؛ بلکه د «لیلی» عکس وځړول شی. نو په دې صورت کښې غور پر اشخاصو باندې دی او له یوه څخه بل ته په ښه سترګه کتل شوی دی. نو له دې امله سړی ویلای شی چه دلته خبره د عکس یا رسم په څرنګوالی نه ده بلکه اصلا پخپله شخص باندې ده. لنډه دا چه په اول صورت کښې مو خبره په څیره یا سمبول باندې ده او په دوهم صورت کښې په اصل باندې، چه د دې دواړو توپیر له ځمکې تر اسمانه دی او د پښتو ټولنې واړه فیصلې (پرته د هغو مثالونو څخه چه موږ د مخه راواخستل) یو لړ داسې وچ کلك اټکلی حکمونه دی چه له اره دتش په نامه «معیاری» ژبی د جوړولو کار ګڼل کیږی خو دلته په اصطلاح هسې د ړانده د کوتك په څیر د رسم الخط یا د «معیاری املاء» په نامه میدان ته راګوزار شوی دی. مثلا دا لاندې مثالونه - چه موږ یې دلته د نمونې په ډول د ګرانو لوستونکو د قضاوت دپاره راا خلو - وګوری، چه په واړو کښې عین هم هغه د ژوند - جوند - زوند د حکم کیفیت پروت دی نه کوم بل.

په لاندی مثالونو کښې لـ درو بیلو بیلو ګڼ نیو شکلونو څخه چه هر شکل یې په ځانته لهجه پورې اړه لری - دښی لاس له خوا - دریم شکل مرجع ګڼل شوی دی

زوند	جوند	ژوند
زرنده	جرنده	ژرنده
زړا	جړا	ژړا
زمی	جمی	ژمی
زوبل	جوبل	ژوبل
بیده	اوده	ویده
واله	بیاله	ویاله
بزه	بیزه	وزه

دغه ډول له لاندې د وو ګړ نیو شکلو نو څخه دښی لاس له خوا - دوهم ګړنی شکل مرجع ګڼل شوی دی،

روځ	ورځ
مځکه	ځمکه
سته	شته
سوی	شوی

اوس نو د دې متعدد واو نورو هغو ډیر وزیاتو مثالونو له مخې چه د پښتو ټولنې په فیصلو کښې موجود او په بیلو بیلو مجلو - رسالو او کتابو کښې خپاره شوی دی ګران لوستونکی په ډیر صراحت سره دې فیصلی ته رسیدلی شی چه دغه «فیصلی» واړه لهجوی او د لهجو په باب فیصلی دی . نه د املا او د رسم الخط .

البته څرنګه چه د مخه وویل شو څو محدود املایی حکمونه هم په دغو فیصلو کښې راغلی دی چه د ادی دلته یې زه د دی دپاره چه توپیر یې د پاس حکمونو سره پوره واضح شی را نقلوم. په لاندې املایی شکلونو کښې چه د عین کلمې دوی بیلې بیلې لیکل شوې بڼې یا رسمونه دی دوهم شکل ته ترجیح ورکړل شوې دی.

چلونکی	چلوونکی
ښونکی	ښوونکی
ښونځی	ښوونځی
زهٔ	زه
زړهٔ	زړه
تهٔ	ته
دهٔ	ده
کونړ	کوڼ
راغلی وه	راغلی و
یؤ	یو
ائدهٔ	آینده

یادا چه مجهوله «ې» دمعرو فی «ی» پر ځای استعمال نه شی .

واقعاً چه دا څو حکمونه املایی او یا په رسم الخط پورې مربوط حکمونه دی اما نورو اړه حکمونه (پرته له کوم مثال څخه نه وایم چه دی دلته زماله نظره لویدلی وی) لهجوی حکمونه دی او بس.

الته داچه دغه حکمونه هم بیا په خپل ځای کښې دنوې ژب پوهنې داساساتو سره برابر دی او که یه؟

یاداچه آیادتش په نامه «معیاری» ژبې جوړولو لاره هم همداده که څنګه؟ دا بیا ځانته په خپل ځای کښې اوږد بحث غواړی چه زه به هرومرو په کومه بله ګڼه کښې مفصل پرې وږغیږم ځکه دلته اوس وروسته له دې چه مو داملااورسم الخط مسأله دلهجې اوژبې له مسألې څخه په واضح ډول سره جلا کړه د خپلی هغی وعدې سره سم چه مې دکابل مجلې په تیر و ګڼو کښې کړې وه په املااو په تیره بیاخاص پښتو املا غږیږم .

[نوربیا]

خلك او شاعر

یوه ورځ هغه لوی او پراخه میدان هغه لوړ او او چت غره ته وویل : «ستا په وچویلی کښې د ژوند نښه هیڅ نشته ستا په مخ باندې همیشه د سیلیو او باد ونو څپیړې لګیږی» په همدغه وخت کښې دولس خلکو شاعرته وویل : « ستاسرو کارتل له خیال او اند یښنو سره دی او ستا وجود هیڅ نه دی په کار» سنګین غره په ځواب کښې وویل :

« زه یم چه ستاله سینې نه هرراز بوټی راکاږم - د غرمې سوزوونکې تو دو خه پخپل ساړه دم باندې سړومه - دتوفانې ورځو مخه نیسم پخپلو ګوتو دواورو بڅری جوړوم او ذخیره کوم یې زما له سینې څخه داو بولښتی روانیږی اوناته د ژوند پیغام دروړی» شاعر هم خلکوته وویل: « پریږدې چه زه سرپه زنګانه کیږدم او فکروکړم ایاتا سونه وینی چه زما دزړه له چینې نه ډیرې خوږې اوبه را خوټیږی چه د بشرتنده ماتوی »

«ګویته»

شخصیت

عبدالخالق واسعي

نن ورځ خود شخصیت هرڅوك هر ډول تفسیر کوی ځوك وایی شخصیت عبارت له چوکی اور سمیت څخه دی. څوك مال اودولت اقتصادی اقتدار او ثروت شخصیت بولی. ځوك متانت اووقار درنه ناسته ولاړ ه په اصطلاح سنګینی او په تول دروند والی د شخصیت نخښه بولی. ځینی بیا پر بله تللی دی د ټولو څخه جلا عقیده ښکاره کوی وایی دشخصیت څښتن هغه څوك د ی چه دکور نی سړی وی پلار و نیکه، نوم و نښان، هدیره و دیره یې معلومه وی اصل و نسبت ولری یعنی داډله دپښتنو خبره ده (اصیل خورین) خوښه وی چه اوسنی عصر په نژادی تفوق تعبیر ځنی کوی او داوسنی استعمار ی سیاست دملعنو څخه یوه بشریت و ژونکی ملعنه ده. علم اوفضیلت درلودل، په عصری علومو اوفنونو ګوتی وهل، درو ځنیو قضایاؤ اوسیاسی پر ابلمونو اوجر یا نا تو سره تماس کول، دجهانی اوعالمی مسایلو په شا وخوا کښې زغیدل، اودراءیی اظهار دنړی دروغی اوصلحی وسلامه سره علاقه اومینه څرګندول، هر یو دموډرن اوعصری شخصیت دتشکیل ارکان بلل کیږ ی.

ممکنه ده چه دشخصیت په باب کښې غیر له د ې نور تفاسیر هم موجود وی چه په هغو کښې دې زموږ د هیواد نوی نسل ترهرڅه دمخه ظاهری مظهر یعنی بڼی او ښکلا زلمیتوب اوښایست ته ډیر اهمیت ورکوی ا ود عصری پوزیشن مراعات ترهرڅه وړاندې او دشخصیت مهم شرط بلل کیږی.

خو زما په عقیده داټوله یا بعضی که به چا کښې وی خوښه ترښه مګر که دا یوشی چه زه به یې اوس یا د کړم په چا کښې نه وی که نور په زر ګونو اوصاف او دستاینی وړ خواوی ولری بیا یې هم شخصیت بشپړه نه بلل کیږی اوسړیتوب یې نیمګړی معلومیږی هغه شی دا د ی، چه سړی باید په ژوند کښې ایده آل ولری او یو ایدیالیست انسان وی. دایدیال درلودلو یا ایدیالسټی څخه زما مقصد دشخصیت هغه مرتبه ده چه په هغی کښې سړی ته دومره قوت ور حاصل شی چه بیا فرد یا جامعه دی نشی غولولا ی اونه یې دخپل صحیح فکر او عقید ې څخه بې له یو ه معقول بر هان او حقیقی منطقه څخه اړولای شی.

داسې شخصیتو نه داجتماعی پوهانود نظریې مخې ته ولاړوی چه دوی وایی (فردیه جا معه کښې منحل اومستهلك دی) یعنې یوازې دانه چه په ټولنه کښې ددوی انحلال اواستهلاك غیر ممکن وی بلکه خپل فر دیت یې خوندی کړی او دې ته یې هڅوی چه ټولنه په ځان پسې روانه کړی او پرهره چه یی دی بیا یی پرهغه دې ولاړه شی.

دوی هغه مسایل چه جامعه اوټولنه یې دځان دپاره دمرګ اوژوند مسئله بولی په سړه سینه مطالعه کوی اووروسته تر بشپړه حلاجی خپل مثبت یا منفی قضاوت پرصادره وې دیوه سپیدلی انسان غوندې دهر ې قا فلې ملګری نکوی او نه دشوقی ورآبانی په خبر د هر ی ورامل وی داسی انسانان یوازی د خپل ضمیر زغ ته متوجه وی او صرف همهغه اروی دهر چا پرسورنا غو ږ نه نیسی او په هرچه اوراسته اټن ته نه ورګډیږی. ددې ټولو پای دې خبری ته راځی چه سړی باید فکری استقلال ولری او دمستقل فکر او نظر څښتن وی خودلته به څوك داعتراض وکی چه که هرڅوك دمستقل فکر څښتن وی نو به پریوه موضوع اتفاق څنګه سره راځی او یو حزب یا احزاب به چه اساس یې دفکر وحدت اوبنسټ یې دمرام یووا لی دی په څه توګه جوړ یږی. جواب دادی: په احزابو کښې چه وحدت موجود دی اوټوله دیوه سړی په فکر پسې روان دی معنی یې داده چه د حز بی فکر د حزب هر سړی او دهغه جمیعت هر عضو دځان فکر بولی اودهر ملګری داخیال وی چه نور ملګری دده دفکر او عقیدې متابعت کوی نو په دې اساس ګواکی دحزب هر غړی. دځانته فکر او مستقل نظر څښتن دی او پخپل شخص فکر پسی روان دی چه په حزبی صورت مشترك فکر ځنی جوړ شوی او په انفراد ی حیث دهر عضو او غړی مستقل فکر دی نو اوس داعتراض جواب وشو او په دې کښې کومه اشتباه پاته نشوه چه دشخصیت څښتن په عین حزبی حالت کښې هم د ځانته عقید ې او مستقل فکر څښتن بلل کیږی. (پای)

عزیز کاکړ

د افغانستان د ختیځو او مرکزی برخو د کوچیانو

اجتماعی حالت

(۲)

بربویاباد برك یوقسم لرګی دی چه ددوی په نزد سوچه بلل کیږی. دنظر د نه پېښید واودپیر یانو د مدافعې له پاره مهم دی.. دغه لرګی سوری کوی. سور تار پکښی تېروی اودماشوم په غاړه یې اچوی. باید وویل شی په دې ټو ټکو نارینه یو نیم باورلری خوښځې ټولې پرې عقیده لری.

خرمهره یوقسم مری ده چه په عاشقی کښې لوی رول لری اودمعشوقی درضا کیدو لودناملا یمو او کلو زړو نو ښه دوا ګڼل کیږی.

خرموره اول په هندوانو اوجوګیانو د میږی. بیا په اووز بردستواوکوټکرو ملایانودمیږی وروسته په اووچتو پیغلو په اوه رنګه وریښمو پوښل کیږی- وروسته له هغه خرمهره داستفا دې وړوی په او بو کښې مښل کیږی اومقصود ته ورکول کیږی چه څنګه یې دزړه مراد وی پرې بریالی کیږی او ځی. نوری ټو ټکی هم شته چه دعاشقی له پاره معمولې دی - دپیریانو او دبیلو بیلو اعراضو لکه سرخوږیدل، غاښ دردی- غوږدردی - اونوم بې ځایه کید لوله پاره تاویزونه معمول دی. دآسې هم وایې چه پیریان د لېوانو له خوا خوړل کیږی. ددې له پاره چه پیریان په ماشوم کښینی اویاپیریان په پیریانی را نشی دلیوه غوښه په سره ټوټه کښې تړی دپیریانی په غاړه اویاخولی کې ئی ځړوی اویاداچه دځمری - پړانګ اولیوه نوك په زرو کښې پوښوی دتا ویزسره یې دماشوم په سر ځړوی.

څرنګه چه دوی دخپل ژوندانه شپې د طبیعی ډیوواودشنه آسمان ځلا ندو ستورولاندې تیروی توله دې کبله ستوری ددوی دوخت پیژند لو سره مرسته کوی همدارازدوی دنووستور وختلواوکوزیدلو په واسطه دهواد حالاتو تغییرات- موسمونه، اودکېود لیږدیدلو دمیږودبیاتې کولووخت پیژنی - دشپی وخت دستورو دموقعیت له مخې پیژنې - له دې کبله هغه ستوری چه ددوی په ژوندانه کښې ډیر مؤثر او محسوس دی بیل بیل نومونه لری لکه دنظام ستوری، د عقرب - قوس - وچې اولمدی څلی ستوری - پیرونی، کټ امسا- لیوه، پسه - سپی - دسرطان او سنبلی ستوری اوداسی نور- همدارنګه دلیلی اومجنون په نامه دوه ستوری پیژنی چه لیلی پښتنه چټه پیغله ښایسته او ځلانده ستوری دی اومجنون دهشین هلك دزړرنګ اودلیلی عاشق دی -کیسه داسې وایی چه :-

لیلی یوه کوچی نجلی ده چه د کډی اړولو په وخت کښې جی په اوزه له کیږ دیوځه لری اوبو پسې تللې وه - لیلی د چینې په غاړه مسته ناسته ده اوپه خپلو ښایسته لپو جی له اوبونه ډکوی. مجنون دیوپاچا زوی په ښکار پسې وتی دی. خود هوسی زغلولو په نسبت دخپلوملګرو څخه بیل شوی اوتندې هم پسې اخیستی چېرته په چینې پېښ شو.

اوچه هغه شپه د شهزاده سترګی په ملالوسترګو ولګید لې- تنده یی له یاده ووته اوسم دلاسه دپیغلې دحسن لمبه دهغه په زړه کښې ننوزی او بیهوشه لوېږی پیغله چه دځوان دا اسفنا که صحنه وینی زړه یې پرې سوځی اودځوان سرپه خپلو زنګنو زدی څرنګه چه شاهزاده ډیر ستړی واو اوس یی دنا زپه بالښت سرایښی داسې په خوب کښې ډوب ځی چه ساه یی هم

کښته پورته نه کېږی نه اولکه مړهسی ایسی - پیغله چه دشهزاده ښایست اوځوانی وینی زړه پرې بایلی په دې ډول دواړه یوېر بل مین کېږی او دپاکی مینی بار ارتودېږي .

په پیغلې ډیره موده تیریږی د یخلی وخت تری ځی خلك په کیږدی کښې تېزی ناست وی .

اووړوکی ورغومی له تندې نه بغه هارې کوی خو عاجزه لیلی په دوه جالو کښې ګیره شوې وی .

یوې خواته یی دعشق کلك ځنځیرونه نه ریږدی چه لا خپل مجنون نه بیله شی له بلې خوایی دبد و وړوورونو ډارئی په زړه دی چه پری خبر نشی . په دی تشویش کښې ډو به ځی ما سپښین ماز یګر کېږ ی لمر په غړ غږو وي . اوښکی یې دملغلر وپه شان د له ملالو سترګونه په بهیدلو پیل کوي او په پای کښی په یوعالم ناامیدی له خوار مجنون نه په خوب کښی رخصت اخلی جی په او ژه په ډیره مایوسی دکیږدی خواته رارهی کیږی غا فل مجنون لاهم په خو ب ډوب ویده وی اود خوږی معشو قی په بیلتون هم نه خبر یږ ي .

شپه تیریږی د شپی په دوهمه شومه کښی دکډی کولو بوخت کښی عا جزه لیلی دیوه عالم فرا ق ، ناامیدی اوپه وریت زړه داوښانو جلب په لاس نیسی اورهی کیږی مجنون چه دغفلت له خو به پا څیږ ی ګوری چه وخت تیردی نه جای وی نه جولا - څرنګه چه ددوی عشق پاك ومجنون خدای ته په زارو کیږی چه دواړه په آسمان کښی ستوری شی اونورعاشقان له دوی نه پند واخلی چه څومره یوتربله دوصال له پاره سرګردانه وی خدای دده سوال منی لیلی اومجنون دواړه ستوری کیږی .

څرنګه چه وویل شولیلی کوچی ده اورو ښانه ستوري دی چه په پسرلی کښې دپیښور (لمرختځ) خوانه راځی اوهلبندو (لمر پریواته) خواته روانه وی په مجنون باندې چه په ویده توب کښې ډیر ځنډ تیر شوی اوداوړی اخردی، چه له خوبه پاڅیږي خبر اخلی چه لیلی هلبندوته تللی ده . دی هم په ژېړرنګ ستړی اوپه خاورواود وړوپټ هلبند و خواته په بیړه روان شی - داهغه وخت دی چه په لیلی اوړی تیرشوی وی اودمنی ورځی رانژدې وی . په کوچیانو کښې دیخنی طاقت نشته بیرته دهلبندونه پیښورخواته کډې کوی . څرنګه چه دعاشقانو برخه خواره وی ددوی په نصیب کښې بس فراق وی، نوکه یوتربله سره نژدې هم شی سره کاڼه اوړانده کیږي . مجنون اولیلی دلارې په نیمایی کښې سره تیروځی . مجنون لاهم په یخنی کښې هلبند خواته روان دی، اولیلی پیښورته لاړه شی - خوکله چه مجنون هلبند کښې پوښته وکړی اودلیلی پته پیښور کښې بیا مومی مجنون خوار بیاهغه خواته روان شی لیلی ژمی په پیښور کښې تیرکړ ی چه بیرته هلبند ته راځی بیاسره په لاره تیروځی - مګر ددوی دیدن نه کیږی دوی به ترآخره پو ری یو بل پسې سرګردان وی ترهغوچه په جنت کښې به یوبل سره دیدن وکړی .

اولاد پیدا کېدل

کوم وخت چه لاما شوم دمور په ګیډه کښې وې دنارینه دپیدا کیدوله پاره عجیبې اوغریبې پیش ګویی کیږی په دی سبب چه ددوی دژوند تربګنې اوتربوری دی اویوتربله بې حسابه بدی ګانی لری نویوازی نارینه ماشوم دی چه دخپلوتیر شوو پوراخلی . په کوم ساعت چه هلك پیداشی - سمد لاسه ټوپکونه و یشتل کیږی، نور شاوخوا کورونه چه خبریږی هغوی هم په دې خوشحالی کښې برخه اخلی اوتوپکونه ولی . نارینه اولاد کوروالاهغوخلکوته چه ټوپکونه یې ویشتلی شیرنی لیږی . سباته پسونه حلالیږی - ښځی اونراتنوڼه کوی میله جوړه شی اودا نیمکی په لنډیو کښې تکراروی .

ښه ښر و ونده ښه یې ستو ر ی
ښه پلا نی ښه یې ز و ی کی

ورو سره بوري ښځې پښې وچر کاپې راوړی اودخونې په نامه ې دمشوم مورته ورکوی . په نوم اښودلو کښې کوم خاص مراسم نشته - دهلکانو نومونه ښځې زدی - دنجلی په پیدا کیدو خوابدی کیږی او دهغې پیدا کیدل بدشگوم گڼی . څرنگه چه د کوچیانو ژوند په کډې کولو او مزل وهلو تیریږی نومیندی اکثر په لاره لګیږی - ښځه ددوو یادرې ساعتو له پاره دکډې نه پاته شی - وروسته له هغه خپل بچی په څادر کښې راتاوکړی شاته یې واچوی اوپخپل مزل روانه شی - مگر ترشلو ورځو پوری د شړومبو اومستونه پرهیز کوی .

سنتی

دوی په سنتی کښې کوم خاص مراسم نه لری - کله چه په منی کښې کوچیان له هلمند نه راکوږشی هغوی چه په لوگر کښې مخکې لری هلته اونوریی په پکتیا - ننگرهار - پښتونستان او د خپلو ژمومینو کښې - پیښ زیری او تجربه کار سړی او ځینی نور یې دشاوخوا کلو دهشین ډمان غواړی او هلکان پرې سنتوی .

سنت کوونکی ته له اتیاتر سلوروپیو پورې ورکوی . د سنت کولو نیټه یو کلنی نه تر درې کلنی پورې وی . داد ې هم وویل شی چه دوی ځانته معصوص ډمان نه لری معمولا هرسړی چاړه اوبیاتی ځان سره لری مرجوړ ول - زیره خریل دیوبل په مرسته کوی .

دهلکانو اصلی نومونه

کوچیانو ترنورو پښتنو په زیاته اندازه خپل پخوانی دود ودستور اونومونه ساتلی . وی په نوم اښودلو کښې همغسې خپل پاتی دی ، اودعربانو نومونه یې نه دې ملی همدغه سبب دی چه په دوی کښې اکثراً سوچه پښتنی نومونه معمول دی . لکه غمی - غاټول غونډل - جنگریز - کچکول - کټور - مجلس - طوطی رسالدار - ننگلس اوداسې نور ...

دهلکانو بدل نومونه

سربیره په اصلی نومونو هلکان په بدل نومونو هم یادیږی . بدل نومونه نسبت اصلی نوم ته په کور او کلی کښې زیات معمول وی لکه : ملوا - بغه - اجیسکی شغال - کږه - کټی - پشو - کټه (دك په پښتو) مادو - مکه رلسی - مچخ اوداې نور .

د جینکو نومونه

همدارنگه په جنکو باندې هم سوچه پښتنی نومونه اښودل کیږی لکه - روشنی - بوردانه - عمرخیله - سالداره زرکه - لښته - رازیمه - اناردانه - خالداره - گل بشره گل روپی - تاڼه داره - اتلسه - ملاله - سرداره - گل داره او داې نور ...

خیښی کول

خیښی زیاتره په نزدې خپل خپلوانو کښې کیږی یعنې څومره چه د کامی او خپلوی رابطه سره نزدې او ټینگه وی ، هغومره په کښې خیښی ډېره وی - اندامورہ اوپهلوانه پېغله چه دکډې اوکور بارولو او دکوچیتوب دنورشاقه کارونو له باره وتی شی په نورو پېغلو امتیازلری که له داسې پېغلې سره بنایست هم یوځای شی دپېغلی دپلار هواډېره زیاته شی آن تردی چه هغه دچاخبره دچاسلام ته ښه وعلیکم نه وایی داسې پلار یواړې غټوشتمنو خلکو سره خیښی کول غواړی چه هغوی کولای شی دهغې دلور دروند ولور اداکړی .

دولور نساب له حده تیردی دادنا پېغلې ولور څلویښت زره روپی او داعلی پېغلی ولور حدنه لری کله کله ولور تریو لك روپیو هم تیریږی .

شته مونه ښی چټې - ښایسته او مستې پېغلې هر کله تیاری وی خوله بلې خواډیر گلالی ځوانان شته چه وچی شونډی گرځی اونشی کولای چه د پېغلی ولور اداکړی او - ښځو خاوندان شی .

داې هم شویدی چه یو ځوان دخپلی نجل دوده ولور له پاره په کلونو کلونو ورکوی چه دخپل دخسر ولور اداکړی خو چه کله بیرته ستون شی گوری چه نجل به ې پیښ سرې شوې وی .

له دې کبله چه دولور اند ازه ډیره جګه ده اوخلك یې توان نه لری نوپه سلوکښې بوی یوتربله په بدل خیښی کوی .

ریبا ری

که نجلی په بل کام کښې وی او دهغه ښایست اونور صفات هلك والاته معلوم نه وی نودلومړی ځل لپاره دوه یاد ری سپین سرې ښځې پسه یوه بهانه دنجلی والاکورته ورځی- نجلی په نابازه کښې وینی که نجلی دښځوخوښه شوه نوبلې شپې ته څوکسه سپین زیری سړی دهلك له پلار سره دنجلی دپلاره کورته ځی، اوپه ډیره مؤدبانه توګه وروسته له ښې ناستی دنجلی پلارته دا سې وایی:-اګر که زموږ او ستاسو دوستی پخوانی ده خوموږ را غلی یوچه که خدای وکړې چه دا دوستی په خپلوې بدله شی اوزما پلانی روی خپل زوی وګنی اوپه غلامی یې قبول کړی-دجلی پلار چه دپښتنو سپین زیرو جرګه ورته محترمه وی اکثراً هو وایی خوډیرلبزداسی هم شته چه را استول شوې جرګې ته ښه نه ګوری اودخپل ټغرنه یې ناامیده جګ کړی. که چیرې دنجلی پلار هوکه وکړه سم دلاسه دنجلی پلار پخپل کور کښې پسه حلالوی ، او راغلو خلکوته ډوډی ورکوی-اپجاب او قبول کیبزی دهلك پلارته دسمال ورکول کیبزی (زوم پخپله حاضر نه وی) . دهلك پلاردستمال لکه رګل په شا ن دخپل لنګوټی دشملی په څنډه زړوی اوپه لومړی وار پنځلس زره روپی ولور و رکوی مګر دولور نساب لاتر هغو پوری معلوم نه وی- زوم والاچه دخپش له کوره راروان شی دیرش- څلویښت ډزې په لاره کوی اوکله چه کورته ورسیبزی دډزوشړ قهاری شی- دهلك پلار بیګاته پسه حلالوی اوهغوخلکوته چه دمبارکی لپاره راغلی وی ډوډی ورکوی ددستمال له راوړو سره سم ښځې په خوشحالی پیل کوی اودانیمکی وایی:

نو ې ښادی د ې مبا ر ك شه
ورمیال راوړی شملې یې پورې
ماور بل جوړ که ته جوپه ته لاړې مینه
یې بورې مکړی دپلا نی موري
په هره نیمکی کښې دزوم نوم اخلی.

مبارکی

څوورځې وروسته زوم والاپلاریه پلاریو یوسپین زیری راټول کړی- دوه- درې جوړو کالیو اوخه ګاڼو سره دخپل خیش کورته روان شی - خیش پخواتر پخواترتیبات نیولی وی-پسه یې حلال کړی وی- بیګا اوسبا راغلوسړوته ډوډی ورکوی. په سباباندې دهلك پلار تقریباً شل زره روپی نورې هم ورکوی -مګر تراوسه لا هم د ولور اند ازه تعین شوې نه وی .

کله چه خیش میلمنو ته ډوډی کېښوده اودډوډی نه-خلاص شوه هرڅو کسان چه دهلك پلارسره راغلی وې په وارسره له پنځوسو نه نیولی تردوه سوورو پیو پوری دنجلی دپلار په دسترخوان کښې اچوی دنجلی پلار د سترخوان ټولوی اودهر نفر پیسو ته ګوری. چه څومره یې اچولی وی دهغو یو په دوه پیسې په یوه دستمال کښې غوټه کړی او دیوی ښی لنګی سره یې یوځای هرسړی ته ورکوی وروسته له هغه خیښان بیرته کورته ځی .

داخترمیوه

پخوا ترواده کولو هرڅومره اخترونه چه راځی په هروارسره پنځه یاشپږ سپین سرې ښځې دا خترپه ورځ راټولیبزی- څه میوه سره دیوې جوړه کالی اخلی دنجلی کورته روانې شی اخترمبارکی ورکوی-نجلی و ینی ټوقې موقې ورسره کوی غرمه تیروی بیا بیرته کورته راروانې شی .

دمړی دعا

که د خیښانو له د واړو خواو نه کوم یو مړشی خیښ یې نراوښځی راټولی شی ، یوه پسه سره دڅه وریجو یا او ړو د خیښ کورته ورځی د هغوی په غم کښې شرکت کوی اودعاکوی .

چغل بازی

په دوې کښې چغل بازی اودزوم ورتګ دشپې له خوا دخسر کورته رواج نه لری اوحتی زوم نشی کولای چه له کوزدې د ورځی نه دواده ترلسو ورځو پورې دخسر کورته ولاړشی- مګر کیږی چه ځینی وخت ډېر سپین سترګی زومان په چل خوا ښی سره جوړه وکړی اوپه نیمه شپه دخسر کیږدی ته چه خوا ښی نجلی ته دغړاس ترشاځای ا چولی وی ننوځی مګر ډېرواقع کیږي چه زومان په سپیانو ودانګل شی او یاداچه دغله ګومان پرې وشی اوپه ټوپك وویشتل شی اویاداچه د آوښوله خوا چه په هغوی بده لګیږی قصداً زوم په ټوپك وویشتل شی.

لنډون

کوم وخت چه دواده موده رانژدې شی بله ناسته هم کیږی چه دلنډون په نامه یادیږی. دلنډون په ورځ زوم والاسره واړه سپین ږیرې دنجلی کورته ورځی خپل خیښ سره نوړاندی او وروسته د ولور ټول حساب فیصله کوی . معمولا د نجلی پلار یا دهغه وکیل وایی چه پرته دپخوانیوور کړشوی پیسونه شپیته میږي- دوه درې اوښان اوپنځه لس زره روپی نوری هم راکړه.

که چیری ولور ډېر ایښودل شوې وی په دې وخت کښې راغلی سپین ږیری اومشران هریوپه خپل وار دولور دلږېدوله پاره خپله بښنه دلنګوټی-جامی څادر- څپلی-خولی اوڅه پیسی په ډول غواړی .

دنجلی پلارد سپین ږیرود وینا په لحاظ دڅه میږو اوپیسونه تیریږی - زوم والا وروسته له هغه دنجلی دپلارغوښتل شوی پیسی ورکوی .وروسته له هغه دواده د مصرف په باره کښې خبری - عموماً څلویښت منه وریجی- اوه-اته پسونه اوپنځه- شپږ منه غوړی سره دځینو نورو شیانو دهلك په پلارپه باندې ږدی اوهم په دې ورځ دواده ورځ ټاکل کیږی .

دتره خیلو زلمیان په خپلودغسې موزونو حرکاتوسره چه اټن یې بولی دمینې اوساز هیجانات افاده کوی.

.....

خطې

زوم والایو ورځ د مخه ټول کلی اوکوراونورو خپلوانوته دواده لپاره خبر ورکوی .

دخطوپه ورځ پلارپه پلار مشرې ښځی چه تعداد یې لس اوپنځه لسوته رسیږي دواده خرڅ اودوه درې جوړې کالی اودناوې ګاڼې په یوه خورجین کښې اچوی اودجلی والاکورته یې وړی دنجلی پلارسم دلاسه هرې ښځې ته یوه یوه جوړه کالی ورکوی او راغلې ښځې په هغه شپه دنجلی والاکور کښې پاته کیږی.

واده

دخطو په سباد کوراوکلی نراوښځی واړه اوزاړه غیرله زومه ښې جامې اغوندی - دنجلی والاکورته په غزلوویلو او اټنونه چه وړاندې یې نر-اووروسته یې ښځې وی روانې شی .

واده دنجلی والاپه کورکښې بنا شی واده ته راغلی خلك په هغه شپه ګرد دجلی والاکورکښې پاته شی هغه ورځ اوګرده شپه په خوشحالی اواټنونو تیروی دشپې اوورځی دپخلیو دیګونه باندې وی اوخلکوته ډوډۍ ورکول کیږی .

ناوې

چه مازیگرشی نوچټی او مستې پېغلی په ناوی سور څادر واچوی اود اریا په لاسو ناوی دلاسه نیسی او شنیلیوته یې باسی ددوی زړونه د خوشحالۍ نه ډک وی او په یو عالم شوراومستی دامخصوصه نیمکی وایی اوهرواري دلنډۍ په اخر نیمکی کښې ناوې ته دمیړه نوم وریادوی .

د یدن کوه سترگې مړې کړه
زموږ ناوی چخمټه موږ ته نه ژاړی
سبابه دا مالې فانی د دیدن وینه
او که دفلانی لغتې وخورې بیا به ښه ژاړی

ددې نیمکۍ په ویلو سره ناوې په سق سق کولو پیل کوی-اوښکې تویوی اوژاړی-چه لږ څه تروږمۍ شی ناوې دمټ نه نیسی اوپېغلې بیرته کیږدۍ ته راځی گرده شپه په خوشحالتیا، غزلو او اتڼونو تیریږی .

دشپې په اخر کښې چه سحر نژدې وی ناوې پرتخت کښینوی - دناوې په لاس نکریزې ږدی اونورې پېغلی هم د تبرک په لحاظ په لاسونو نکریزی پورې کوی اودانیمکې په لنډیو کښې وایی .

دکو چیانو نوې ځوانان هم چه مینه مینه اتڼ کوی

په لاس پورې کړی خینه
دپلار خاطر ته وگوره وشینده خینه

اوکه چیری نکریزې لږی شی اوپیغلوته پوره ونه رسېږی بیانو دانیمکی وایی اودنجلۍ دخسرنوم اخلی .

په لاس پورې کړی کړی خینه
که خینه یی لږه شوه فلانی کړی مسله

په دې وخت کښې شفق وغوړیږی اودلمونځ وخت راشی - دپیغلوخوږ مجلس وشلیږی ورانه اوویجاړه راشی ټولې خپلو مونځونو ته روانې شی-لمونځونه چه بیرته وگرزی دسبایی مړۍ تیاره وی اوپه خوړ اوپې پیل کوی له مړۍ نه چه خلاص شوه ځوانان ډولونه په غاړه او توری په لاس سرونه لوڅ په اتڼ پیل کوی- سپین ږیری شاو خواته ناست وی اودځوانانو داړک پړک تاوید لوسیل کوی .

کوم وخت چه اتڼ ښه تودشی سپین ږیروته هم دخپلې تیرې ځوانۍ په یاد جوش راځی- بی خوده چیغی اوناری وهی اوکله کله دځوانانو په اتڼ کښې هم داخلیږی . پېغلې هم په خپل وار ځوانانو سره رقابت کوی. سپین سرې ښځې ناوې سره په منځ کښی ناستې وی په لاسونو داریاوهی اوډولوسره غزلې وایی- شاوخوایې چټې اومستې پیغلی اړک اپړک په اتڼ تاویږی اودانیمکی چه مخصوص داتڼ غزلې دی وایی اوپه لنډیو کښې یې تکرار وی .

(۱) وترگل نازکې ، خیالی ټکری دې پورته که له مځکې .

(۲) ودسحر باده- راټیټه کړه لیلی له لوی سرحده وپوری ولاړی دمنی ورځی همدغه وی چه لاړې

تودیږی دغرمې تنورتو دیږی - شا مسته ور ته ناسته رنگارنگ خولی بهیږی

یاره زمایاره - داد واړه لاس راواچوه په غاړه یاره زمایاره- پالیز کښې خټکی راځینې غواړه

داټن یوه بله نمونه

ولیلا- لیلا راځه شهزاده ملنګه ملنګه یاره کوم وخت چه دناوې سرواوبدل شي - دړی اوخالونه ورته زدې پیغلی په ګډه سره دانیمکی وایی او په هروارد ورورنوم وریادوی لکه :

کیبز دیء دړی په اوربل وو ختې تیریبزې
راشه پلا نیه و ر و ره که خور دې ګوری

اوبیادانیمکی وا یی :

رڼې دړې پی کیبزدی چه ښه ځلیبزې
له ورورنه خپل لیور پې خوشحا لیبزی

ناوی ته ښایسته کالی وراغوندی اوپه ګاڼویې ښایسته کړی اوکه چیری دګاڼی نه کوم شی لبزوی نوپیغلی د مسخرو په ټوګه دزوم نوم داسی په نیمکیو وریادوی .

جوګی ته تاوی جوړه کړې جوګی ولې نه راځی
دجوګی مې بنګړی نشته جوګی ولې نه راځی

چه ناوی ښه ښایسته اوسمباله شوه اګرکه زوم قطعاً دوراسره نه وی راغلی خو ددې له پاره چه د ناوی ښایست وستایی داسې وایی :

زمونږ ځومه ګړنګنه - ته راننوځه د ننه
زمونږ د ناوی مخ ګوری که ونه

داهغه وخت وی چه زوم والاد ناوی دوړوله پاره انتظار باسی اودبلی خواد ناوی اودپلار ګڼې په منځ کښې بیلتون رانږ دې وی اوپه ډیر خواشینی پیغلې خپلې ملګرې(ناوې) ته دا نیمکی وایی :

ناوې دکوره لرې نه تلې ولې لاړې
داد دادا له څنګه نه تلې و لې لاړې

خسرخیل دناوې راویستلو ته په یوعالم شوق انتظار باسی نوپه دې وخت کښې پیغلې دا نیمکی په لنډ یوکښې وایی اود خسر نوم اخلی:

اوښې غړ غړې کړی مزل لرې دی
فلانی ته ناوی ورکړی کوریې لرې دی

دناوی دراویستلو په وخت کښې پیغلې دانیمکی وایی اوبیا ناوې ته دخسر نوم وراخلی :

ناوې راوبا سیء دوړاندې وړاندې
جلو یی ورکړیء دفلانی په لاس کښې

ښه مایه اوښ په رنګارنګه دسمالونو ښایسته شوې وی - ښه زمبکی یې په غوږوکښې اوګړ نګانې یې په ترسیری اوپه غاړه ورځړوی داوښ په شایوسوچه قالینه غوړول شوې وي اوپه ناوې سورشال اچول شوی وی.

پلار دناوې لاس نیسی اوپه اوښ یې سپروي اوجلو یې دخسرپه لاس کښې ورکوي - که چیری دناوې وړلو

هرڅوک پوهېږی چه کوم هیجانات په دوی اټن کوی.

په وخت کښې زړه بدی پېښه شی دزوم والاښځې دانیمکی وایی اودناوی دپلار نوم اخلی :

تور ور بل تور نیم اوبدلې نیم یې خور
که موږه ناوی یو وړه فلا نیه مخ دې تور

ورا روانیږی. دناوی پلار ګڼی تریوه حده پوری جلو کوی بیا خدای پامانی کوی اود دعا کولو نه وروسته بیرته خپلو کورو ته روانیږی. په ورا کښې سړی دوړاندی اوښځې وروسته په غزلو اټونو اوټوپك ویشتلو کورته روانیږی. کوم وخت چه کورته ورسید ل ناوی چه له اوښه ښکته کیږی د هغه دپښو لاندی پسه حلا لوی دکیږدی برسرته ناوی ته ځای اچول شوی وی. د لومړی ځل له پاره چه ناوی نوې کیږدی ته داخلیږی دکیږدی دمخی ستنی (تیرك) درې واره جګوی. وروسته ترهغه ناوی، په خپل تخت کښینی اوهره یوه ښځه چه راشی ورته سلام اچوی. مخ لوڅوی اوښځی ورته دمخ پوټونی پیسې ورکوی او همدارنګه چه ځوانان کیږدی ته داخلیږی، ناوی مخ پټې پاڅیږی سلام اچوی. ځوانان هم ورته پیسی ورکوی .

کرداره (جهیزه)

کوم وخت چه ناوې دپلار په کور کښې وی دخپل دناویتوب اودخسر دکور دورتګ له پاره سوغات تیاروی خولی , دتمباکو خلطه، اودسمالونه ګنډی اونورې همزولی پیغلی هم ورسره مرسته کوی. ناوی چه دمیړه کورته لاړه شی، دناوی پلار دخپلو نور و ا خیستل شوی شیا نو سره کرداره هم دناوی دخسر کورته لیږ ی بیا دناوې خواښې هر یو ځانته. خولی، رنجرومې دسمال او نورشیان ورکوی .

ناوی تردرې ورځو پورې په څه شی لاس نه وهی. په دریمه ورځ لوی دیګی پخیږی. ښځی راټولې شی. ناوی څمڅی په لاس واخلی. ټولو ته په خپل لاس اوګره باسی اویا داچه ناوی لاس دغوړو په ډك ژی کښې اویا داوړوډکه خورجینه کښې ننه باسی غوړی او اوړه باسی. وروسته له هغه په رسمی صورت دکور ښځه شی او ترلسو ورځو پوری سړیو سره خبرې نه کوی اوهم تریودوو میاشتو پوری دخلکو په مخ کښې دمیړه نه او ترډیرو کلو پوری دخسر. مشرلیور اونورونژدی خپلوانونه مخ نیسی .

زوم

دزوم حال دتأسف وړدې په کومه ورځ چه واده تیارشی ټول واړه زاړه دناوی کورته ځی. زوم په خپلو خیرنو اوشلېدلو کالیو کښې بیګار کوی .دخطو په ورځ نه یوازې خپل اوښان بلکه دګردکام اوښان اورمې په مخ واچوې اومخ په غرونو او بیدیاووسم شی. نورګرد په چړچو اوخوشحالی بوخت وی خوداعاجزلکه یونی له اوښانو، میږو، تیږو او بوټو سره په غره کښې خبرې کوی دواده په دری ورځو کښې دا خوارکی په غرو کښې ورکوی. هغه نه وروسته مېنې ته راشی خو بیاهم ترلسو اوپنځه لسو ورځو پوری خپلی کیږدی ته نژدی نه ورځی اوځان دماما، د تره اونورو کره میلمه کوی ناوې ته بیل ځای اچول شوی وی. که زوم ګوندی کومه شپه غلی راشی اودخپلې ناوی تر څنګه پر یوزی.

زوم چه له ډیرې میلمستیانه دخلکو په کور کښې اودهمزولو دمسخرونه په تنګ شی نوسل زړه یو کړی اود شرم اوحیادروندبار په ډیر ترددله ځانه لری کړی نیمه شپه په کراره کراری کښې چه ټول ویده وی په ډیره آرامی د کیږدی. ترشا خپلی ناوې ترڅنګه ریوزی، اوهم سباله وخته چه هیڅڅوك یې ونه وینی دخپل ځای نه پاڅیږی اوترماسپښینه پوری یې سترګی خړې وی اوله شرمه کیږدی. ته نشی راننوتی. داسی هم کیږی چه زوم په دی پنځه لسو ورځو کښې چا سره مزدورشی .

پلار یاورورپسې ځې کورته یی راولی. خو ځینو سپین ږیرو به دا هم ویل چه د دې زمانی ځینې هلکان بی شرمه اوبې حیادی په دې چه خپل پوزپه لنګو تی تړی چه څوك یې ونه پیژنی اوو راسره ځی د شپې هم سپین سترګې توب کوی. کیږدی ته ځی چه ټول و رباندی خاندی او دبی شرم او بی حیا خطاب ورته کوی .

دمړی مراسم

څرنگه چه په ښځه کولو سره ددوی ډیرې پیسې لگیږی. همدارنگه کوم وخت چه مړی وشی هم ددوی بیخ وزی. دمړی په وخت گرد خپل او خپلوان خبریږی پسونه حلالیږی او پنځه شپږ زرورو پیو پورې سقاط ویشل کیږی. په دریمه بیا هم ښه خیراتونه کیږی. تراوه جمعو پوری د جمعی په هره شپه خیرات کوی. په دوی کښې خیرات ورکول ډیر اهمیت لری. که چا ډیر خیرات وکه د سخاوت نوم یی په جهان کښې خپریږی. نه خیرات کو نکی، ته دممسك او موزی خطاب کیږی خیرات خوړو ته باید گرد خپلوان وغوښتل شی او که چیری ونه غوښتل شول بیا دی له هغو نه ددوستی طمعه دی هم نه کوی قبر ته د خپل مړی دوړلو له پاره د کیږدی په دوه ستنو پوری د کیږ دی پیڅولو نه (پټ) گنډی. مړی پکښې ږدی او بیا یې د کټ په شان څلور کسه په خپلو اوږو وړی دوی د خپلو مړو له پاره ټاکلی هدیرې نه لری، مگر په میله ځایو او دژمی مېنو کښې چه د کال ډیر لږه موده ساکن وی، ځایونه معلوم وی.

په لاره او کډو کښې چه هر چیرې مړی وشی هلته یی خښوی، مگر د استثنا په صورت کوم غټ روحانی سړی او یا غټ ملك چه مړ شی او وصیت هم وکړی چه ما پلانی ځای کښې خښ کړی نو دهغه د وصیت سره سم دهغه مړی په آوښ باروی او هغه ځای ته یی رسوی.

گاوندیتوب

احمد زایو او دهلبند نورو غلجیو کوچیانو په منځ کښې گاوندیتوب رواج لری. کله دیوه خیل کوم کورد بل خیل سره خیښی کوی. له دې کبله ددوی خپلوی او دوستی سره ډیره کلك وی نو خپل خیښ دڅه وخت د پاره خپل میله ځای ته راولی او ژوی یې دوښونه مفته استفاده کوی چه بیا دی لمسیو ترزمانې پوری د همسایه په نامه یادیږي. یا کیږی چه هغه هم وروسته ځان د هغه ځای شریك وگڼی او یا داچه د بدیو په اثر دیوې کورنی ژوند له خپل قام سره بد شی هغه مجبور شی چه خپل میله ځای پریږدی بل ځای ته ددرخواست په صورت په گاوندی قبول شی، او یا نو موړی کام ته پناه یوسی چه په آخری صورت کښې سربیره په هغه چه مالخریی مفت وی دهغه دمال او سرساتنه هم کیږی. (پای)

✲✲✲✲✲✲✲✲✲✲✲✲✲✲

انسان

همیشه ویریدل - په هر وخت کښې هیله او اسره لرل هر کله دیخوانیو خاطراتو یادونه، دایمی شکایتونه، مسلسله ناراضی - ددروغو په لذت پسې افسوس او ارمان - په حقیقت پسې هیڅکله نه گرزیدل، خپل ځان له خپل اصلی قیمت نه کله زیات او کله کم گڼل - یوازی په غم او محنت کښې ځان بیژند نه او گور په غاړه دژوند په ما هیت پو هیدل.

دادی دانسان حقیقت یا لږ تر لږه زما مفهوم او معنی. سره له دغو ټولو خبرو زه پخپل ژوند کښې یو حیققی افتخار لرم هغه داچه ددروغو په شهرت پسې هیڅکله نه یم گرزیدلی.

هیڅکله مې بې دعشق له درشله بل شی، ته سر نه دی ټیټ کړی. زه عشق همیشه له ځانه لرې کړی او بیل کړی یم او دښه نامه تنده یې په ماکښې پیدا کړیده مگر عشق او افتخار یوه هم تراوسه پورې بې دزړه له غمه نور څه نه دی را کړی.

«الفیری»

لیکونکی سیدال شاه

په شعری نړی کښې د رحمان بابا موقف

زمانې ډیر پیاوړی د زړه او دماغ خاوندان د خپلو نیمګړ تیا وو د پوره کولو له پاره پخپله غیږ کښې رو زلی دی او هر یو یې د خپل طبیعی استعداد سره سم په کاراچولی دی ځینې یې د قلبی عوا طفو او احساساتو ترجمانان ګرځولی دی او ځینې نوریې د عقل په وسیله د جسم او مادې سره په شخړه غورځولی دی - تر څوچه د معنا او مادې نیمګړی اړخونه پوره او د کم او کیف په نړۍ کښې د ژوندانه یو خوږ جریان پیدا شی او د ژوند ترا ژ یکی د استان د فن او هنر په بنسټو نو داسې لطیف او د ښکلا په ګاڼه وګاڼی چه د بشرژوند له یك نواختی او بیخوندی څخه وژغوری داډله کسان هغه څوك دی چه تل د واقعیت په دنیا کښې له یوې خوا طبیعی تابلو ګانو او انځورو نوته د لطف او ښکلا رنګ ورکوی او د بلې خوا د ژوندانه دپاینښت له پاره آلات او لوازم راغونډ وی دلته که ځیر شوا وو ګورو دا به جوته شی چه لطف او ښکلا د ژوند د تجدد او نوی کیدو وسیله او صنعت د ژوند د پاینښت عامل ګڼلی کیږی - د لطف او ښکلا قهرمانان عقل د قلبی عوا طفو د اظهار او نظم له پاره د یوی آلې په حیث استعمالوي مګر د علم خاوندان ور څخه د مادې او کمیتی څیزونو په تحلیل او ترکیب کښې د حاکم کار اخلی یعنی دوی عقل ته د حاکم په مقام قایل او هرڅه د عقل تر سیورې لاندې د دلیل او استدلال له مخی تحلیلوی .

لومړی ډله د مکان له قیده خلاصه او د تصور او خیالاتو شغلې یې لا مکان ته هم رسیږی - اما دوهمه ډله د مکانیت په حدودکښې بنده او د واقعیت په لومه کښې نغښتی ده .

هو ! د لطف او ښکلا اتلان د قلبی عوا طفو ترجمانان او د بنایست او ښکلا د نړۍ معماران هغه څه کوی چه د عقل لاسرو رته نه رسی هغه څه چه د آفاقیت او طبیعت نه یې په تقلید رده اودرك کړي وی، یوازې یې دوچ تقلید په ساحه کښې نه پریږدی بلکه په هغه پسول یې پسولی کوم چه یې د طبیعت له تأثراتو څخه دز ړه په سپیڅلی هند اره کښې تصویر کړی وی او بیایې بیرته له زړه نه دزړونو ونړۍ ته منعکسوی البته د اکار دو همه ډله نه شی کولای ځکه چه دخیالاتواو تصوراتو په کړۍ کښې بند اود واقعیت له حد ودو څخه نه شی وتی فکر او ذکریې د عقل محکوم او هر څه د عقل په لارښوونه کوی ولی لومړنی ډله چه د شاعرانو اواد یبانو ډله ده عقل دیوې آلې په حیث استعمالوي او دنفسیاتو د ارتقا او تکامل په لاره کښې ور څخه کار اخلی

د طبیعت او آفاقیت له تقلید ه د اولیه مواد و او دنفسیاتو د تخیل او تصور څخه درنګ او ښکلا چه په زړونو یې فرمان چلیږی کار اخلی دوی تل تقلید او تخیل سره یو ځای کوی او د الفاظو په رنګینو کالیو کښی دشعر او ادب نړۍ ته وړ اندې کوې دا د شعر او ادب قهرمانانو په هروخت او هره زمانه کښې د شعری او ادبی عالم بازار تود کړی او په زړه پوری، شعری او ادبی مرغلرې یې پیلې دی .

یوله هغو چه د پښتنی شعر او ادب نامتو پیاوړی دی رحمان بابا به دی رحمان بابا هر څوک پیژنی، او دده لنډې سوانح به هر چاته ور معلومه وې، مګر په دی به ډیر لږ خلك وپوهیږی چه دده د مینې او محبت نغمې او ترانې دعشق په ټوکیدلی او سمسور بڼ کښې د څه له پاره وې .

ده په هره ډډه کښې دخپل فکر او تخیل نیلی ځغلولی دی هرڅه ته یې ښه پام واو هغه یې په پوره دقت په شعری قالب کښې داسې ترتیب او ترکیب کړیدی چه په اصطلاح یې ستنې له سپمه تارا یستلی دې دی د پوره ذوق - ښې سلیقې او شعری قدرت څښتن و - خوږې نغمې او ترانې یې د فصاحت او بلاغت پړاوته رسولې وې او خواصو عوامو - عارف اوعامی ور ځنی دخپل ذوق او استعداد په اندازه خوند اخیستی او اخلی یې .

شعر ته یې په هر ځای او هره زمانه کښې دمنلو ځای موجود دی . د اشعارو دیوان یې دومره په زړه پورې دی چه په هر کاله - کلی - خانقاه - او خرابات کښې پرې عشقی او تصوفی بزمونه ګرم وی او د ژوندانه دنا امید یو او ستړ تیا و د لرې کولو له پاره یې یوه ښه وسیله او اکسیر ګڼی رحمان بابا د خورا قوی زړه او دماغ خاوند وله دماغه به یې د علمی او فلسفی مواد وتیاری کاوه او دقلبی عواطفو او نفسی تأثراتو په ګیڼه به یې ور باندې ښکل د بیلتانه په نړۍ کښې داسې خوښ و چه هغه یې دوصال په لمحو کښې نایابه لیده - د سلیم ذوق او بدیعی مبتکرې طبیعی، قریحی د سترخوان یې تل په رنګارنګو خوړو ډك وو او قسماقسم خوندونه پکښې موجود وو - ده دمعنویت وانسانیت په لامحدوده ماحول کښې شپې ورځې سبا کولې - د تخیل او تصور پلوشی یې په هر ځای لګیدی ځمکه او آسمان یې دفکر او تخیل جولانګاه وه - ګل یانه وو ټوکیدلی مګر خوږې وږمې به یې ورته سبا نسیم شیبه په شیبه ورور - ولې - خزان او بهار ورته یوو او دشعر بڼ یې هروخت سمسور او تازه و - جهان به یې په ځان کښې لټاوه - سفر او اقامت ته په یوه مفهوم قایل و - دفکر او خیال نظر یې دومره اوچت وچه شاه جهان به یې تر منصوره قربانی کاوه - شاهانه تخت یې هیڅ ګاڼه او د دوهی تر څنګ ناستی یې خپله آرامګاه ګڼله دمنصور دار ورته تخت او تاج لاڅه بلکه معراج ښکاریده دی ځان له هغې وریځې سره تشبیه کوی چه کله ګوهر او روی او کله یې دریا بونه له فیضه غاړې ترغاړې بهیږی غم ورته دخپل سر پادشاهی تاج بریښی او له ډیره استقامته ورته نور غمونه هیڅ اثر نشی پریښودلای خان سلطان او قلندر یو ګڼی دخاورو سیم او زرو مرتبه دده په نظر کښې یو مقام لری ګدایی او پادشاهی دده په وجود کښې واقعیت لری ظاهراً ځان ګدا او باطناً ځان ددرست جهان پادشاه ګڼی ریا یې بده راځی او دهنداری خواص یې خوراښه ایسې، نو ځکه ځان ته لکه هنداره بې رویه او بې ریا خطاب کوی.

له هره قیده ځان خلاص بولی، اما دزلفو په ځنځیر یې ځان کلك بند کړیدی دیا راو دلدار غوښته یې هروخت او هره ګړۍ کړې او له نورو غوښتنو یې ځان په ډډه کړی دی بیخودی یې په نظر ښه راتله او په دې صفت او کیف یې ځان دخودی له اسارته خلاصاوه خودی ورته دتورو زولانو تورتم ایسیده دعشق نغمې او ترانې یې خوښې وې دقصرونو ابادول یې دشاهانو کارګاڼه او پخپله یې دعشق ماڼی اباد ولې دده دنیاد د رد منو

دنیاوه. بې دردان او بې دردې، یې نه خوښوله. دردمندانو او بې وزلوده د تصوفي دنیا بازار تودکړی و. هره خوا او هرڅه یې په ځیر کتل. ثبات او استقامت یې د ټینګ عزم او کلکې ارادې نه ماتیدونکې ستنې وې. اجتماعي تربیتي، تصوفي، فلسفي او ادبي افکار یې د پښتنې ادب یوه بې ساري پاڼه ده. زهد او تقوی د انسانیت ګڼه بولي دده په اشعارو کښې ټول انساني فضایل او اخلاقي ښیګڼې په ادبي الفاظو او فني اسلوبو ځای لري. دا مست قلندر کله کله د پښتو نولې په احساساتو هم راغلی او ځینې حماسي شعرونه یې په ډیر جوش او خروش ویلي دي لکه چه وایي

ننګیالي چه یو ځل مخ کا په هر لو ر ی
نور هیڅ نه وینې کوهي وی که ګړ نګ

رښتیا هم د ننګیالي او تور زن ترمخ رڼا او د تاخت او تاز میدان یې د تل له پاره کوم موانع نه لري. رحمان بابا خپل ویده قوم په داسې غیر تي چیغو را بید ا ر وي او د ننګیالیتوب درس ور کوي. رحمان بابا د زمانې په سرد او تودو کښې هیڅکله خپل استقامت له لاسه نه ور کوي او وایي

لکه و نه مستقیم په خپل مکان یم
که خزان را باندې راسي که بهار

دې مست او ربانی قلندر په هره خوا کښې هر څه ویلي دي او د پښتو ادب بڼ یې په رنګارنګو ادبي ګلونو ښکلی کړی دی. کله یې د خپل وریت زړه سري سکروټې په هغو او ښکو چه د عشق له تاوه به د ښو په لارلکه مرغلرې راتوهیدې مړي کولې او په خوږ و نغمو او ترانو به یې خپل ځان د ژوندیك نواختي او بیخوندي ـ څخه ژغوره او د شور او ګدا زپه هنګامو کښې به یې عرفاني او تصوفي شعري مرغلري د فکر په نازك او مبین تار پیلې دي لکه چه وایي:

د آدنیاده خدای له عشقه پیدا کړ ي
د جمله و مخلو قا تو پلا ر دی دا

د دې بیت په ځیر کتنه انسان د عشق او جمال کما ل مطلوب مقام ته رسوی. افلاطون هم په د ې هکله خپل نظریات په پخوا زمانو کښې څرګند کړی او وایي چه عشق او جمال کمال مطلوب دی او انسان کولای شی چه له دې لاری ـ حقیقت ته ورسیږی. رحمان هم په دې نظریه دی چه سړي یوازی په تصوفي نړۍ کښې د عشق په وسیله حقیقت ته رسیږی او بس.

دا بیت کله کله د دیني او مذهبي مسائلو سره هم ټینګه ارتباط پیدا کوی او د (لولاك لولاك لما خلقت الا فلاك) ـ ره ټینګې اړیکې لري.

دلته که ځیر شو او د وخت پلوشې مو په پورتنی بیت ولګی څرګند یږی چه دا بیت د ننني فلسفې سره هم پوره مطابقت لري ځکه چه ننني فلسفه په جهان کښې د تل له پاره یوه حرکت ته قایله ده او وایي چه د طبیعت په جهان کښې یوه جاذبه شته چه د موادو د کشش سبب ګرزی او دا جذب او کشش د کائناتو د تشکیل سبب ګرځیدلی دی نه فرار. نو ویلای شو چه عشق هم د جذب یو رښتین حالت دی.

هراکلیدس چه یو مشهور فیلسوف و د ده فلسفه په دې بنا وه چه یو سړی دوه واره یوه سین ته په عینی شرایطو ځان نه شی غور ځولی دا ځکه چه انسان په تحول کښې دی رحمان بابا هم د دې نامتو فیلسوف فلسفه په یوه بیت کښې ننښتې ده لکه چه وایي:

دا چه هر ه ورځ راخیژی بیل بیل لمر دی

رحمان بابا د نوع پرستی په فلسفه هم خپلې د قیقې او ګټورې څېړنې کړی او په دې هکله یې ځان د نوع پرستانو په ډله کښې درولی دی لکه چه وایي.

بنیادم په معنی واړه یو صورت دې
هر چه بل آزاروی هغه ازا ر شی

حقیقتاً چه رحمان د سعدی شیرازی ـ ره د نوع پرستی په فلسفه کښې لوړه په اوږه روان او د واړه په دی جهان کښې دیوه موقف خاوندان دی.

رحمان بابا یو فیلسوف، زاهد او عارف شاعر و د ده مقام په فلسفي ډډه کښې لکه څنګه چه مولانای روم په ختیځ او پاسکال په لویدیځ کښې درلو د هماغه رنګه یې په پښتنې نړۍ کښې څښتن و، دی یو بل ځای خپل

عرفانی او تصوفی افکار چه دوحدة الوجودی رنګ پکښې ایدل کیږی داسې څرګندوی .

زه او یار که په تن دوه په معنی یو یو
هزار خونې واړه شهر یو بغداد دی

په دې بیت کښې رحمان بابا ټول موجودات دڅښتن تعالی جلوه او داحدیت مظهر بولی او په دې معتقد دی چه په جهان کښې یو حقیقت دی چه په مختلفو رنګو یې ځان څرګند کړیدی دده په نظر حقیقت هیڅ نه پټیږی او هرومرو ځان ښکاره کوی لکه چه وایی .

رحمان حسن دیار وینم په پرده کښې
نور د شمعې نه پټیږی په قانوس

دی نامتو شاعر او دحق درڼا پیاوړی مین د تعلیم او تعلم په هکله هم خپل اجتماعی او تربیتی افکار څرګند کړیدی او له دی خوا یې هم په زړه پوری خوږې نغمې غږولی دی لکه چه وایی .

هم پند اخلم هم پند وایم وهر چاته
زه دځینو یم مرید د ځینو پیر یم

ښندنه او سخایی اخلاقی فضیلت او دانسانیت لوړه مرتبه ګڼله ـ دنیایې نه خوښو له مګر کله به یې چه د دنیا او دارایی غوښتنه کوله نو اصلی هدف به یې ورځنی ښندنه او سخاوه نه دا چه په دنیا پسې زهیر او دنیا به یې د دنیا له پاره غوښته ـ نه داسی نه وه حقیقت بل څه و ـ دنیایی غوښتنه یې د ربانی رضایت له پاره وه هر وخت د خپل حقیقی معشوق په عشق او مینه کښې غرق سرګرمه تللی ولکه چه وایی :

رحمان هیڅ له خپله ځانه خبر نه یم
چه دا هسې رنګ زبون او محزون چا کړم

عشقی عقیده یې دومره پخه وه چه خپل ځان یې د دوهی په غاړه ناست ملنګ د زمانی شاه جهان ګاڼه او په دی باره کښې خپل افکار داسې اظهار وی : ـ

دکاملې عقیدې له برکته
د دوهی په غاړه ناست شاه جهان یم

په اجتماعی ساحه کښې یی هم ډیر غوره آثار پری ایښی دی او د شعر او شاعری دبڼ بلبلان وریاندې په شور او مستی راځی او دا مطلب داسې بیانوی :

هغه زړه به له طوفانه په امان وی
چه کښتی غوندې دخلکو بار بردارشی

حرص او هوا ته په کرکه ګوری او قناعت ته په لوړه درجه قایل دی او د ټولو ، نیکمرغیو پانګه یې بولی لکه :

قناعت مې تر خرقې لاندی اتلس دی
پټ د درست جهان بادشاه ظاهر ګدا یم

کله د زمانې له فساده یخپل راز دومره ټینګار لګوی چه اهل دل ته په عنقا قایل او پیدا یښت یې محال او وجود یې یوه معما ـ خوب او خیال بولی لکه :

چه عنقا شوه اهل دل په داد نیا کښې
تر وبه څه وایی و چا و ته احوال څوک

همدار نګه ناپوهی بده ګڼی او د ټولو ناکامیو منشاء یې بولی لکه :

چه پخوا تر قضا خپله رضا غواړې
بی هوا په لوټو ولی اسمان ولی ؟؟

رحمان بابا د نړۍ د باشکوهه او ښایسته اسمان خراشه آباد دیو خښتو ته د سرونو د منارو خطاب کوی او د ظالم او مظلوم ښکارونه او څرګند ونه په دی شان کوی :

د دنیا د محلونو خښتې واړه
ورحمان ته د سرونو منارې شوې

عشق ومینه تل ځان سوځوی او داسی قربانی ته حاضر یږی چه سر او مال هم ورځنی ګډوی لکه چه وایی :

چه دیار په دیدن سر او مال ښندمه
خلکو واورې زه هغه عبدالرحمن یم

رحمان بابا ځان ته د جهان په نظر ګوری او درست جهان په ځان کښې مطالعه کوی د عشق بلند پروازه مرغه یې د تصور او تخیل په فضا کښې دومره هسکې الوتنی کوی چه د عادی تصور بازیی په ګرد پسې هم نه رسی . د منطق او استدلال ژبه ورته ګنګه او د حیرانتیا په

عالم کښې ورله بې حسه‌اوبې حرکته پاتې وی.دعشق اومحبت د پلوشوا نعکاس ورلره هرڅه رو ښا نو ی همدا سبب‌دی‌چه‌دهرڅه‌مطالعه‌کتنه ـ ترکیب‌او‌تحلیل دعشق‌اومحبت‌په‌اساس‌کوی ـ دحال‌اومحل‌په‌مطابق‌هرڅه دعشق او محبت په وړا نګو کښې نغړی ا و د پښتنی ادب‌نړی‌ـ‌ته‌یې‌دشعری‌په لباس‌کښې‌لکه‌یوه پښتنه ناوې دپښتنی‌سازاوسرو دسره غبرګه وړاندې کوی اشعاریې دوه‌مره‌خوازه‌اوخوندوردی‌چه دپښتنوخواص اوعوام‌یې دیوه‌قوی‌منطق ـ استدلال‌اومثالو نوپه توګه‌په‌اکثرو وینا ګانو ـ مناظرو او مباحثو کښې په کار اچوی دیرخلك دده‌په اشعارو فال‌ګوری او ځینې د ر و نی دردونه وربا ندې درملوی دده دسپیڅلی عشق جذ به سړې ته هله‌څرګند یږ ی چه د الفاظو څخه د معنی و خواته ور واوړ ی .

هو! هر پښتون ته څه‌نه‌څه‌درحمان‌بابا اشعاریادوی او دیرکم به‌پیداشی چه‌د حمید اشعاریې ضبط اویاد وی داولی ؟؟دالحکه‌چه‌درحمان‌بابااشعار دفصاحت‌او بلاغت دحال اومحل په‌اصولو برا بر اوپه دې تر څ کښې هغه مقام ته‌رسیدلی دی کوم چه‌یې دخلکو دزړو نو عواطف ارزو منددی .

رحمان بابا په‌شعری جها ن کښې دخا نته سبك خاوند دی ـ دی هغه څه‌کوی چه نورو نه وې کړی او دزمانې له‌سیر سره خپل فکری سیر موازی‌بیایی هغه‌څه چه‌نور وکړې وی‌دهغو تکراردخان عار ګڼی نوی افکار په شعری قا لب کښې را وړی او ځان دمستقل سبك‌څښتن ګڼی لکه‌چه‌وایی :

چه دا نور شا عران کا ندی هغه نه کا
رحمان کړ ی نو ی نو ی ا جتها د د ی

سره ددې چه‌رحمان بابا ټول شعری تلا ز مات په‌خوند ورو الفاظو ادا کړی دی مگر بیا هم ادبی سادگی ـ فصاحت اوبلاغت داتوان‌ورکړیدی چه‌دخاصو اوعوامو دپوهولو له‌پاره یې‌داسې اداکړې چه‌هریو ورځنې دخپل طبیعی استعدادپه اندازه برخه‌واخلی.

درحمان بابا دشعری موقف‌اساس په‌عشق‌اومحبت قایم ولاړ دی . عشق او محبت د و مره قدر ت ورلره ورکړ یدی چه دغرب او شر ق دفیلسو فانو نظریات اومبادی‌یې‌په یوه بیت کښې ځایږی .

دامتصوف قلندر یو عادی‌سړی نه‌وبلکه قدرت‌ده ته‌یو فوق العاده‌استعداد ورببنلی‌وطبیعت یې‌دافکارو آئینه‌وه.طبیعی حوادثو او اجتما عی پیښو دده قوت او استعداد په‌کار واچاوه .دده‌دطبیعی‌استعداداوقوت په‌کار اچولو کښې‌دکورنی غربت اوغریبی بی‌لاثره نه‌وه.دمغلو چپاوونو اوترا ګونو دی دتصوف په‌حلقه کښې راګیر اودې ته‌یې ملتفت‌کړچه انسان فانی‌دی اوباید دابدیت دښه‌کیدوله‌پاره دعشق اوجمال‌په‌اساس کمال مطلوب یاپه‌بل عبارت حقیقت کل‌ته ور سیږي نوځکه دادعشق‌پهلوان‌دمینې اومحبت په‌بازارګډ شو اوهرڅه چه‌یې له‌وسه وشو ل له ځا نه سره واخیستل. دمینې اومحبت بڼ‌یې په سوز ناکو او محبا نه نغمو اوترانو ښکلی کړاو هزار دا ستا ن بلبل غو ندې په‌هرګل وچغیده .

حقایق اوواقعیتونه داسې څرګند وی‌چه‌ته‌وایې دزړونه خبردی .

پښتنی ادب اوتاریخ ددغه پیاوړی اوغیب‌اللسان شاعر دبی بهااو نادره ادبی‌مرغلرو په‌شته منی‌ویاړی. اودغه نامتواومست قلندرسپیڅلی روح ته درودا ستوی.

پای

لیکونکی : پرو فیسر فینکس
مترجم : حفیظ الله امین

دفلسفی ماهیت:

فلسفه څه شی ده ؟

لومړی داچه فلسفه دعلم یو وجود نه دی . د فلسفی مطالعه کول دیوې ذخیرې په شان د حقایقو ټولول نه دي . داسی یوشی نشته چه دفلسفی حقایقو د یوې مجموعې په څیر دفیلسوف له تحقیق او تتبع څخه منځ ته راغلی وی . مونږ ویلای شوچه د فیلسوفانو اودفیلسوفانه تعمق په حقله معلومات حاصلولی شو خودا معنی نه لری چه پخپله فلسفی تشبثا تو کښی داخلیږو .

سربیره پردې فلسفه دعلم دحاصلولو یوه لارنه ده فلسفه دتتبع یوه داسی طریقه نه ده چه غایه یی دنو یو حقایقو کشفول وی نوله ساینس سره فرق لری چه دساینس مقصد په متمادی صورت دمجهولا تو دبند ماتول دی فلسفه په اصل کښی د تکنیکو یوه مخصوصه غنچه نه ده چه درو حیاتو په څیر دد ماغ دفتح کولوله پاره نوې ساحې پرا نیزی .

نوکه فلسفه نه دعلم متن اونه دعلم دحاصلولو وسیله وی نو داڅه شی ده ؟ آیاد تخیل یوه وظیفه ده چه لکه دهنری تشبث په شان میوې یې دشخصی تصورر مختلفه اظهارات دی ؟ آیا فیلسوف یو ډول نثر لیکونکی شاعر دی ؟ په رښتیا چه دهغه په کار کښی دخیالی تخلیق یوعنصرشته اود اشیاؤ دعینیت په حقله له حقیقت،علم، اومعتقله راستی سره علاقه او ارتباط لری فیلسوف نه یو بر جسته هنرمنداونه یو ساینتست دی نو هغه څه شی ده اوڅه حاصلوی ؟ فلسفه هغه علم ته چه مونږ یې لرو دکتلویوه طریقه ده فیلسوف دسلیم عقل د پیژندګلویو په شان دمختلفو علو موله محتویاتو ارت، دین او ادبیاتو څخه دخپلو فرضیو په څیر استفاده کوی په دې ډول فلسفی موضوع د انسانی تجربو په شان وسعت لری اکثره مطالعې له یوې مخصوصی ساحې سره ارتباط لری لکه چه جیولوجی له ځمکې او تاریخ دا نسانی امو رو له ثبتوشوو آثا ر و سره معا مله لری فلسفه داډول کم تخصص نه لری د ذیروحویا غیرذیر وحوارضی یا جوې طبعی یافوق طبعی شیانو کوم اړخ ددې له حو زی اوو سعت څخه بیر ون نه دی هرڅه د فلسفی فکر له پاره دغذا په شا ن دی هغه تخصص چه فلسفه یې تشخیصوی دبحث یوه موضوع نه بلکه یو هدف او عمل دی فلسفه په هغه علم او تجر به کښی د نظر کولویوه طریقه ده چه زمونږ په ملکیت کښی واقع دی .

د فیلسوف لار:

څنګه یوسړی فیلسوفانه فکر کوي آیا اشیاو ته د نظر کو لو فلسفی لار کو مه ده ؟ فیلسو ف څه کوی او هغه کوم اسباب او طرز عملو نه په کار وړی هغه نه لا براتوار لری او نه لکه ساینتست تجر بی اجرا کوي هغه دارتست په شان رنګونه څټه یا کوم فلز داشیاو د تزئین له پاره نه استعمالوی هغه آلات چه فیلسوف یې په خپل کار کښی استعمالوی تصورات او الفاظ دي چه دسوال او ځواب په څیر یې ترتیبوی خو یو نا طق یا شاعر یا مقاله لیکو نکی هم داسی کارونه لری نو یو فیلسوف څنګه دغه تصورات او الفاظ استعمالوی چه ددوی له استعما ل څخه تو پیر ولری ؟ دلته دری نکتې شته چه بایدنوټ شی .

هدف:

د فلسفی تحقیق هدف د ا دی چه هغه ژ به چه د تجربې د ترجمی او تفسیر اه پاره استعما ل شو ی تصفیه تقو یه او تنظیم کړ ی نو په فلسفه کښې د مثال په ډول د احساساتو د اظهار ولو دا وا مرو د صادرولو یا دافکارو د بیانولو د پاره یوه عادی ژبه نه استعمالیږی بلکه مقصد د ژبې شکل ته تغییر

ور کول او د هغې بنه تر تیبول دی تر څو چه بنه وضاحت او عمیقه پوهې ته ورسیږی :

طریقه :

هغه طریقه چه د هغی په واسطه دا تغییر واقع کیږی د یالوك دی ددی معنی دا نه ده چه فیلسوفان یوالحی په سوال او ځواب کښې وظیفه اجرا کولای شی بلکه دا معنی لری چه دافکاروتسریع اوتوسعه چه د فلسفی هدف دی یوالحی په محاوری او په خبرو کښې په بنه توگه ممکن کیدای شی فلسفه په خبر وسره له ازمیښت لاندی را لحی داسی دیالوك د یو سړی په افکارو کښې هم کیدای شي فیلسوف اکثراً له ځان سره محاوره کوی که څه هم چه خبری په انتر وا اواخفا کښې وي بیاهم انعکاس کوي ټول انعکاس کوونکی افکار یو داخلی سوال او ځواب دی څه چه د فیلسوف له پاره ډیر اهمیت لري د سوا لو استعمالول سوال کول د افکارو از میبل او دتجربې د ترجمې له پاره د هغوصحت پاندی اعتراض کول دی د فلسفی عمل ډیر فضیلت هغه وی چه دو سیعواو عمیقو اشارو او معا نیو له پاره د سو الو په واسطه ډیرې ښې څیړنې وشی نو د فیلسوف لو مړی ډنډه دا نه ده چه ځوابونه تهیه کړی بلکه داده چه سوالونه پیدا کړي د هغه له پاره هر ځواب د یونوی سوال له پاره یوه مقدمه ده په دی ډول فلسفه لا جرم یو اجتماعی عمل دی چه مباحثی او منا قشی یې کره کوی نود فلسفې متعلم باید دا زده کړی چه په هغه محا وره کښې چه د هغه د خپل ځان د مر بو طو وا قعا تو په حقله وی اشتراك ولری هغه توقع نشی کولای چه دبحرانی مناقشاتو او جدی انعکاساتو له لاری د ځان له فلسفی کولونه جلا فلسفه زده کړی هغه محض ددرسی کتا ب په لوستلواو یاد ولو فلسفه نشی زده کولای فلسفی کتابونه د محصل له پا ره په بنه صورت هدایت کوی او داسی فرصتونه ورته تهیه کوی چه په ژوندی دیالوگ کښې داخل شی .

سو یه :

فلسفه له نورو پرنسیبونه دهغو مفهوموپه واسطه هم فرق لری چه باید له هغو سره کارولری. دادفلسفی وظیفه ده چه دډیرواساسی افکارواوله هغو مفهومونو سره معامله ولری چه دهغې ژبې په ریښو کښې ځای لری چه مونږ یې په عادی صورت او یاپه تکنیکی اوتخصصی خبروکښې استعمالوو.

دوه مثاله شاید مرسته وکړی چه دامطلب واضح شی . که څوك وپوښتی چه څه علت دی چه دماښام لمرسوروی؟ دابه یوعلمی سوال وی چه ځواب یې دادی په فضا کښې مالیکیولونه شته چه دنورلنډې څپې له اوز دوڅپونه ډیرې متشتتو ی فیلسوف شا ید دا سې مشاهده وکړی چه علمی سوال او ځواب دنړی په دی مفکورې اساس لری چه هر معلول (مثلاً لمرسوردی) لره علت (لکه په فضا کښې مالیکیولونه) شته دی شاید نوردفلسفی سوالونوخواته مخه کړي چه دعلت اومعلول په معنی اودد ې فرضیې په حقله وی چه هر شی په دی صورت سره تړلی دی. ددوهم مثال په حیث داواضحه عام فهمه فرضیه چه «صحت یوښه شی دی » تصور کووفیلسوف ددی وضاحت نه منی او داسی سوالونه کوی : آیا « صحت» یو «شی » دی که داسی وی نوپه څه دلیل ؟ آیا دافرضیه هرچیرې اوتل صحیح ده او که په ځینوشرایطو باندې اتکالری، چه په وضا حت سره نه دی بیان شوی؟ په کوموموا قعو کښې دا اظهار منځ ته راځی اودهغه دحمایت له پاره څه نوع شواهد معرفي کیدای شی ؟ -

نودفیلسوف مصروفیت دادی چه تل تحقیق اوپلټنی اساسی دعاوی اومهمو فرضیوته بیرته راجع کړی . دهغه وظیفه ده چه هغه ا ړخونه تحقیق کړی چه په هغو کښې عقاید اوخپله موضوعات واقع کیږی.

دعقل مینه:

داچه دفلسفې دری ممیزه اړخونه موبیان کړل نوفلسفې ته له یومتفاوت نظر څخه گورو. دفلسفې لغوی

معنی دعقل مینه ده. چه له دوه یونانی کلموچه فیلیا (مینه) اوسوفیا (عقل) دی مشتق شوی. دا باید په خاطر کښې ولروچه دد ې تعریف په اساس فلسفه په خپله عقل نه بلکه د (عقل مینه) ده په دی ډول فیلسوف هغومره هغه څوك نه دی چه توصل یې کړې وی ، اوحاصل یې ا خستی و ی او ډ ېرڅه یی جمع کړ ی و ی . لکه هغه څوك چه علاقه لری او ار اد تمند و ی . یو غیر عالم سړی چه دعقل په تجسس کښې وی شاید نسبت هغه عالم ته چه په خپل علم باند ی قناعت ولری دیو فیلسوف ډېر اوصاف ولری .

مینه په فلسفه کښې تل دې ته اشاره کوی چه فیلسوف هغه څوك نه دی چه په ځانته ګوټ کښې له هغې نړۍ نه مجزا چه په هغې کښې فکر کوي کښینې هغه څوك په ر ښتیا فیلسوف نه دې چه دخپل ژوند دډېرو عمیقوسوالونو په تجسساتو کښې عمیق احساسات اوشایدشخصی ارتباط ونه لری. داڅه شی دی چه فیلسوف مینه ورسره لری؟ عقل عیناً لکه علم نه دې. دا حقیقت لری چه تل هغه څوك ډېر عاقل نه دې چه دأطلاعاتو اودډېرواکاد میکومو فقیتونو ذخیره لری. عقل دنظر فراست اوفهم په کمال دلالت کوي چه یوالحی علم یی تضمین نشی کولی شاید دا به مفیدوی چه دهغه عقل چه فیلسوف مینه ورسره لری څلور ګونی مرکبات په لاندی ډول بیان کړو.

ادراك

عاقل سړ ی یومدرك نظر لری. هغه دټولومیسرو اطلا عاتو په حقله بحث کوی هغه دتجربی په یوکنج او یایوې برخی نه قانع کیږي. هغه زیار کاږی چه ټول ژوندوویني. په د ې ډول فیلسوف له لویو عمومی مفهوموسره کارلری لکه ماده، دماغ، شکل، موجودیت یا عمل چه ټول جامع اشکال لـری اودانسانی تجربو په ټوله سلسله یی تطبیقوی. هغه زیار کاږی چه دنړۍ دمشهورومتنوعوارخو نو تر منځ روابط کشف کړی .

او ددغوروابطو په واسطه نړۍ دیوله معنی ډك کل په حیث درك کړی . هغه اساسی مفهومونه چه استعمالوی هغه وسایل دی چه هغه هیله لري چه دهغو په واسطه ډېری ځانګی دکومی مرتبطی طرحی په څېړتولې کړی.

ار تباط

عاقل سړی قسی اوتنګ نظر نه لری. هغه د نظر یوکافی وسعت لری ترڅو چه اجسام په ارتباط کښې ووینی اوپه دې صورت دهغو حقیقی اهمیت معلوم کړی نوهغه په داسی یو و ضعیت کښې د چه بحرانی قضاوت کوی په د ی معنی چه هغه دا سی نظرلټوي چه دهغه په واسطه ښه علمی قضاوت وکړای شی ،مثلاً کـه څوك وایی چه څرنګه چه آزادي ښه ده نو ضعیف حکومت تر ټولو ښه دی فیلسـوف شاید دآزادی دډېرو معناو دحکومت د مختلفو وظیفو اود حکومت او آزادی ترمنځ دمختلفو روابطو دڅېړلو په واسطه دپورتنی افادي انتقادی تحلیل وکړی .هغه به زیار وکاږی چه دا قضیه په یوی وسیعه ساحه کښې مطالعه کړی نه دیو مخصوص دفاع کوونکی لـه نظ رڅخه ترڅو چه هغه کامله قضاوت پری وکړای شی .

بصیرت : --

عا قل سړی سطحی نـه و ي بلکه بصیر ت ا و ا طلاع لر ی . هغه پو هیږی چه ا جـسا م څرنګه چه ښکاری تل هغه سی نه وی . چه په ظاهر کښې ډېر جزئی اوبی اهمیته معلومیږی شاید چه په واقعیت کښې ډېر اهمیت ولری . یاپه خارج کښې ډېر موثر ښکاره شی اوپه حقیقت کښې به ډېر جزئی ارزښت واری. هغه را ضی نه دی چه سطحی افکار اویا دا فکارو سطحی معنا وي قبولې کړ ی .بلکه پوښتنه کوی چه دا واقعیت څه معنا وی لری .مثلاً که داوویل شی چه تاریخ دماوقع بیان دی فیلسوف به داسې تجسس وکړی چه دا په رشتیا صحیح ده یا دا چه تاریخ بیله دی چه دما وقـع د مخصوصو جـنبوپه حقله دمشاهدمعینو ا دراکونو ریکارد وی بل څه نه دی

بصارت :-

عاقل سړی له ځینی لحاظونو څخه لیدونکی دی (څوک چه بصارت لری) د ادبی جلوه تفکر یا غیر معقولی سفسطی معنی نه لری بلکه دادامعنی لری چه فیلسوف داسی یو نظر لری چه هغه له خالص علی العجاله او عمومی تعلقاتو څخه د نړۍ دایدیالی او خیالی تصور وسیعه امکاناتو ته خیژوی هغه دداسی مفهومونو او پرنسیپونو په لټولو کښی وی چه د انسانی تجربی کلی ترتیب روښانه او په پوره معنی ترجمه کړی .

فیلسوفان څوک دی ؟

مونږ شاید و پوښتو چه څوک فیلسوفانه عمل کوی ؟ فیلسوفان څوک دی؟ دزده کوونکو له پاره چه په مخصوص ډول دغو سوالونو ځوابونو ته په ډیر احتیاط سره متوجه کېدل ډیر اهمیت لري

دهغه څه چه وویل شول ممکن معلوم شی چه فلسفه دفوق العاده خلکو دیو مخصوص ټولگی د (عاقل کسانو) له پاره خاص گرځول شوي، او عادی خلك په ډیر ښه صورت لیدلی شی. چه فیلسوفان څه کوي. په رښتیا چه دلو یو کسانو دنړۍ تاویلاتو هغوی دفیلسوف دنوم له پاره په مخصوص ډول مناسب و گرځول برسیره پردې مسلکی اکادمیك پروفیسران شته چه هغوی د فلسفی کولو آرت یا علم مشق کوی او عادتاً په پوهنځیو او پوهنتونو کښې د فلسفی مضمون درس ور کوی . خودغه دواړه گروپونه (فلسفی پوهان او مسلکی کسان) یو لځی هغه کسان نه دی چه فلسفی فکر کوی. فلسفه دهرچا او هر سړی کار دي. دا یو لځی دنوابغو او پوهانو له پاره نه ده دادهرچا له پاره یو افتخار او وظیفه ده چه دهغو اطلاعاتو په حقله چه عقیدو او کارو پوری ارتباط لري اساسی سوالونه او ددیالوك او انعکاس په واسطه یی ځانته واضح کړی. هر څوك حق لری چه یو جامع نظر ولری، دداسی ارتباط له پاره هڅه وکړی چه دهغه له مخه واقعی قضاوت وکړی، دژوندانه په عمیقو معانیو کښې بصیرت حاصل کړی او په کلی معنی یا اسلوب کښی یو بصارت ولری. هر یو په خپل فکر کولای شی چه خپل ځان سره دعقل مینه ولری .

دفلسفی زده کوونکی باید تل په یاد ولري چه فلسفی وظیفه مستقیماً او په حیاتی ډول دهغه خپله ده. ښوونکی او پوهاند شاید نظریات برابر کړی درسی کتابونه شاید داسې مرسته وکړی چه نور وڅه کړی. خو دفلسفې دمطالعې غایه خپله دفلسفی مشق کول دی. دفلسفې مشق تل له هغه ځایه شروع کېږی چېرې چه انسان واقع وی. یا په بل عبارت کوم مقدماتی شرایط نه ایجابوی بیله دې چه دژوندانه عادی تجربه او په هغی باندې دښه پوهېدلو یوه علاقه وجود ولری. یو سړی بې له دې چه په حساب، ابتدائی الجبر او هندسه کښی ښه لاس ولری دمثلثاتو ښه مشق نشی کولای. فلسفه داسی نه ده اطمینان باید وی چه د تصنع مختلفی مرحلې په کښې وجود لری خو په اساسی ډول فلسفه یو روح او یو عمل دی چه دعقلی رشد په هره مرحله کښی دتطبیق وړ دی .

د فلسفی له پاره محرکات :-

مونږ تر اوسه پورې دفلسفی په باره کښې څه وویل او وموښودل چه څوك په کښې اشتراك لری. دا به هم دلچسپه وی چه دفلسفی پاتی کېدو له پاره ځینې محرکات معرفی کړو یعنی فلسفه څه ښه والی لری؟ ولی باید سړی وغواړی چه مشق یی کړی کوم ذوقونه تسکینوی او کومی فایدې ترې پیدا کیږی ؟

د څېړنې حس :-

د دغو سوالونو ډېر واضح ځواب دادی چه انسان طبعاً کنجکاو دی دعقل لرونکی په حیث مسلماً داشیاؤ دمعنی پلټنه کوی . داسې شی وجود لری چه دپوهیدلو له پاره دخپل وجود په واسطه قناعت راولی او داهغه شی دی چه فلسفه یی باید تهیه کړی .

دوهم ځواب دادی چه انسان طبعاً له هغو علا مو متنوعو اشکالو، نمونو، او ترتیبو سره علاقه لری چه دی یی فرض کولای شی. مخصوصاً لسانی علائم مهم دي. دخلکو له پاره په ژوردول قانع کوونکی عمل دادی چه یو له بل اوله خپلو ځانو سره وغږیږی نوي لغات اودکلمو نوی ترکیبونه ولټوی دمعناو تحقیق وکړی، دتفاوت کیفیت پیدا کړی، د تناقص ټکان اودترکیب توافق احساس کړی فلسفه دناطقو حیوانا تو له پاره په تمامه معنی یو فرصت تهیه کوی چه دغه اساسی وظیفه عملی کړي .

د معنی له پاره تجسس

دریم محرک دمعنی له پاره تجسس دی انسان په یوي وسیعه اوغامضه نړۍ کښې واقع دی . دی زیار کاږی چه دهغه دتعدد دتنقص لارې پیدا کړی. چه ډېرې جامعی نمونې ته یی ورسوی داسې مزی کشف کړي چه دکلی طرحی له پاره درشتو سرونه وی دهغوشیانو مسیرونه سره تفریق کړی چه دی یی په خپل شعور ی ژوند کښې دمقاصدو په حیث پېژنی. دغه دفلسفی ځینی اهداف دی .

د ا کما ل له پاره میلا ن :

له دی مقصد سره ډېر نژدې داکمال له پاره دانسان ابتدائی میلان دی که کل نه وی نو ډېر خلک له تقسیم او برخی برخی والی څخه کلیت ته ترجیح ورکوی. دوی غواړی چه ټول تصویرو وینی نه وه څنډه یې. دفلسفې هیله دجامعیت فرضیه ده.

د مسئلو دحل کولو آرزو

په پنځم ځای کښې فلسفه قسماً دمسئلو دحل کولو دآرزو په واسطه تحریکیږی کله چه خلک له مشکلو موضوعاتو سره مخا مخ شی داسی تحریکیږی چه یوه لاره ومومی ځینی مشکلات دغلطو افکارو نتیجه دی چه د مهمو فرضیو د تحلیل په واسطه اصلاح کیدای شي او دا دفلسفی وظیفه ده . د افکا رو تضـاد او تناقص وجود لری چه دفلسفی دانتقادی اوتوضیح کوونکو وظیفو ته واسطه له منځ څخه تللی شی .

دالهام له پاره اړتیا :

شپږمه او وروستی ګټه چه له فلسفی څخه توقع کیږی دالهام په واسطه مبهمو او مشکوکو کلیمو ایضاحول دی . که مقصد له دی داسی یو قناعت وی چه دخوښی او بی مسئولیته تفکر یا له خواهشاتو ډک فکر کولو په واسطه حاصلیږی نودا یو بی ارزښته محرک دی خوداسی یو صحیح الهام نشته چه فلسفه یې باید په ښه صورت تهیه کړی، چه یوه شی یوه ټولنه بصیرت حاصل کړی ژبه تصفیه کړی . تخیل ته بسط ورکړي، روابط وویني، په اساسی فرضیو کښې نفوذ ولری ،په تناقضاتو باندې غلبه حاصله کړی ، ته ایدیالی امکاناتو کښې بصارت ولری .

څه مقدماتی بحث دفلسفې په شاوخوا کښې صورت وموند اوس به دفلسفی دماهیت پنځه مفهومه ترمناقشی لاندی ونیسو .دامفهومونه دمضمون پرټولو ممکنه اړخونو نوشامل نه دي . اونه څه استثنا کونکی شکل لری ځینی فیلسوفان او فکري حرکتونه شته چه دد غو مفهومونو یوو اویا ډېروته ډېر اهمیت ورکوی او له نورو اغفال کوی اویا یې تردیدوی . خوپه یقینی ډول د فلسفې موضوع دا پنځه واړه احتواکوی .

دژ بې تحلیل :

د فلسفی یوه وظیفه دا ده چه په ژبه کښې یو انتقادی تپوس وکړی . ددیرو عواملو په اثرځینی کلیمی موجودیږی اوددیرې متحولې ناواوزدې مودې له پاره په دلچسپی سره دخونسلونو په واسطه په صحیح اویاغلط ډول استعمالیږی . بالنتیجه امکان لری چه ژبه مبهمه ، مشکوکه او دمعنی له حیثه تورتیاره شی تقریباهر ه کلمه یوه تشریح ایجابوی لکه « پوهیدل» څه معنی لری؟ آیا ددې کلمی معنی دفی الحاله تجربې لرل دکوم شی شته والی یادکوم منطقی نمایش د ورکواو قدرت لرل دی؟ همدارنګه ماده څه شی دی؟ دانسان فکر کول یومادی عمل دی؟ یاداچه انسان دیوکار میل لری په دې دلالت کوی چه انسان ماده دی؟

ژبه نه یو الحی په انفرادی کلمو کښې معناوي مجسمې کوي بلکه دجملې په څېر دهغوله تر کیب نه هم معنی افاده کوی دلته لساني تحلیل دجملې دساختمان له انوا عواو دمعنی له هغو تفاوتونو سره چه گرامری مختلف قوانین امکان پیدا کوی ارتباط لری دژبې په تحلیل کښې دوه غایې مضمرې دی یوه داچه دژبې دقیقی معناوي لکه چه په حقیقی صورت استعمالیږی په کارواچوی بله داچه دتحلیلی فلسفې لوی مقصد دادی چه دژبې دمجدده تعمیر داسی لاری طرح کړی چه ډیره دقیقه ئې وگرځوی دمثال په ډول دادعوی چه «داډبره وزن لری» تصور کړودا مطلب په ډیر دقیق صورت هم افاده کیدای شی لکه «که دغه ډبره په یو فنر کښې ځړول شوی وای نو فنر به غوړیدلې وای» ټولې بیانیې د «که ... نو...» په شکل اظهاریداې شی ترڅو چه وروښئی چه څه شی باید وشی چه حقیقت و آز میبی هغه داسی ښکاري چه تجربې حقایق بیانوی لاکن محض داحساساتو اظهار کوی داسی اصلاح کیداې شي چه اراده بسیطه کړی . دغه ظاهر مجسم مطلب « هغه انسان دی» په یو بسیط هیجانی څېرا فاده کیدای شی چه «هغه سره باید دیو بوده په شان معامله ونشي» ځینې تحلیل کوونکی لیا ډېر مخکښې ځی اوز یار کا زی چه دتخنیکی مقاصدو له پاره یو کا ملا د ژ بې نوی سیستم جوړ کړی یعنی د ریاضی په څېر دژبې عا دی طرز په علامه ئې سیستم تعویض کړی .

دفرضیاتو تصفیه او انتقاد

دفلسفې بل امر دفرضیو انتقادی ازمېښت دی په دی بیانیه کښې چه «دیوزده کوونکی دوړاندې کېدو له پاره قوی اراده ورته ضروری ده» ډېرې فر ضیې مضمرې دی چه پخواله پخوایوه رقا بت کو ونکی جامعه فرضوی چه په هغې کښې دیوسړی مو فقیت یا بریالیتوب په هغې درجه اندازه کیږی چه نسبت بل ته یې تفوق حاصل کړی وی اودشخصیت یوداسې مفهوم فرض کیږی چه په هغه کښې اراده یوه مرکبه ده او فرض شوي چه دیووال اویاسوچ په شان حرکت کولای شی چه دفعالیت قدرت ورکوی .ددغې بیانیې فلسفی تحلیل دادی چه داسې فرضیې تشخیص کړی چه څه شي به وی چه دجامعې او انسانی طبیعت په نظر کښې دبنفسه حقیقت په څېر تصو ر شي بیله د ی چه ځینې فرضیې تصور شي کومه کلمه نه ویله کیږ ی اونه کوم مطلب تعینیږی بیله دې چه څو مفکوروته لکه وخت ،عدد او تقویمی آ لات په نړی کښې دیوسړی له کلی نظر نه یې تشتت کړی وی اشاره وشی څوك نشی ویلی چه «اوس نهه بجی دی» دابسیطه بیا نیه «زمشین څوك وینم» لمړی دا مفکوری لکه ر نګ دا دارك عمل او داشخاصو موجودیت فرضوی برسیره ددغو ټولو فرضیو نوری فرضیې هم شته د فیلسو ف رول دادی چه هغه فرضیی او دهغو متناوبې فرضیې انتخاب کړی ترڅو چه دژبې عمیقه اشاري وا ضحې شی ا و دمختلفو امکاناتو په منځ کښې مـعقـو لانه انتخابات صو رت وموندلی شی .

د اسلوب مطالعه

دفلسفی لومړی وظیفه دطریقې کتل دی دریاضیاتو له پاره یوه فلسفی طریقه دهغه شی چه یو دریاضی عالم ئې کوی او یا باید چه وي کړي یوډېر صحیح تعریف ایجابوی دساینس فلسفه په ټولو بر خو کښې د علمی اسلوب له یوې مشاهدوی مطالعې سره ارتبا ط لر ی دآرت فلسفه دارتست له ابتکاری تقدیری او انتقادی اعمالو سره تعامل کوي په هرې موضوع کښې دمطالعې دساحې دبی سارو مشخصا تو تعریف له پاره زیارا یستل کیږی.

دعقیدو توجیه

دافادی تحلیل، دفرضیاتو تصفیه او انتقاد او داسلوب مطالعه کول ټول ځینی وخت دفلسفی په مرکزی وظیفه کښې یعنی دعقایدو توجیه کښې استخد امیږ ی د ا دفیلسوف وظیفه ده چه وپوښتی: دا په کومې موضوع پوری تعلق نیسی ؟داڅنګه توجیه کیدای شی دده په بر له څه شواهد معرفی کیداې شی میتافزیکی فلسفه په دې صورت داجسامو له حقیقی او نهائی ماهیت سره سروکار لری د معرفت او منطق نظریات د معر فت اومنطقی نتا ئجو په حقله دعقاید و له تحلیل سره ارتباط لری اخلاق اوزیبائی خوښول یا لترتیب ښه توب اوښایست احتوا کوی امکان لری په دغو باندی

دفلسفی تحقیقونو نوري څانګی لکه اکسیلوجی (دارزښت عمومی نظریې)، کوسمولوجی (هغه عقیدې چه دعالم په حقله چه دیو کل په حیث تصور شوی وی) فلسفی بشر پیژندنه (په انسانی طبیعت کښې تحقیق) اجتماعی فلسفه (اجتماعی او سیاسی عمومی تحلیل) او دمخصوصو ساحو څو فلسفی مطالعې لکه تاریخ، دین او متنوع ساینس علاوه شي. په هر حالت کښې عقیدې د مستعمله ژبې دمعنی دتحلیل په واسطه، دفرضیو دښوولو په ذریعه توضیح او دهغو اصولو دتوضیح په واسطه چه په سوالونو کښې دغو عقیدو دا ستقرار له پاره په کار وړل شوی ابتلا او ازمییل کیږی.

د معرفت ترتیب

دفلسفی څلور مفهومونه چه په تفصیل سره ذکر شول مخصوص په خپل محراق باندې دی په دې شان چه په خپلو انفرادی مطالبو او دمعرفت مخصوصو ساحو پورې ارتباط لری. دهغو په خلاف بل مفهوم د فلسفې ووظیفه دعلم ترتیب (دبیلو بیلو موضوعاتو او ترهغه پورې چه امکان واری) دیو مرتبط کل په حیث تصول کول دی. فیلسوف باید دعلم له ټولو ساحو سره آشنائی ولری او وروسته له دې هغه وکړی چه یو له بل سره په ځینو جامعو اشکالو کښې مربوط کړی. هغه باید په یوه موضوع کښې له خصوصیت خوښوونکی نه ډېر عمومیت خوښوونکی وی. دهغه وظیفه داده چه داسې کرښې وکاږی چه دعلمی موضوعاتو په منځ کښې دارتباط له پاره موجودې وی. دمختلفو مضمونو په منځ کښې ارتباط ووینې او داسې لارې پیدا کړی چه دیوې برخې مفکوری او اصول په نورو کښې تطبیق شی

په دې لحاظ دفلسفی ثمر باید د دنیا د یو عمومی نظر یا دژوندانه دمنظرې تاسیس او په متمادی ډول محدوده اعماروی دتجربونوی مواد ددې له پاره چه ولیدل شی چه موجود کلی تصویر سره څنګه موافقت کوی دامتحان کېدو احتیاج لری.

په ډیرو لوړو مختلفو ساحو کښې دلوړو تخصصی دا مواد دتجمعی عقل یو وسیعه زاید په وخت کښې به دمقنع تنظیم حصول ناممکن وی. یو سړی نشې کولای چه ډیر ولبز و ساحو کښې و کافی علمی لاس او په ټولولو و ساحو کښې لبز قدرت ولری ترا وسه پورې دعلم د تنظیم وظیفه د کوم معنی لرونکی کل په څیر ډیره جدی ده، چه ډیر فلسفی مفکرین ددې کار قبلولو ته ډیر اهمیت ورکوی هر سړی لاجرم هڅه کوی چه له خپلو تجربو ځینې یو متحده حس حاصل کړی. خو فیلسوف دا مشترکه انسانی وظیفه له عادی صورت نه په ډېر بساطت او شعوری ډول په کامل او منظم صورت قبلوی.

د فلسفی مطالعه

دفلسفی مطالعې دوه طریقی لری لومړی دیو مرکب جز په حیث په نورو ټولو مطالعو کښې. دوهم دیوې مخصوصې ساحې په حیث په دغو دوو طریقو کښې لومړی طریقه ډېره مهمه ښکاری دیوې تکنیکی مطالعې په حیث ډېر لبز کسان په فلسفی تشبثاتو کښې برخه اخلی خو څوک فلسفی سوالونه کاملا نشی پرېښودی. هغه څوک چه ډېرې عادی، او سطحی مناقشی نه لبز څه مخکښې لاړ شی خامخا فلسفی کیږی. هر هغه هڅه چه دکلمو دمعناؤ په احتیاط تعریفولو او یا دغا مضو او مبهمو جملو د تشریح له پاره صورت مومی دفلسفی تحلیل یو تطبیق وی د علم یا عمل په هره ساحه کښې داساسی پر نسیپو هر منظم تفحص فلسفی عمل دی. هره داسې مطالعه چه څرنګه علم داطمینان یا دتصدیق وړده، فلسفه د علم الاصول یا د عقیدو د توجه په حیث ده. دډېرو اساسی مفهومونو په واسطه دیوې موضوع رابطه له بلې موضوع سره فلسفه دتنظیم و ترتیب په حیث ده.

سوال دا نه دی چه آیا یو سړی فلسفی دی او که نه؟ خو د فلسفی تعمق، دقت او شمولیت مشق کوی په ایدیالی صورت باید ټول تعلیم او تربیه فلسفی شکل ولری هیڅ شی باید غیر منطقی مبهم یا بې له دی چه له فرضیو څخه حبر تیاوی درس ورنکړ شی. کله چه طرز العمل په وضاحت سره ترسیم شو نو هر فعالیت ښه زده کیږی. کوم حقیقت کومه نظریه یا کوم هنر باید درس ورنکړ شی تر څو چه داسې زیار نه وی ایستل شوی چه له نورو تجربو یا دارزښتو له نقشی سره ارتباط ورکړ شی دکوچنیانو اولیا، دقرائت، تاریخ، حساب او بل هر مضمون هر ښوونکی او هر اداره کوونکی باید په فلسفی ډول درس ورکړی او په رښتیا چه د دوی په واسطه فلسفی نظر او علاقه نوی نسل ته انتقال موندلی شی دفلسفې مطالعې ته درسی دسپلین په حیث هم احتیاج شته. دغه مطالعه دهغو فلسفی اعمالو دتنظیم او تسهیل له پاره مرسته کوی چه په هره موضوع کښې د یو مرکب جز په څیر وجود لری. مخصوصاً د فلسفی له تاریخ سره آشنائی ډېره ممده ده چه په هغو کښې مستدامې مسئلې او دهغو کلاسیک حلونه مطالعې کیږی. ددې مطالعې په واسطه امکان لری چه معاصر مشکلات له ښه نظر څخه مطالعه شی او کلاسیک اشتباهات ترک شی

KABUL

Monthly Journal of the Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on literature, Philosophy, Philology, sociology, art and related fields.

President of the Academy : Gul Pacha Ulfat

Editor : M. Hasan Kakar

Address : Pashto Academy,

Kabul, Afghanistan

دولتی مطبعه